۰۸ لارښود

د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د کلني مالیاتي اظهارلیک په اړه

منل | خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

Download from:aghalibrary.cm

د عوایدو لوی ریاست

ریاست عمومی عواید

Afghanistan Revenue Department

# فهرست


۱.د سهامي او محدودالمسوولیت شرکتونو لپاره د مالیاتي لاربښود پیژندنه..........۶
۱. ۱عمومي معلومات.............................................۶
۱.۱.۱ سریزه :..............................................۶
۱. ۱. ۲ پرعایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې نوي تعدیلات..........۷
۱. ۱. ۳اداري موضوعات.............................................۷
۱. ۱. ۳. ۱د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر..........................۷
۱. ۱. ۳. ۲ مالي کال.............................................۸
۱. ۱. ۳.۳ محرمیت.............................................۸
۱. ۱. ۴ مالیاتي معافیتونه.............................................۹
۱. ۲د اسنادو ساتنه.............................................۹
۱. ۲. ۱ اسناد ، دفترونه او سرچینه اي (منابع) اسناد..........۹
۱. ۲.۲ د اسنادو د ساتنې شرطونه..........................۱۰
۱. ۲. ۳ اضافي اسناد .............................................۱۰
۱. ۲. ۴اسنادو ته د مالیې وزارت د کارکوونکو لاس رسي..........۱۱
۱. ۲. ۵ د محاسبې میتود.............................................۱۱
۱. ۳ د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو پرعایداتو باندې مالیات........۱۲
۱. ۳. ۱ د مالیې وړ (تابع ) عوایدو تشخیصول..........................۱۲
۱. ۳. ۲ له اړوندو شخص سره معاملې انتقالي بیه ټاکنه ( انتقالي قیمت گذاري).....۱۳
۱. ۳.۳ د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول او پرعایداتو باندې د کلنۍ مالیې ورکړه ......۱۳
۱. ۳.۳. ۱کومه فورمه باید وکارول شي ؟..........................۱۳
۱. ۳.۳. دمالیاتي اظهارلیک دوړاندې کولو او دمالیاتو د ورکړې لپاره ټاکل موعد........۱۴
۱. ۳.۳.۳ د زیاتې مالیې ورکړه .............................................۱۷
۱. ۳. ۴. د مالیاتي اظهارلیک تعدیل، اعتراض (نیوکه) او عریضې..........۱۷
۱. ۴ د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو پرانتفاعي معاملو باندې مالیه..........۲۰
۱. ۴. ۱ پرخدمتونو باندې د انتفاعي معاملو ماله..........................۲۰
۱. ۴. ۲ پرانتفاعي معاملو باندې ٪ ۱۰ مالیه باید څوک ورکړي؟ ..........۲۱
۱. ۴. ۳ پرعایداتو باندې د مالیاتو په وړاندې د انتفاعي معاملو مالیې مجرایي ..........۲۲
۱. ۴. ۴ د انتفاعي معاملو ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیه..........................۲۲

۱. ۴.۴. ۱ د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ ماليې تابع ناخالص عوايد ........................ ۲۲
۱. ۴. ۵ له انتفاعي معاملو څخه معاف عوايد ........................ ۲۳
۱. ۵ تطبيقي احکم........................ ۲۴
۱. ۵. ۱ عمومي معلومات........................ ۲۴
۱. ۵. ۲ د مالياتي اداري تطبيقي صلاحيتونه........................ ۲۴
۱. ۵. ۳ پيروي نه کول ........................ ۲۶
۱. ۵. ۴ له ټاکلي وخت نه وروسته د ماليې د ورکړې له لمه جريمه ........................ ۲۶
۱. ۵. ۵ په ټاکلي وخت د مالياتي اظهارليک د نه وړاندې کولو له امله جريمه ........................ ۲۶

۲ د ماليه ورکوونکي په اړه معلومات او د بانک تحويلي فورمه ( د مالياتي اظهارليک ۱مخ )........................ ۲۷
۲. ۱ سريزه........................ ۲۷
۲. ۲ لومړۍ برخه: د ماليه ورکوونکي په اړه معلومات........................ ۲۷
۲. ۳ د ماليه ورکوونکي لپاره مهم معلومات ........................ ۲۹
۲. ۴. دريمه برخه: د بانک تحويلي فورمه........................ ۲۹
۲. ۴. ۱د ماليې د ورکړې او د مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو څرنګوالي........................ ۳۰

۳ . د ورکړې وړ ماليه او د بيان/اظهار معلومات (د مالياتي اظهارليک ۲ مخ)........................ ۳۴
۳. ۱ سريزه........................ ۳۴
۳. ۲ لومړۍ برخه: د ماليه ورکوونکي په اړه معلومات........................ ۳۴
۳.۳ دويمه برخه: د ورکړې وړ ماليې محاسبه........................ ۳۵

۴ د ماليې وړ عوايدو محاسبه ( د مالياتي اظهارليک دريم مخ )........................ ۴۷
۴. ۱ سريزه........................ ۴۷
۴. ۲ د ماليه ورکوونکي په اړه معلومات ........................ ۴۷
۴. ۳ دريمه برخه: د ماليې وړ عوايدو محاسبه........................ ۴۷
۴. ۳. ۱ د ماليې تابع عوايدو ډولونه........................ ۴۷
۴. ۳. ۲. له ماليې څخه معاف عوايد........................ ۵۹
۴. ۴ د ماليه ورکوونکي څرګندونې ........................ ۶۱

۵ د مالياتي اظهارليک بشپړول - د مجاز مجرايي محاسبه ( د مالياتي اظهارليک ۴ مخ )........................ ۶۳

سریزه.......................................................................................۶۳
۲.۵. د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات.......................................۶۳
۳.۵ څلورمه برخه : د مجاز مجرایي محاسبه ............................۶۳

لومړۍ ضمیمه: د استهلاک او لومړي جدول په اړه عمومي معلومات ( معمولي استهلاک)......................................................................................۸۴
۱.۱ سریزه...................................................................................۸۴
۱.۱.۱ الف د استهلاک له کوم جدول څخه باید کار واخیستل شي؟..........۸۴
۱.۱.۲ الف د شتمنۍ استهلاک ......................................................۸۵
۱.۲ الف د لومړي جدول د بشپړولو طریقه – معمولي استهلاک...........۹۰
۱.۲.۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات.................................۹۰
۱.۲.۲ الف معمولي استهلاک ..........................................................۹۰

دویمه ضمیمه : دویم جدو- چټک استهلاک.......................................۹۵
۲.۱ الف سریزه ............................................................................۹۵
۲.۲ الف د دویم جدول بشپړول – چټک استهلاک ..............................۹۵
۲.۲.۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات .................................۹۵
۲.۲.۲ الف چټک استهلاک ..............................................................۹۵

دریمه‌ضمیمه: دریم جدول- د انتفاعي معاملو د ٪۲ او ٪۵ مالیې پلې کول.......... ۹۷
۳.۲ الف د دریم جدول بشپړول - د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیې پلي کول او محاسبه ...........................................................................۹۸
۳.۲.۱. د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات.......................................۹۸
۳.۲.۲ الف د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیه.............................................۹۸
۳.۳.۲. د انتفاعي معاملو ٪ ۵ مالیه ................................................ ۱۰۲

څلورمه ضمیمه : څلورم جدول - د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې محاسبه او پلي کول.................................................................................... ۱۰۲
۴.۱ الف سریزه............................................................................ ۱۰۲
۴.۲ الف د څلورم جدول بشپړول- د ٪۱۰ انتفاعي معاملو مالیې پلي کول ......... ۱۰۸
۴.۲.۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات.................................. ۱۰۸
۴.۲.۲ الف د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ مالیه ........................................ ۱۰۸

پنځمه ضمیمه : پنځم جدول- د اړوندو اشخاصو عواید یا ورکړې
(انتقالي بیه ټاکنه) ........................................ ۱۱۲
۵. ۱ الف سریزه........................................ ۱۱۲
۵. ۲ الف د پنځم جدول بشپړول - د اړوندو اشخاصو عواید او ورکړې
(انتقالي بیه ټاکنه)........................................ ۱۱۳
۲. ۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات ........................................ ۱۱۳
۵. ۲. ۲ ورکړې (تادیات) او عواید........................................ ۱۱۳

شپږمه ضمیمه : هغه ورکړې یا ارقام چې بهرنۍ نمایندګۍ یا بهرني مرکزي دفتر ته د
ونډې د فرضي ګټې په توګه ورکول کیږي........................................ ۱۱۸
۶. ۱ الف سریزه........................................ ۱۱۸
۶. ۲. ۲ الف په شپږم جدول کې ورکړې یا پورونه........................................ ۱۱۹

اوومه ضمیمه : اووم جدول - په بهرکې د ورکړل شوو مالیاتو د کسراتو
محاسبه........................................ ۱۲۵
۷. ۱ الف سریزه........................................ ۱۲۵
۷. ۲ الف په بهر کې د ورکړل شوو مالیاتو د مجرایي لپاره د مجاسبې جدول
بشپړول ........................................ ۱۲۷
۷. ۲. ۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات ........................................ ۱۲۷
۷. ۲. ۲ الف د اووم جدول بشپړول - په بهرکې د ورکړل شوې مالیې
مجرایي محاسبه ........................................ ۱۲۷

اتمه ضمیمه : اتم جدول - بیلانس ........................................ ۱۳۳
۸. ۱ الف سریزه ........................................ ۱۳۳
۸. ۲ الف د اتم جدول بشپړول - بیلانس........................................ ۱۳۳
۸. ۲. ۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات........................................ ۱۳۳
۸. ۲. ۲ الف پانګه ........................................ ۱۳۴
۸. ۲. ۲. ۱ الف موجوده پانګه........................................ ۱۳۴
۸. ۲. ۲. ۲ ثابته شتمنۍ ........................................ ۱۳۶
۸. ۲. ۳ الف مکلفیتونه او پانګه ........................................ ۱۳۷
۸. ۲. ۳. ۱ الف موجوده مکلفیتونه ........................................ ۱۳۷
۸. ۲. ۳. ۲. الف ثابت مکلفیتونه ........................................ ۱۳۸

۸. ۲. ۳. ۳ الف د شرکت پانګه ........................................................ ۱۳۹

نهمه ضمیمه : نهم جدول پانګه ایزې خسارې او ګټې ................................۱۴۲
۹. ۱ الف سریزه ......................................................................۱۴۲
۹. ۲ الف نهم جدول – پانګه ایزه ګټه.............................................. ۱۴۳
۹. ۲. ۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات.................................. ۱۴۳
۹. ۲. ۲ د نهمې ضمیمې بشپړول .............................................. ۱۴۳

لسمه ضمیمه : د تلفاتو او آفاتو له درکه د منځته راغلو تاوانونو د محاسبې سند /پانه ................................................................................ ۱۵۲
۱۰. ۱ الف سریزه ....................................................................... ۱۵۲
۱۰. ۲. د تلفاتو او آفاتو له درکه د منځته راغلو تاوانونو د محاسبې سند تشریح ................................................................................ ۱۵۲

یوولسمه ضمیمه : د استهلاک د محاسبې سند ........................................ ۱۵۷
۱۱. ۱ الف د جایداد د استهلاک سند .........................................................۱۵۷

دولسمه ضمیمه : د لیږد وړ ضرر د محاسبې سند ...................................... ۱۶۲
۱۲. ۱ الف د محاسبې د سند لیږد وړ خالص عملیاتي ضرر پیژندنه ......... ۱۶۲
۱۲. ۲ د لیږد وړ ضرر د محاسبې د سند په اړه توضیحات.............................. ۱۶۹

دیارلسمه ضمیمه : د جریمې د محاسبې جدول ........................................ ۱۷۴
۱۳. ۱ سریزه ...........................................................................۱۷۴
۱۳. ۲ د جریمې د محاسبې جدول تشریح ............................................ ۱۷۵
۱۳. ۲. ۱ د جریمې محاسبه - د مالیاتي اظهارلیک نه وړاندې کول (۱۰۲ ماده) ................................................................................ ۱۷۵
۱۳. ۳. ۲. د جریمې محاسبه - په ټاکلي وخت د ورکړې وړ مالیې ورکړه (۱۰۰ ماده) ................................................................................ ۱۷۹

څوارلسمه ضمیمه : جدولونه او د سنجونې (محاسبې) اسناد .............................. ۱۸۲

# ۱. د سهامي او محدودالمسولیت شرکتونو لپاره د مالیاتي لارښود پیژندنه

## ۱. ۱. عمومي معلومات

### ۱. ۱. ۱. سریزه:

دا لارښوود د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پربنسټ عمومي معلومات وړاندې کوي او د سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونو له مالیاتي مسایلوسره تړاو لري. دا لارښوود ددغو شرکتونو د بشپړ حقوقي او تخنیکي معلوماتو یوائنۍ سرچینه نه ده او د یو حقوقي(قانوني) ماخذ په توګه ورڅخه کار نشي اخستل کیداي.

#### د سهامي شرکت تعریف :

الف - سهامي شرکت یو حقوقي نهاد دي چې لاندې ځانګړتیاوې لري:

i. د یو شرکت په نوم ثبت او راجستر شوي وي،
ii. د اسې فعالیت و نه لري چې د قانون له مخې منع وي ،
iii. داسې لومړنۍ پانګه ولري چې د ونډې د اسنادو له مخې ثابته شي ،
iv. د شرکت مالیاتي مکلفیتونه یوائې د شرکت د شتمنۍ له لیاري رفع کړل شي ،
v. د ونډه لرونکو مکلفیت د هغوی له هغو ونډو محدود وي چې په شرکت کې کارولي دي

#### د محدودالمسؤلیت شرکت تعریف :

الف- محدودالمسؤلیت شرکت یو حقوقي نهاد دي چې لاندې ځانګړتیاوې لري :

i. د یو شرکت په نوم ثبت او راجستر شوي وي،
ii. داسې لومړنۍ پانګه ولري چې د ونډې د اسنادو له مخې ثابته شي ،
iii. د شرکت مالیاتي مکلفیتونه یوائې د شرکت د شتمنۍ له لیاري رفع کړل شي ،
iv. د ونډه لرونکو مکلفیت د هغوی له هغو ونډو پورې محدود وي چې په شرکت کې یې کارولي دي، مګر داچې د شرکت اساسنامه او یا د هیواد کوم قانون یې په اړه کوم بل ځانګړي حکم ولري.

## ۱. ۱. ۲. پر عايداتو باندې د مالياتو په قانون کې نوي تعديلات

د ۱۳۸۷ لمريز کال پر عايداتو باندې د مالياتو قانون د ۱۳۸۷ کال د کب (حوت) په ۲۸ نيټه په (۹۷۶) شميره رسمي جريده کې خپور شو.

په دې قانون يو شمير نوي تعديلات منځ ته راغلي دي اما ډير شمير احکام يې د ۱۳۸۷ کال له قانون څخه چې د وخت په تيريدو سره تعديل او تبديل شوي دي ، اخستل شوي دي. ځينې دغه تعديلات په لاندې ډول دي:

i. پرمعاشونو باندې د موضوعي ماليې نوي نورم
ii. د قراردادي له ورکړو څخه د ماليې د وضع کولو مکلفيت
iii. له مالياتي قوانينو څخه د نه پيروي (اطاعت) له امله د جريمې او اضافي ماليې رقم
iv. پرواردا‌تو باندې د انتفاعي معاملو ۲ ٪ ماليه
v. د صکوک او نورو جنجالي ماليو په اړه د احکامو له منځه وړل

## ۱. ۱. ۳. اداري موضوعات

### ۱. ۱. ۳. ۱. د ماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر

ټول هغه انفرادي اشخاص، شرکتونه او مؤسسات چې د مالياتو او يا ګمرکي محصول تابع دي، مکلف دي چې د ماليه ورکوونکو د پيژندنې نمبر ترلاسه کړي. د خير ښيګڼې (خيريه) او غير انتفاعي هغه مؤسسې چې د خپلو کارکونکو له معاشونو څخه ماليه وضع کوي او هغه انفرادي اشخاص چې بانکي حاسب لري دماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر په لرلو او ياترلاسه کولو مکلف دي. هغه ماليه ورکوونکي هم بايد د ماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر ترلاسه کړي چې له ضررسره مخ دي. نوموړي اشخاص ځکه ددغه نمبر په لرلو مکلف دي چې دوي بايد کلني مالياتي اظهارليک وړاندې کړي او کيداي شي د کال په اوږدو کې نور مالياتي مکلفيتونه (لکه پرانتفاعي معاملو باندې ماليه، پرمعاشونو باندې موضوعي ماليه، پرکرايې باندې ماليه د ونډو پرګټې موضوعي ماليه او داسې نور) ولري.

که چيرې يو کس (له کوم ځانګړي عذر نه پرته) د ماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر ترلاسه نه کړي ، نوموړي پر عايداتو باندې د مالياتو قانون پربنسټ د جريمې او اضافي ماليې تابع دي.

## ۱. ۱. ۳. ۲. مالي کال

مالي کال له هجري لمريز کال څخه عبارت دې چې د وري (حمل) له لومړۍ نيټې (مارچ ۲۱) څخه پيل او د کب (حوت) په وروستۍ ورځ (مارچ ۲۰) پای ته رسيږي.

هغه حکمي اشخاص (له حقيقي اشخاصو نه پرته) چې غواړي له هجري لمريز مالياتي کال څخه پرته له کوم بل مالياتي کال څخه استفاده وکړي، د غوښتنلیک شوي بدلون په اړه بايد خپل دلايل په ليکلي توګه د ماليې وزارت ته وړاندې کړي. د ماليې وزارت به نوموړې غوښتنه يوازې د لاندې شرايطو په پام کې نيولو سره منظوره او په اړه به يې پريکړه وکړي:

- که چيرې حکمي شخص په افغانستان کې ميشت وي ولې مورني (اصلي) شرکت يې له هيواد نه بهر په داسې يو هيواد کې شتون لري چې له هجري لمريز کال نه پرته بل کال کاروي.
- که چيرې مورني نهاد له افغانستان نه بهر په بل هيواد کې د مالياتي موخو پربنسټ خپل مالياتي صورت حساب ترتيب کړي،
- په افغانستان کې د حکمي شخص مکلف کول (چې خپل مالي صورت حساب د افغانستان د مالي کال له مخې ترتيب کړي) کيداي شي ددې سبب شي چې په ماليه ورکوونکي باندې اضافي ماليه وضع شي.

درخواست کوونکي شرکت به له ماليې وزارت نه يو مکتوب ترلاسه کړي. په دې ليک به د مالياتي کال د پلي کولو نيټه اود ماليې د ورکړې نيټه چې د ماليې وزارت له خوا ټاکل شوي دي، ليکل شوي وي. د ماليې وزارت به داسې پريکړه وکړي چې ماليه ورکوونکي او دافغانستان دولت د نورو ماليه ورکوونکو د ورکړو په پرتله طرف واقع نه شي .

## ۱. ۱. ۳. ۳. محرميت

په مالياتي اظهارليک کې شامل ټول معلومات او هغه معلومات چې د عوايدو لوی رياست لخوا دماليه ورکوونکي او يا دريم شخص د اسنادو له بررسي څخه لاسته راغلي دي ، محرم ګڼل کيږي. دغه معلومات بايد له ماليې وزارت څخه بهر هيچا ته افشا نه شي مګرداچې قانون يې اجازه ورکړې وي او يا ماليه ورکوونکي اجازه ورکړي.

که چیرې یو مالیاتي کارکوونکي د شخصي ګټو د ترلاسه کولو لپاره په مستقیم یا غیرمستقیم ډول محرم معلومات افشا کړي او هغه څوک چې له نوموړي کارکوونکي سره د اسنادو په افشاء کې مرسته کوي ، پرعایداتو باندې دمالیاتوقانون له مخې نوموړي کارکوونکي او ورسره مرسته کوونکي به لویه څارنوالي ته ور وپیژندل شي.

## ۱ . ۱ . ۴. مالیاتي معافیتونه

د ۱۳۸۳ لمریز کال د چنګاښ له لومړۍ (۲۰۰۴ زیږدیز کال د جون ۲۱) نیټې نه وروسته مالیه ورکوونکي نشي کولاي مالیاتي معافیت ترلاسه کړي مګر دا چې د عوایدو لوي ریاست څخه په لیکلي ډول منظوري ترلاسه کړي البته د یو لړ شرایطو د لرلو وپه صورت کې.

که چیرې مالیه ورکوونکي د عوایدو ریاست لخوا مالیاتي معافیت هم ترلاسه کړي، هغوي مکلف دي چې پر عایداتو باندې د مالیاتو کلني اظهارلیک وړاندې کړي.

## ۱ . ۲. د اسنادو ساتنه

## ۱ . ۲ . ۱. اسناد ، دفترونه او سرچینه اي (منابع) اسناد

پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د اسنادو پرساتلو حکم کوي. ټول حکمي او حقیقي اشخاص چې د مالیې وړ عواید لري ، هغوي مکلف دي چې د خپلو ټولو معاملو ، منقولو او غیرمنقولو شتمنیو او خپلو ټولو عوایدو په اړه اسناد وساتي. ددغو اسنادو ساتل له مالیه ورکوونکي سره د مالیاتي اظهارلیک په ترتیب او برابرولو کې مرسته کوي. دا اسناد معمولاً د هغو معلوماتو خلاصه ده چې په سرچینه اي (منبع) اسنادو کې شامل دي. سرچینه اي اسناد په لاندې ډول دي - د پیرودلو (خریداري) رسیدونه، د پلور رسیدونه، قراردادونه، تضمین لیکونه، د چک کونده، د پیسو د ثبت سند ، د کریډیټ کارت د ترلاسه کولو رسید ، د پیرودلو لپاره غوښتنلیکونه، د کار موندلو لپاره غوښتنلیکونه، د وارداتو او صادراتو اسناد ، پُستي رسیدونه ، الیکترونیکي پُستې او د معاملو د تائید او ملاتړ لپاره نور ډول اسناد.

## ۱. ۲. ۲. د اسنادو د ساتنې شرطونه:

په عام ډول، هغه اسناد او دفترونه چې باید وساتل شي د عوایدو لوي ریاست لخوا نه ټاکل کیږي. مالیه ورکوونکي کولای شي له هغه سیستم څخه کار واخلي چې دده د تشبث له اهدافو او ماهیت سره برابر وي، اما عواید او لګښتونه باید په ساتل شوو اسنادو کې په سمه او څرګنده توګه وښودل شي.

د مالیه ورکوونکي اسناد باید:

- باوري او بشپړ وي،
- هغه سم معلومات ولري چې د مالیاتو او امتیازونو د محاسبې لپاره اړین دي،
- په اسنادو کې لیکل شوي معلومات د مأخذ اسنادو په ذریعه تصدیق کړي،
- په اسنادو کې شامل معلومات باید د سرچینه اي اسنادو له مخې تائید کړل شي.
- لاندې نور اسناد ولري- د مجالسو/ملاقات د ثبت یادداښتونه، حسابونه، پر عایداتو باندې د مالیاتو اظهارلیکونه، انتفاعي معاملو مالیې مالیاتي اظهارلیکونه، پر کرائې باندې دموضوعي مالیې اظهارلیکونه، ځانګړي محاسبوي اسناد چې د مالیاتي مکلفیتونو او امتیازونو په ټاکلو / معلوماتو کې مرسته کوي.

یادونه: هغه کسان چې له یو تشبث څخه زیات د څو تشبثونو فعالیتونه پرمخ وړي، هغوي مکلف دي چې د هر تشبث لپاره په جلاډول اسناد وساتي.

## ۳. ۲. اضافي اسناد:

د اسنادو دساتنې په اړه له پورتنیو یادو شوو شرطونو برسیره، د سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونه مکلف دي چې لاندې اسناد وساتي:

- د امرینو د مجالسو یادداښت (مینوټ)
- د ونډه لرونکو د مجالسو یادداښت (مینوټ)
- هغه اسناد چې د لاندې موضوعاتو په اړه پوره معلومات او یا جزئیات ولري:
  - o د پانګې د ونډې مالکیت

o ددغو ونډو هرډول ليږدونه

۱. د حسابونو د ثبت عمومي دفتر او د ثبت نور هغه وروستي دفترونه چې کلني معلومات په کې شامل وي.

- هر ډول ځانګړي قراردادونه او موافقې او يا نور هغه اسناد چې د حسابونو د عمومي دفتر او په نورو وروستيو اسنادوکې يې ثبتول اړين دي.

تشبثونه بايد هغه اسناد هم وساتي چې ددوي د اسنادو د تائيد لپاره اړين دي. دا امر په ځانګړې توګه د هغو شرکتونو په اړه د پلي کيدو وړ دي چې په نړيواله کچه معاملې (د اخته اړخونو ترمنځ معاملې) لري او په اصلي نرخ يې نه ترسره کيږي. دغه تشبثونه بايد د انتقالي بيې د نرخ معلومولو (قيمت ګذاري) اسناد او يا نور هغه اسناد چې دنا مستقلو اومستقلو نماينده ګيو د ګټو له ويش پورې اړه لري، وساتي.

## ۱. ۲. ۴. اسنادو ته د ماليې وزارت د کارکوونکو لاس رسي

دماليې وزارت کارکوونکي واک لري چې د مالياتي مکلفيتونو، بيرته ورکړو يا د اشخاصو د عوايدو د اټکل په موخه اسناد او دفترونه وګوري، بررسي يې کړي، محاسبوي اسناد، مکتوبونه، دفترونه او داسې نور چې له اړوندو اشخاصو يا دريمې ډلې سره شتونه لري، وارزوي او نقل يې ترلاسه کړي. په دريمه ډله کې شريکان، پيريدونکي، برابرونکي، مالي نهادونه، دولتي ادارې او داسې نور شامل دي.

## ۱. ۲. ۵. د محاسبې ميتود

سهامي او محدودالمسؤليت شرکتونه بايد خپل عوايد د «وروستۍ محاسبې» د ميتود له مخې محاسبه کړي. ددې ميتود له مخې عوايد اولګښت له ټاکل کيدو يا معلومولو وروسته ثبتيږي.

د «وروستۍ محاسبې ميتود» د محاسبې له هغه پيژندل شوي سيستم څخه عبارت دي چې په يوه ټاکلي وخت کې عوايد په جلا ډول او مالي حالت په دقيق ډول بيانوي .سهمامي او محدودالمسؤليت شرکتونه بايدد دوه ځلې ثبت د محاسبې له ميتود څخه کار واخلي چې د محاسبې د منل شوو اساساتو پر بنسټ کارول کيږي. په عام ډول ، د اسنادو د دوه ګوني ثبت هر ډول سيستم چې د محاسبينو د مسلکي ټولنې لخوا پيژند ل شوي وي ، د سهامي او محدود السموليت شرکتونو لپاره بايد و منل شي.

## ۱. ۳. د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو پرعایداتو باندې مالیات

د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو پر عایداتو باندې مالیات د مالیې وړ خالصو عوایدو لپاره یو ثابت نورم لري چې ٪ ۲۰ دي( ماده ۴). د مالیې وړ خالص عواید له ناخالصو عوایدو څخه د عادي او اړینو لګښتونو له کسر نه وروسته معلومیداي شي ( دویم فصل). د سهامي شرکتونو نورم پرټولو حقوقي نهادونو لکه سهامي شرکتونو، محدودالمسؤلیت شرکتونو او ټولو حقوقي نهادونو باندې تطبیقیږي.

### ۱. ۳. ۱. د مالیې وړ (تابع) عوایدو تشخیصول

د یوه شرکت د مالیې وړ (تابع ) عواید دشرکت له مجموعي عوایدو (نغدې پیسې ، شتمنۍ یا خدمتونو- منفي هرډول معافیتونه او کسرونه) څخه عبارت دي. په عام ډول، د یو شرکت ټول عواید چې له سوداګریزو او نورو اړوندو فعالیتونو( فیس،کمیشن،د تشبث له فعالیت څخه لاسته راغلي عواید ، صنعت، ساختماني چارې،د شتمنۍ له پلور څخه لاسته راغلې ګټه ، ټکټانه او د ونډې ګټه، کرایه ، حق الامتیاز، او نور ټول عواید چې له فزیکي ، پانګه ایز او اقتصادي فعالیتونو- البته په دغوپورې محدود نه دي ) څخه ترلاسه کیږي باید دمالیې وړ عوایدو په محاسبه کې شامل کړل شي. د مالیې وړ عوایدو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره **۱۵** لاربښوود ( مالیې تابع عواید او هغه عواید چې د مالیې تابع نه دي) ته مراجعه وکړی.

معافیت له هغه رقم څخه عبارت دي چې د مالیې تابع نه وي لکه هغه رقم چې له مالیې وړ رقم څخه لرې وي اوه هغه رقمونه چې په قانون کې په ګوته شوي دي او د مالیې وړ نه دي.

کسرات له هغه رقم څخه عبارت دي چې د عوایدو له مجموعي څخه د تفریق وړ وي لکه د تشبث مجاز لګښتونه ( د تشبث د پرمخ وړلو په موخه عادي او اړین لګښتونه) او نور هغه لګښتونه چې د عوایدو د تولید په موخه ترسره کیږي. د مجاز کسراتو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه **۱۲** لاربښوود ( د تشبث مجاز او غیر مجاز لګښتونه) ته مراجعه وکړی.

## ۱. ۲. ۳. له اړوند شخص سره معاملې- انتقالي بيه ټاکنه ( انتقالي قيمت ګذاري )

انتقالي بيه ټاکنه له هغې عملې څخه عبارت ده چې له مخي يې هغه نهاد چې په افغانستان کې فعاليت لري د پيرودل شوو اجناسو يا خدمتونو بيه د اړوندو اشخاصو او نهادونو لپاره (په ځانګړې توګه د بهرني نهادونو لپاره ) په مصنوعي ډول لوړوي ، يا د نوموړو اشخاصو لپاره د اجناسو او خدمتونو بيه په مصنوعي ډول را ټيټوي ترڅو له دې ليارې په افغانستان د ماليې وړ عوايدو او د ورکړې وړ ماليې کچه را ټيټه کړي.

بازاري ارزښت - که چيرې د اړوندو اشخاصو او نا اړوندو اشخاصود ورکړل شوي رقم او يا د ورکړې وړ رقم له يوبل سره توپيرولري ، ماليې وزارت ته د نا اړوندو اشخاصو لخوا ورکړل شوي او يا دورکړې وړ رقم دمنلو وړ دي.

په عام ډول ، د بازار ارزښت له هغه رقم څخه عبارت دي چې د نا اړوندو اشخاصو ترمنځ تبادله کيږي .

که چيرې د اړوندو اشخاصو ترمنځ تبادله شوي رقم د بازار له ارزښت سره سمون ولري، عوايد او کسرات د خپلواکو او نا اړوندو نهادونو ترمنځ د معاملو پربنسټ په خپل حال پاتي کيږي.

ماليه ورکوونکي بايد وکولاي شي چې د عوايدو رياست دا غوښتنه ثابته کړي چې له اړوند شخص سره معاملات بايد (لاسته راوړنې او تاديات) د بازار له ارزښت سره سم صورت ومومي.
که چيرې تاسو له يو اړوند شخص سره معامله ولرئ، تاسو نشئ کولاي چې پرعايداتو باندې دمالياتو له مختصرکلني اظهارليک نه استفاده وکړئ، ولې پرځاي يې تاسو کولاي شي چې **۵** جدول بشپړ او د سهامي او محدودالمسؤليت شرکتونو له عامه اظهارليک سره يې ضميمه کړئ (لاندې مواردو ته مراجعه وکړئ).

## ۱. ۳. ۳. د مالياتي اظهارليک وړاندې کول او پرعايداتو باندې د کلنۍ ماليې ورکړه

### ۱. ۳. ۳. ۱. کومه فورمه بايد وکارول شي ؟

د سهامي او محدو المسؤليت شرکتونو لپاره د عوايدو لوي رياست درې ډوله مالياتي فورمې ترتيب کړې دي. دا شرکتونه کولاي شي لومړۍ فورمه ( غټه فورمه) وکاروي. دويمه فورمه ( چې لږه اندازه آسانه ده) دهغو شرکتونو لپاره ترتيب شوې ده چې ساده

مالياتي وضعيت لري. دريمه فورمه د هغو شرکتونو لپاره ترتيب شوې ده چې دکال په اوږدو کې يې هيڅ فعاليت نه درلود. له لاندې جدول څخه په کار اخستنې سره مناسبه فورمه په ګوته کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | آیا د مالیاتي کال په اوږدو کې مو کوم سوداګریز فعالیت درلود؟ | ☐ | ☐ | که چیرې مو ځواب "نه" وي، راتلونکې پوښتنې ته ولاړ شئ او که چیرې مو ځواب "هو" وي، نو دریمې پوښتنې ته ولاړ شئ. |
| ۲ | آیا د تشبث د لګښت لپاره به غوښتنه وکړئ؟ | ☐ | ☐ | که چیرې مو ځواب "نه" وي، د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو مالیاتي اظهارلیک په مالیاتي دوره کې د نه فعالیت له معلوماتو سره بشپړ کړئ. که چیرې مو ځواب "هو" وي، نو راتلونکې پوښتنې ته مراجعه وکړئ. |
| ۳ | آیا له بهرنیو سرچینو څخه مو عواید درلودل؟ | ☐ | ☐ | که چیرې مو ځواب "نه" وي، راتلونکې پوښتنې ته مراجعه وکړئ او که چیرې مو ځواب "هو" وي ، د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو عامه مالیاتي اظهارلیک بشپړکړئ. |
| ۴ | آیا د پانګې له پلور څخه مو عواید ترلاسه کړي دي؟ | ☐ | ☐ | که چیرې مو ځواب "نه" وي، راتلونکې پوښتنې ته مراجعه وکړئ او که چیرې مو ځواب "هو" وي ، د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو عامه مالیاتي اظهارلیک بشپړکړئ. |
| ۵ | آیا داسې عواید لرئ چې مستقیماً ستاسو له تشبث سره تړاو نه لري؟ | ☐ | ☐ | که چیرې مو ځواب "نه" وي، راتلونکې پوښتنې ته مراجعه وکړئ او که چیرې مو ځواب "هو" وي ، د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو عامه مالیاتي اظهارلیک بشپړکړئ. |
| ۶ | آیا له اړوندو اشخاصو سره مو کومه معامله لرله؟ | ☐ | ☐ | که چیرې مو ځواب "نه" وي، راتلونکې پوښتنې ته مراجعه وکړئ او که چیرې مو ځواب "هو" وي ، د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو عامه مالیاتي اظهارلیک بشپړکړئ. |
| ۷ | آیا ضرر لرئ؟ | ☐ | ☐ | که چیرې مو ځواب "نه" وي، د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو مالیاتي اظهارلیک بشپړکړئ. او که چیرې مو ځواب "هو" وي ، د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو عامه مالیاتي اظهارلیک بشپړکړئ. |

ضررونه (خسارات) د هغې شتمنۍ له منځه تلو څخه عبارت دي چې د عوایدو د تولید ، لاسته راوړنې او ساتنې په موخه کارول کیږي. یعنې هغه ضررونه چې د اور لګیدو ، طوفان، زلزلې او نورو له امله رامنځته کیږي.

## ۳. ۳. ۲. د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو او د مالیاتو د ورکړې لپاره ټاکلي موعد (وخت/نیټه)

مالیه ورکوونکي مکلف دي چې خپل مالیاتي اظهارلیک د راتلوونکي کال د غبرګولي تر ۳۱ نیټې پورې وړاندې کړي. مالیه ورکوونکي کولای شي د کب (حوت) له ۳۱ نیټې نه د غبرګولي ا تر ۳۱ نیټې پورې په هره نیټه چې وغواړي خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې او مالیات ورکړي. مالیات باید د افغانستان بانک کې تسلیم کړل شي. دکابل ولایت اړوند مالیه ورکوونکي کولای شي خپل مالیاتي اظهارلیکونه د افغانستان په ځانګړي صندوق او یاهم د عوایدو لوي ریاست ته تسلیم کړي. د نورو ولایتونو اړوند مالیه ورکوونکي کولای شي خپل مالیاتي اظهارلیکونه محلي مستوفیت او یا محلي بانک کې تسلیم کړي.

که چیرې مالیه ورکوونکي اجازه ولري چې له لمریز مالیاتي کال نه پرته کوم بل مالیاتي کال وکاروي، د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو او دمالیې دورکړې ټاکلي موعد (وخت/نیټه) دهمغه مالیاتي کال ددریمې میاشتې وروستې ورځ ده.

د بانک تحویلي فورمه د مالیاتي اظهارلیک په څلورو برخو کې شتون لري. ډاډ باید ترلاسه شي چې د بانک تحویلي فورمه په سمه توګه بشپړه شوې او د اظهارلیک د وړاندې کولو او د مالیې دورکړې پرمهال نوموړې فورمه هم بانک ته تسلیم شوې ده. نوموړې فورمه د بانک لخوا په رسمي توګه مهرکیږي او یوه کاپي یې مالیه ورکوونکي ته ورکوي.

اشخاص کولای شي خپل مالیاتي مکلفیتونه د نورو بانکونو له لیارې هم ادا کړي او پیسې په الیکترونیکي ډول د افغانستان بانک کې د عوایدو حساب ته لیږدول کیږي ( د بریښنا له لیارې د پیسو د لیږد په اړه ۲ لارښوود ته مراجعه وکړی). په دې ډول حالاتو کې دا د مالیه ورکوونکي مسؤلیت دي چې د عوایدو لوي ریاست او یا محلي مستوفیت ته د مالیاتي اظهارلیک د رسیدو او تسلیمیدو په اړه ډاډ ترلاسه کړي. د اظهارلیک د وړاندې کولو نیټه له هغې نیټې څخه حسابیږي کله چې مسؤول کارکوونکي اظهارلیک ترلاسه کړي.

هغه مالیه ورکوونکي چې دورکړې وړ مالیې نه لري ( یا فعالیت نه لري او یا متضرر شوي دي) ، هغوي باید خپل اظهارلیکونه په مستقیمه توګه د عوایدو لوي ریاست او یا محلي مستوفیت ته وړاندې کړي.

## ۱. ۳. ۳. ۳. د زياتې مالیې ورکړې

که چیرې د زیاتې مالیې د ورکړې دعوا یا د محکمې فیصله د مالیې وزارت لخوا تائید شي، د عوایدو لوي ریاست هغه کارکوونکي چې د اړوندې دوسیې مسؤلیت په غاړه لري د گمرکونو له لوي ریاست سره په تماس کې کیږي او د مالیه ورکوونکي د گمرکي پورونو په اړه ورڅخه معلومات غواړي. په لومړي قدم کې د مالیاتو او گمرکي محصول پورونه له زیاتو ورکړل شوو پیسو څخه کسرکیږي او پاتې رقم د مالي اعتبار په توگه د مالیه ورکوونکي د راتلوونکي مالیاتي مکلفیتونو په بدل کې ساتل کیږي.

## ۱. ۳. ۴. د مالیاتي اظهارلیک تعدیل، اعتراض (نیوکه) او عریضې

که چیرې مالیه ورکوونکي خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړئ، په اظهارلیک کې ترسره شوې محاسبه د ابتدایي مالیې د ټاکنې په توگه منل کیږي. د مالیاتي اظهالیک فورمه هم د ابتدایي مالیې د ټاکلو د یادداښت په توگه گڼل کیږي.

د مالیې د ټاکلو یادښت کیداې شي چې د مالیې وزارت لخوا په هرحالت کې صادر شي. د بیلگې په توگه په لاندې حالاتو کې: که چیرې ډاډمن شي چې په اظهارلیک کې دقیق او سم مالیات نه دي ښودل شوي، که چیرې مالیه ورکوونکي مالیاتي اظهارلیک بشپړ او وړاندې نه کړي، کله چې د مالیې وزارت په دې ډاډمن شي چې د ورکړې وړ مالیاتو لاسته راوړل له خطر سره مخ دي او داسې نور.

که چیرې مالیه ورکوونکي په دې ډاډمن شي چې د مالیاتو محاسبه شوي رقم سم نه دي، نوموړي کولاې شي د اظهارلیک د بیاکتنې په اړه خپل غوښتنلیک وړاندې کړي. که چیرې مالیه روکوونکي د عوایدو لوي ریاست له پریکړې سره موافق نه وي، نوموړي باید خپل اعتراض لیک د مالیې وزارت ته وړاندې کړي.

د مالیه ورکوونکي اعتراض (نیوکه) د اعتراضونو د بررسي د هیئت لخوا بررسي کیږي. کیداې شي نوموړي هیئت اعتراض تائید کړي ، یایې په بشپړه توگه او یا یې ځینې برخې تعدیل کړي.

که چیرې مالیه ورکوونکي د بررسي د هیئت له پریکړې سره موافق نه وي، نوموړي کولاې شي خپل اعتراض محکمې ته وړاندې کړي او په دې اړه د محکمې پریکړه به وروستۍ پریکړه وي.

د بشپړ شوي اظهارليک په اړه د بياکتنې د غوښتنې د وخت، د اعتراضونو، د اعتراضونو د ځوابونو او محکمې ته د درخواست کولو په اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د ۱۳۸۷ کال پرعايداتو باندې د مالياتو قانون او ددې قانون د تعليماتنامې ۸۹ مادې ته مراجعه وکړئ.

## ۳. ۲. ۳. د مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو او د مالياتو د ورکړې لپاره ټاکلې موعد (وخت/نيټه)

ماليه ورکوونکي مکلف دي چې خپل مالياتي اظهارليک د راتلوونکي کال د غبرګولي تر ۳۱ نيټې پورې وړاندې کړي. ماليه ورکوونکي کولاي شي د کب (حوت) له ۳۱ نيټې نه د غبرګولي ا تر ۳۱ نيټې پورې په هره نيټه چې وغواړي خپل مالياتي اظهارليک وړاندې او ماليات ورکړي. ماليات بايد د افغانستان بانک کې تسليم کړل شي. د کابل ولايت اړوند ماليه ورکوونکي کولاي شي خپل مالياتي اظهارليکونه د افغانستان په ځانګړي صندوق او ياهم د عوايدو لوي رياست ته تسليم کړي. د نورو ولايتونو اړوند ماليه ورکوونکي کولاي شي خپل مالياتي اظهارليکونه محلي مستوفيت او يا محلي بانک کې تسليم کړي.

که چيرې ماليه ورکوونکي اجازه ولري چې له لمريز مالياتي کال نه پرته کوم بل مالياتي کال وکاروي، د مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو او د ماليې دورکړې ټاکلي موعد (وخت/نيټه) دهمغه مالياتي کال ددريمې مياشتې وروستې ورځ ده.

د بانک تحويلي فورمه د مالياتي اظهارليک په څلورو برخو کې شتون لري. ډاډ بايد ترلاسه شي چې د بانک تحويلي فورمه په سمه توګه بشپړه شوې او د اظهارليک د وړاندې کولو او د ماليې دورکړې پرمهال نوموړې فورمه هم بانک ته تسليم شوې ده. نوموړې فورمه د بانک لخوا په رسمي توګه مهرکيږي او يوه کاپي يې ماليه ورکوونکي ته ورکوي.

اشخاص کولاي شي خپل مالياتي مکلفيتونه د نورو بانکونو له لياري هم ادا کړي او پيسې په اليکترونيکي ډول د افغانستان بانک کې د عوايدو حساب ته ليږدول کيږي ( د بريښنا له لياري د پيسو د ليږد په اړه ۲ لارښوود ته مراجعه وکړئ). په دې ډول حالاتو کې دا د ماليه ورکوونکي مسؤليت دي چې د عوايدو لوي رياست او يا محلي مستوفيت ته د مالياتي اظهارليک د رسيدو او تسليميدو په اړه ډاډ ترلاسه

کړي. د اظهارليک د وړاندې کولو نيټه له هغې نيټې څخه حسابيږي کله چې مسؤول کارکوونکي اظهارليک ترلاسه کړي.

هغه ماليه ورکوونکي چې دورکړې وړ ماليې نه لري ( يا فعاليت نه لري او يا متضرر شوي دي) ، هغوي بايد خپل اظهارليکونه په مستقيمه توګه د عوايدو لوي رياست او يا محلي مستوفيت ته وړاندې کړي.

## ۱. ۳. ۳. ۳. د زياتې ماليې ورکړې

که چيرې د زياتې ماليې د ورکړې دعوا يا د محکمې فيصله د ماليې وزارت لخوا تائيد شي، د عوايدو لوي رياست هغه کارکوونکي چې د اړوندې دوسيې مسؤليت په غاړه لري د ګمرکونو له لوي رياست سره په تماس کې کيږي او د ماليه ورکوونکي د ګمرکي پورونو په اړه ورڅخه معلومات غواړي. په لومړي قدم کې د ماليات او ګمرکي محصول پورونه له زياتو ورکړل شوو پيسو څخه کسرکيږي او پاتې رقم د مالي اعتبار په توګه د ماليه ورکوونکي د راتلوونکي مالياتي مکلفيتونو په بدل کې ساتل کيږي.

## ۱. ۳. ۴. د مالياتي اظهارليک تعديل، اعتراض (نيوکه) او عريضې

که چيرې ماليه ورکوونکي خپل مالياتي اظهارليک وړاندې کړئ، په اظهارليک کې ترسره شوې محاسبه د ابتدايي ماليې د ټاکنې په توګه منل کيږي. د مالياتي اظهاليک فورمه هم د ابتدايي ماليې د ټاکلو د يادداښت په توګه ګڼل کيږي.

د ماليې د ټاکلو يادښت کيداې شي چې د ماليې وزارت لخوا په هرحالت کې صادر شي. د بيلګې په توګه په لاندې حالاتو کې : که چيرې ډاډمن شي چې په اظهارليک کې دقيق او سم ماليات نه دي ښودل شوي، که چيرې ماليه ورکوونکي مالياتي اظهارليک بشپړ او وړاندې نه کړي، کله چې د ماليې وزارت په دې ډاډمن شي چې د ورکړې وړ ماليات و لاسته راوړل له خطر سره مخ دي او داسې نور.

که چيرې ماليه ورکوونکي په دې ډاډمن شي چې د ماليات و محاسبه شوي رقم سم نه دي، نوموړي کولاې شي د اظهارليک د بياکتنې په اړه خپل غوښتنليک وړاندې کړي. که چيرې ماليه روکوونکي د عوايدو لوي رياست له پريکړې سره موافق نه وي، نوموړي بايد خپل اعتراض ليک د ماليې وزارت ته وړاندې کړي.

د مالیه ورکوونکي اعتراض (نیوکه) د اعتراضونو د بررسي د هیئت لخوا بررسي کیږي. کیداي شي نوموړي هیئت اعتراض تائید کړي ، یایې په بشپړه توګه او یا یې ځینې برخې تعدیل کړي.

که چیرې مالیه ورکوونکي د بررسي د هیئت له پریکړې سره موافق نه وي، نوموړي کولاي شي خپل اعتراض محکمې ته وړاندې کړي او په دې اړه د محکمې پریکړه به وروستۍ پریکړه وي.

د بشپړ شوي اظهارلیک په اړه د بیاکتنې د غوښتنې د وخت، د اعتراضونو، د اعتراضونو د ځوابونو او محکمې ته د درخواست کولو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون او ددې قانون د تعلیماتنامې ۸۹ مادې ته مراجعه وکړۍ.

## ۱. ۴. د سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو پر انتفاعي معاملو باندې مالیه.

### ۱. ۴. ۱. پرخدمتونو باندې د انتفاعي معاملو مالیه

پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پربنسټ، تشبثونه د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې تابع دي (پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون ۶۲ ماده).

۱. هغه هوټلونه چې غوره (عالي) خدمتونه وړاندې کوي
۲. هغه رسټورانټونه چې غوره (عالي) خدمتونه وړاندې کوي
۳. مخابراتي خدمتونه
۴. د هوايي چلند خدمتونه

**تعریفونه ( ۶۲ ماده ):**

د هوټل خدمتونه – د مؤقت وخت لپاره په هوټل کې اوسیدونکو اشخاصو ته د خوب ځاي برابرول، د ډوډۍ، څښاک، جامو وینځلو، او مخابراتي خدمتونو یا اسانتیاو برابرول د هوټل له خدمتونو څخه عبارت دي.

د رسټورانټ خدمتونه- د خوراک او څښاک برابرول د هغو بنسټونو لخوا چې په عاجله توګه په کې مراجعینو ته خوراک برابریږي، د پاخه شوي خوراکونو رسول/لیږدول، یاد رسټورانټ په احاطه کې د پاخه شوو خوراکونو پلورل د رسټورانټ له خدمتونو څخه عبارت دي.

مخابراتي خدمتونه- د مخابراتي خدمتونو يا د انټرنټي خدمتونو د برابرونکو شرکتونو لخوا د ټيلفون (ډيجيټل يا انالوګ) فکس يا د معلوماتو ليږد او له مختلفو لياروڅخه انټرنټ ته د لاس رسي د اسانتياوو برابرول له مخابراتي خدمتونو څخه عبارت دي.

د هوايي کرښو خدمتونه- له هغو مسافر وړونکو خدمتونو څخه عبارت دي چې د پرواز پيل/مبدا يې افغانستان وي.

## ۱. ۴. ۲. پر انتفاعي معاملو باندې ٪ ۱۰ فيصده ماليه بايد څوک ورکړي؟

هغه سهامي او محدودالمسؤليت شرکتونه (او ټول حکمي اشخاص) چې تشبث يې له څلورو کتګوريو څخه له يوې کتګورۍ پورې تړاو لري ، هغوي مکلف دي چې د ٪ ۱۰ نورم پربنسټ د انتتفاعي معاملو ماليې اظهاريک په هرو درې مياشتو کې بشپړ او وړاندې کړي.

## مالياتي نورمونه

## مخابراتي او د هوايي کرښو خدمتونه

د مخابراتي او هوائي کرښو خدمتونو د ماليې نورم ٪ ۱۰ دي (له دغو خدمتونو څخه د حقيقي او حکمي اشخاصو پر لاسته راغلو مجموعي عوايدو باندې وضع کيږي). که ماليه ورکوونکي پرمراجعينو باندې ماليه وضع کړي وي او کنه، دغه نورم د پلي کيدو وړ دي.

## رسټورانټونه، هوټلونه او ميلمستونونه

د هغو رسټورانټونو، هوټلونو او ميلمستونونو (چې مياشتني عوايد يې له ۷۵۰۰۰۰ افغانيوڅخه لږ وي ) د مجموعي عوايدو پرسر مالياتي نورم ٪ ۲ دي. که چيرې دغه عوايد ۷۵۰۰۰۰ افغانيو ته ورسيږي او له دې څخه زيات شي، نو مالياتي نورم ۵ فيصدو ته لوړيږي. هغه ستر رسټورانټونه او هوټلونه چې غوره او لوړ خدمتونه وړاندې کوي، هغوي د انتفاعي معاملو ماليې د ۱۰ فيصد نورم تابع دي.

يادداښت: کلپونه او تالارونه (لکه د ودونو تالارونه) د دوي د مجموعي عوايدو له درکه د انتفاعي معاملو ماليې د ۵ فيصده نورم تابع دي.

## ۱. ۴. ۳. پرعايداتو باندې د مالياتو په وړاندې د انتفاعي معاملو ماليې مجرايي

دا چې د تشبث د چارو پرمخ وړلو په موخه د انتفاعي معاملو ورکړل شوې او يا د ورکړې وړ ماليه د عادي او اړين لګښت په توګه ګڼل کيږي، پرعايداتو باندې د مالياتو دمحاسبې پرمهال دعوايدو له مجموعې څخه د کسر وړ دي ( ۲۷ ماده).

د دې مالياتو په اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره دريم لارښوود (پرخدمتونو باندې د انتفاعي معاملو ماليه) ته مراجعه وکړې.

## ۱. ۴. ۴. د انتفاعي معاملو ٪ ۲ او ٪ ۵ ماليه

د انتفاعي معاملو ماليه پرلاندې ناخالصو عوايدو باندې د پلي کيدو وړ ده :

۱. کميشن، فيس، د ونډې ګټه، کرايه، حق الامتياز او نور ورته عوايد.

۲. مواد، تجهيزات، خدمتونه، ټرانسپورټ او ساختماني چارې چې د يو قرارداد پربنسټ برابريږي

۳. د بيمې له حق څخه لاسته راغلي عوايد

۴. د عامه تفريح ځايونو د ټکټ پلور ( سينما ، نندارتونونه، کنسرټونه، سپورټ او داسې نور)

۵. اجناسو، محصولاتو، پانګې او نورو خدمتونو پلور

۶. واردات

### ۱. ۴. ۴. ۱. د انتفاعي معاملو د ۲ فيصده ماليې تابع ناخالص عوايد

هغه اجناس او خدمتونه چې د حکمي اشخاصو لخوا برابريږي او د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ او ٪ ۱۰ نورم تابع نه دي، د ناخالصو سرجمع عوايدو پرسر د ۲ فيصده انتفاعي معاملو ماليې تابع ګرځي. ځانګړي عوايد د انتفاعي معاملوله ماليې څخه جلاکيږي ( ددې لارښوود ۱. ۴. ۵. برخې ته مراجعه وکړې).

يادداښت: ناخالص عوايد د يوه کال په جريان کې (د هرډول کسراتونه وړاندې) له مجموعي عوايدو څخه عبارت دي.

د اجناسو وارد کوونکي د وارد شوو اجناسو د تماشوې بيې ( د ګمرکي محصول په شمول) له درکه د ۲ فيصده انتفاعي معاملومالیې تابع دي. د وارداتو له درکه چې د انتفاعي معاملو کومه ماليه ورکول کيږي داسې ګڼل کيږي چې ګويا د انتفاعي معاملو ماليه دمخه ورکړ شوې ده.

هغه رستورانتونه، هوټلونه او ميلمستونونه چې په مياشت کې ۷۵۰۰۰۰ افغانۍ عوايد لري، د ناخالصو عوايدو د مجموعي له درکه د ۵ فيصده انتفاعي معاملو ماليې تابع ګرځي.

د کلپونو، د محافلو د تالارونو عوايد( د ناخالصوعوايدومجموعه) هم د ۵ فيصده انتفاعي معاملو ماليې تابع دي.

## ۱. ۴. ۵ له انتفاعي معاملو څخه معاف عوايد

۱. د ټکټاني له درکه لاسته راغلي عوايد
۲. د اسعارو د تبادلې، د بانکي حساب د فعاليت او د اماناتو د معاملو له درکه سپما، د چک يا ضمانت ليک صادرول، د پور برابرول، د تدريجي کريډټ ورکړه
۳. په راتلونکې کې او په ټاکلې نيټه د موکل نغدي قرارداد
۴. راتلونکي ته د موکل د قرارداد ځنډول يا په قرارداد کې د شاملو اجناسو فزيکي ليږدونه. د هرډول بيمې او يا نوې بيمې د برابرولو له درکه د بيمې حق
۵. د ونډې هغه ګټه چې د سهامي، محدود المسؤليت او تضامني شرکت د ونډه لرونکو لخوا د ونډې يا د شراکت له ټکټاني څخه اخستل کيږي.
۶. د اجناسو او خدمتونو له صادرولو څخه لاسته راغلي عوايد
۷. ددې قانون په ۱۷ يا ۴۲ ماده کې د شاملو خدمتونو له وړاندې کولو څخه لاسته راغلي عوايد
۸. حقيقي شخص ته د ميشت ځاي د کرايې يا اجارې له درکه لاسته راغلي عوايد په دې شرط چې په مالياتي کال کې مستأجر له دې ځاي څخه له ۶ شپږو مياشتو څخه د زيات وخت لپاره د خپل استوګنځي په توګه کار اخستي وي.
۹. له خپل عادي سوداګريز فعاليت څخه بهرپر حقيقي شخص باندې د جايداد له پلور څخه لاسته راغلي عوايد. د حقيقي شخص پلور هغه وخت له سوداګريز فعاليت څخه بهر ګڼل کيږي چې دا ډول پلور په منظمه او دوام داره توګه صورت ونه مومي.

## ۱. ۵. تطبيقي احکام

### ۱. ۵. ۱. عمومي معلومات

ماليات ددې لپاره جمع کيږي تر څو دولت په دې وتوانيږي چې د افغانستان وګړو ته د پوهنې ، روغتيا، زيربنا او امينت په چاروکې اړين خدمات وړاندې کړي .که چيرې ټول وګړي/ هرکس خپله ماليه ورکړي، په بدل کې به ورته ښه او مناسب خدمات وړاندې کړل شي. هغه ماليه ورکوونکي چې دخپلو مالياتي مکلفيتونو په ادا کولو کې بې پروايي کوي ( لکه د خپل ځان او تشبث نه راجسترکول ، د مالياتي اظهار ليک نه ترتيبول او د ماليې نه ورکول )په حقيقت کې دغه کسان له خپل هيواد او هيوادوالو سره جفا کوي.

د عوايدو لوي رياست قانوني مکلفيت لري چې د ماليې سم رقم معلوم/وټاکي اوله ماليه ورکوونکو څخه يې ترلاسه کړي. د عوايدو لوي رياست کارکوونکي چې د ماليې وزارت استازيتوب کوي) مکلف دي چې له خپل واک سره سم مالياتي قوانين پلي کړي ترڅو د هيڅ ځانګړي ماليه ورکوونکي ملاتړ ونشي او د هيچا په وړاندې تبعيضي چلند ونشي.

د ۱۳۸۷ لمريز کال پر عايداتو باندې د مالياتو قانون په دې موخه تعديل شو دي چې د ماليې وزارت ته ټول هغه اجرايوي اختيارات چې د مالياتو د راټولولو لپاره اړين دي ، ورکړل شي.

### ۱. ۵. ۲. د مالياتي ادارې تطبيقي صلاحيتونه

د ۱۳۸۷ لمريز کال پر عايداتو باندې د مالياتو په قانون کې د مالياتي ادارې د تطبيقي واک په اړه احکام شته دي. ځينې دغه بدلونونه په لاندې ډول دي:

- د ماليې ټاکل- ماليې وزارت د قصدي او غير قصدي اشتباهاتو د تصحيح په موخه د ماليې د ټاکلو يادداښت تعديل کولاي شي .که چيرې مالياتي اظهارليک وړاندې نه شي، نو په دې صورت کې د ماليې وزارت د تخميني عوايدو پر بنسټ پر عايداتو باندې د مالياتو دټاکنې په اړه يو سند صادروي (دزياتو معلوماتو لپاره د ۱۳۸۷ کال پرعايداتو باندې د مالياتو قانون ۸۷ مادې ته مراجعه وکړئ).
- شتمنۍ ته پرلاس رسي باندې دمحدوديت وضع کول- د ماليې وزارت حق لري چې د پلور په موخه د منقولو او غير منقولو شتمنيو پرکاروني محدويت وضع کړي، شتمني په خپل واک کې راولي او يا شتمنۍ ضبط

کړي. البته د ماليې وزارت دا اجراات هغه وخت کولای شي چې د محکمې لخوا منظوري ترلاسه کړي (د زياتو معلوماتو لپاره د ۱۳۸۷ کال پرعايداتو باندې د مالياتو قانون ۹۷ مادې ته مراجعه وکړئ.

- د يو تشبث د ونډه لرونکو او اداري چارواکو مکلفيتونه - په ځينو ځانګړو شرايطو کې د ماليې وزارت د تشبث هغه ماليات چې نه يې دي ورکړي د نومړي تشبث له چارواکو، ونډه لرونکو او له هغې دريمې ډلې څخه ترلاسه کوي چې له نومړي تشبث څخه ئي شتمنئ لاسته راوړې ده،
- له دريمې ډلې څخه د ماليې لاسته راوړل - د ماليې وزارت اختيار لري چې له دريمې ډلې څخه د ماليې د لاسته راوړلو په موخه حکم صادر کړي. له دريمې ډلې څخه لاندې اشخاص مطلوب دي: پيرودونکي (مشتريان يا مراجعين)، مالي نهادونه، استخدام کوونکي، مستأجرين او داسې نور (د ۱۳۸۷ کال پرعايداتو باندې دمالياتو قانون ۹۲ مادې ته مراجعه وکړئ).
- له هيواد څخه د وتلو مخنيوي حکم- د ماليې وزارت کولای شو دهغو کسانو د هيواد نه د نه وتلو په اړوند له اړوندو واک لرونکو ادارو څخه وغواړي. له هيواد څخه د وتو په مخنيوي کې لاندې کسان شامليداي شي (د شرکت رئيس ، د شرکت ونډه لرونکي او دريم شخص) البته په هغه صورت کې چې ۲۰۰۰۰ افغانيو څخه زيات مالياتي پور ولري او غواړي چې له هيواد څخه بهر ووزي.
- په موقتي ډول د تشبث بندول - که چيرې يو شخص مالياتي اظهارليک وړاندې نه کړي، په ټاکلي وخت خپلې ماليې ور نه کړي او يا يې مالياتي مکلفيتونه (پرکرائې باندې ماليه، پرمعاشونو باندې ماليه، د ونډو ګټې، حق الامتياز د قراردادونو موضوعي ماليه او داسې نور) له نورو اشخاصو څخه ترلاسه نه شي،د نومړي د تشبث د بندولو حکم صادريږي او دا حکم به ترهغه وخته پورې نافذ وي ترڅو چې دا شخص خپل مالياتي مکلفيتونه نه وي ادا کړي (د زياتو معلوماتو لپاره د ۱۳۸۷ کال پرعايداتو باندې د مالياتو قانون ۹۵ مادې ته مراجعه وکړئ).
- د جواز نه ورکول/ نه صادرول– که چيرې يو ماليه ورکوونکي د ذمت خپل ماليه تر ټاکلې نېټې پورې ور نه کړي او له مالياتي قوانينو څخه پيروي ونه کړي، د ماليې وزارت د يوه ليک له لیارې له ټولو هغو وزارتونو او دولتي ادارو څخه چې دد جواز په ورکولو او نوي کولو کې کار کوي غواړي چې د سرغړونکو ماليه ورکوونکو ته ترهغه پورې جواز ورنه کړي او نه يې جواز نوي کړي ترڅو يې چې خپل مالياتي مکلفيتونه نه وي ادا کړي.

## ۱. ۴. ۳. پیروي (اطاعت پذیري) نه کول

د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون له قوانینو څخه د مالیه ورکوونکي د نه پیروي په اړه د اضافي مالیو، جریمو او یا د حبس د سزاګانو د پلي کولو په اړه حکم کوي. دا سزاګاني په لاندې حالاتو کې د پلي کیدو وړ دي:

۱. د اسنادو او دفترونو نه ساتل او په اختیارکې د هغوي نه ورکول،
۲. د مالیاتي اظهارلیک او بیلانس نه وړاندې کول،
۳. له قانون سره سم د مالیې نه وضع کول (لکه کرایې، د ونډې له ګټې، ټکټاني، حق الامتیاز، اجورو، معاشونو، قراردادونو او داسې نورو څخه د مالیې نه وضع کول).
۴. دمالیې نه ورکول
۵. د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر نه ترلاسه کول
۶. له مالیې څخه تیښته
۷. د مالیاتي کارکوونکو ناوړه کړنې- د محرمو اسنادو افشاء کول او له خپل وظیفوي موقف څخه ناوړه ګټه پورته کول

## ۱. ۴. ۴. له ټاکلي وخت نه وروسته د مالیې د ورکړې له امله جریمه

که چیرې یو مالیه ورکوونکي خپله مالیه په ټاکلي وخت ور نه کړي، د یوې ورځې پرسر د ۱۰،۰ فیصده اضافي مالیې تابع ګرځي (د زیاتو معلوماتو لپاره ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون ۱۰۰ مادې ته مراجعه وکړی).

## ۱. ۴. ۵. په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولو له امله جریمه

که چیرې یو حکمي شخص له کوم سم او قناعت کوونکي دلیل نه پرته ددې قانون د احکامو له مخې مالیاتي اظهارلیک په خپل ټاکلي وخت او زمان کې وړاندې نه کړي، نوموړي مکلف دي چې دهرې ورځې په تیریدو سره ۵۰۰ افغانۍ د اضافي مالیې په توګه ورکړي. د رخصتۍ ورځې له دې امرڅخه مستثني دي (د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون ۱۰۲ مادې ته مراجعه وکړی).

## ۲. دمالیه ورکوونکي په اړه معلومات او د بانک تحویلي فورمه (دمالیاتي اظهار لیک لومړي مخ)

### ۲. ۱. سریزه

د فورمې دغه برخه دمالیه ورکوونکي او د بانک د تحویلي فورمې په اړه د معلوماتود ترلاسه کولو په موخه کارول کیږي. د مالیه ورکوونکي معلومات په بانک کې د مالیې دورکړې د وخت د معلومولو او دمالیه ورکوونکي د پیژندنې لپاره کارول کیږي.

د مالیاتي اظهارلیک د ټولو برخوله بشپړولو نه وروسته، دټولو پاڼو آسماني رنګه پاڼه ( له دې پاڼې نه پرته ) له ځان سره وساتئ. د مالیې د ورکولو پرمهال ، د بانک مسؤل شخص د هرې فورمې لومړی مخ (پاڼه) مهر کوي او له مهر کولو نه وروسته د فورمې آسماني رنګه پاڼه دلیکلي سند په توګه مالیه ورکوونکي ته ورکوي. مالیه ورکوونکی باید دغه سند د مالیاتي اظهارلیک له نورو پاڼو سره یو ځای کړي او په خپلو مالي سندونوکې یې وساتي.

د مالیاتي اظهار لیک دلومړي مخ د بشپړولو لپاره لاندې لارښوونې تطبیق کړئ. نا بشپړ او یا ناسم معلومات د مالیاتي اظهارلیک طي مراحل ځنډوي.

### ۲. ۲. لومړۍ برخه : د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د پیژندنې په اړه معلومات شتون لري .

**۱- کرښه – د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر**

په مالیاتي اظهارلیک کې د سهامي او یا محدود المسؤلیت شرکت د پیژندنې نمبر ولیکئ. د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر لس عدده لري چې مالیه ورکوونکي یې د غوښتنې په بدل کې د عوایدو له لوي ریاست څخه ترلاسه کوي.

**۲- کرښه - د مالیه ورکوونکي نوم**

په دې کرښه کې خپل هغه نوم ولیکئ چې د مالیه ورکوونکي د پیژندنې د نمبر د ثبت په فورمه کې لیکل شوي دې.

**۳- کرښه - د مالیه ورکوونکي پته**

په دغه کربښه کې د هغه سوداګریز فعالیت د ځای پته درج کړئ چې دننه په افغانستان کې موقعیت لري او اقتصادي فعالیتونه په کې ترسره کیږي. د سرک نوم او نمبر، کل یا ناحیه، ولایت او ولسوالۍ هم درج کړي.

## ۴- کرښه- ارتباطي کس

په دې کرښه کې د هغه کس نوم ولیکۍ چې ستاسو لخوا را پیژندل شوي دي.

## ۵- کرښه - د ټلیفون شمیره

په دې کرښه کې د مالیه ورکوونکي یا د ارتباطي کس د ټلیفون رسمي شمیره ولیکۍ.

## ۶- کرښه – د بریښنالیک پته

په دې کرښه کې د مالیه ورکوونکي یا د ارتباطي شخص د بریښنالیک رسمي پته ولیکۍ.

## ۷ کرښه - عمده فعالیت او اتمه کرښه - د عمده فعالیت کوډ

دا هغه عمده اقتصادي فعالیت دي چې له درکه یې تاسې په زیاته پیمانه عواید لاسته راوړي. له لاندې یاد شوو فعالیتونو څخه له یوۀ څخه کار واخلي.

په اوومه کرښه کې باید ستاسې د عمده فعالیتونو توضیحات ولیکل شي.

په اتمه کرښه کې باید اړوند درې عددي کوډ ولیکل شي.

| کوډ | توضیحات |
|---|---|
| ۰۰۱ | کرهڼه (کرنه ، د ځنګل روزنه، کب نیونه) |
| ۰۰۲ | د هوائي ټرانسپورټ شرکتونه |
| ۰۰۳ | د ګړندي موټرو او موټرو سایکل پلورل، ترمیم، د پرزو او سونګ موادو پلورل |
| ۰۰۴ | د تعمیراتي موادو (لکه تختې، برقي سامان آلات، نلدواني، د نصب کولو لوازم او داسې نورو د موادو) د پلور په ګډون ساختمان / ساختماني فعالیتونه. |
| ۰۰۵ | د ګمرک کمیشن کاران |
| ۰۰۶ | د بهرنیو هیوادونو سفارتونه |
| ۰۰۷ | د طبعي ګاز او خامو نفتو استخراج ، د کشف او نور اړوند خدماتي فعالیتونه |
| ۰۰۸ | د بانکداري، بیمې، سپما ، پور او داسې نورو په ګډون د مالي سکتور فعالیتونه |
| ۰۰۹ | عمومي صنایع /صنایع چې په بل ځای کې نه دي مشخص شوي |

| | |
|---|---|
| ۰۱۰ | د اجناسو هغه پرچون پلورنه او عمده پلورنه چې په بل ځای کې نه دي مشخص شوي |
| ۰۱۱ | هوټلونه /رستورانتونه |
| ۰۱۲ | سیمه ایز او دولتي اداري |
| ۰۱۳ | استخراجي فعالیتونه ، تفحصي فعالیتونه |
| ۰۱۴ | د منرالونو ، د جواهرو کانو او د کشفولوفعالیتونواوداسې نورو په ګډون د معدن د استخراج فعالیتونه ( د تیلو او ګاز له خدمتونو څخه پرته ) |
| ۰۱۵ | صرافان، د اسعارو تبادله |
| ۰۱۲ | نا دولتي موسسې |
| ۰۱۷ | رستورانتونه، سماورونه |
| ۰۱۸ | د انترنټي خدمتونو د وړاندې کوونکو په ګډون د مخابراتي خدمتونو وړاندې کوونکي |
| ۰۱۹ | د اوبدلو صنایع ( غالۍ اوبدل، د تکې اوبدل، د ټوکر جوړول ) |
| ۰۲۰ | د عراده جاتو کرایه ( د ګړندي موټر،موټر سایکل، چورلکو او الوتکو کرایه ) |
| ۰۲۱ | نور هغه اقتصادي فعالیتونه چې په بل ځای کې نه دي تشریح شوي . |

## ۳ . د مالیه ورکوونکو لپاره مهم معلومات

هغه مهم معلومات چې تاسو باید ورڅخه خبر اوسۍ د مالیاتي اظهارلیک په لومړي مخ کې لیکل شوي دي او تاسو باید دا معلومات په ځیرسره ولولۍ.

## ۲ .۴. دریمه برخه : د بانک تحویلي فورمه

په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د ذمت مالیې رقم لیکل کیږي. دا رقم له هغه رقم سره معادل دي چې د اظهارلیک د ۲۰۰ کرښې د دویم مخ په دویمه برخه کې لیکل شوي دي. که چیرې مالیه له مجموعي رقم لږ تادیه کړل شي او د مالیې مجموعي رقم تر ټاکلي وخت پورې تایده نه کړل شي، په دغه صورت کې جریمه د پلي کیدو وړده .

ددې لارښوود د عمومي معلوماتو ۱ . ۳ برخه د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې او د مالیې د ورکړې په اړه معلومات لري.

د مالیاتي اظهارلیک ټولې برخې باید بشپړې شي او د فورمې د هرې پاڼې آسماني رنګه پاڼه ( له لومړۍ پاڼې او د بانک له تحویلي فورمې نه پرته ) له ځان سره وساتئ.

**د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر**

د پېژندنې خپل نمبر درج کړي. دغه نمبر هغه ۱۰ عددي نمبر ته ورته دې ددې مخ په لومړۍ برخه کې مو درج کړي دئ.

## افغاني مبلغ په اعدادو او حروفو

د مالیې هغه رقم چې په دې مرحله کې ورکول کیږي، باید درج کړل شي. نوموړي رقم باید په مروجو افغانیو په اعدادو او حروفوسره درج کړل شي.

## د نغدو پیسو مجموعه

د ورکړې وړ د نغدو پیسو هغه رقم باید درج کړل شي. نوموړي رقم باید په اعدادو سره درج کړل شي.

## ۲. ۴. ۱. د مالیې د ورکړې او د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو ځرنګوالي

## ورکړې (تادیات) د افغانستان بانک په مرکزي دفترکې

که چیرې داسې وي چې مالیه باید د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې ورکول شي، نولاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

۱. مالیاتي اظهارلیک ( ټولې پاڼې ) په یو مناسب پاکټ کې او د ورکړې وړ رقم سره یې له ځان سره ولري
۲. مالیه باید د بانک مؤظف صراف ته ورکړل شي
۳. د بانک صراف د بانک تحویلۍ ځلورواړه فورمې لاسلیک او ټاپه کوي
۴. صراف د بانک ستاسود مالیاتي اظهارلیک سپین او شین رنګه پاڼې ( د بانکي حساب د سپینو او شنو فورمو په ګډون ، لومړۍ پاڼه ) د بانک د سند په توګه او د عوایدو لوي رسات د د استولو په موخه له ځان سره ساتي.
۵. د بانکي حساب آسماني رنګه مهرشوې فورمه له ځان سره د سند په توګه وساتۍ
۶. د مالیاتي اظهارلیک ټولې ژیړ رنګه پاڼې له اظهارلیک سره پاتې کیږي
۷. مالیه ورکوونکي باید بشپړ شوي اظهارلیک ( ژیړ رنګه پاڼې ۱- ۴ ،

جدولونه او مرستندویه اسناد) په یوه پاکټ کې ځای په ځای کړي. پاکټ بند کړی او مالیاتي اظهارلیک اړوند هغه قفل شوي (بند) بکس کې یې واچوي چې د افغانستان بانک په مرکزي دفتر (له دولتي صراف سره په خوا کې) کې موقعیت لري.

۸. د عوایدو لوي ریاست مالیاتي کارکوونکي دغه اظهارلیکونه د افغانستان بانک له مرکزي دفترڅخه لاسته راوړي.

که چیرې مالیه ورکونکي وغواړي کولای شي چې خپل بشپړ شوي مالیاتي اظهارلیک د افغانستان بانک پرځای د عوایدو لوي ریاست ته واستوي.. سربیره پردې، عوایدو اړوندې څانګې ته په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول ضروري دي. په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول د مالیه ورکوونکي له مسؤلیتونو څخه دي.

## د افغانستان بانک د څانګو او یا د کوم بل بانک له لیارې د مالیاتو بریښنالیکي ورکړه

که چیرې مالیه ورکوونکي وغواړي چې خپل مالیات د نورو بانکونو او یا د افغانستان بانک د کومې نمایندګۍ له لیارې په اَلیکترونیکي ډول ورکړي، نوموړي باید لاندې مراتب په پام کې ونیسي:

۱. دورکړې وړ رقم بانک ته یوړل کیږي (د افغانستان دننه او هم په بهر کې )
۲. خپل مالیات د بانک صراف ته د « د بریښنا له لیارې د پیسو د انتقال " د سیستم له لیارې ور کول کیږي . له اسعارو نه د استفادې په صورت کې، له لیږدولو نه وړاندې باید نوموړي رقم په افغانیو تسعیر کړل شي.

## ۳. د مالیه ورکوونکو لپاره مهم معلومات

هغه مهم معلومات چې تاسو باید ورڅخه خبر اوسی د مالیاتي اظهارلیک په لومړي مخ کې لیکل شوي دي او تاسو باید دا معلومات په ځیرسره ولولی.

### ۲.۴. دریمه برخه : د بانک تحویلي فورمه

په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د ذمت مالیې رقم لیکل کیږي. دا رقم له هغه رقم سره معادل دي چې د اظهارلیک د ۲۰۰ کرښې د دویم مخ په دویمه برخه کې لیکل شوي دي. که چیرې مالیه له مجموعي رقم لږ تادیه کړل شي او د مالیې مجموعي رقم

تر ټاکلي وخت پورې تایده نه کړل شي، په دغه صورت کې جریمه د پلي کیدو وړده .

ددې لارښوود د عمومي معلوماتو ۱. ۳ برخه د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې او د مالیې د ورکړې په اړه معلومات لري.

د مالیاتي اظهارلیک ټولې برخې باید بشپړې شي او د فورمې د هرې پاڼې آسماني رنګه پاڼه (له لومړې پاڼې او د بانک له تحویلي فورمې نه پرته) له ځان سره وساتئ.

## د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر

د پیژندنې خپل نمبر درج کړي. دغه نمبر هغه ۱۰ عددي نمبر ته ورته دې ددې مخ په لومړۍ برخه کې مو درج کړي دئ.

## افغاني مبلغ په اعدادو او حروفو

د مالیې هغه رقم چې په دې مرحله کې ورکول کیږي، باید درج کړل شي. نوموړي رقم باید په مروجو افغانیو په اعدادو او حروفوسره درج کړل شي.

## د نغدو پیسو مجموعه

د ورکړې وړ د نغدو پیسو هغه رقم باید درج کړل شي. نوموړي رقم باید په اعدادو سره درج کړل شي.

## ۲. ۴. ۱. د مالیې د ورکړې او د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو څرنګوالي

## ورکړې (تادیات) د افغانستان بانک په مرکزي دفترکې

که چیرې داسې وي چې مالیه باید د افغانستان بانک په مرکزي دفترکې ورکول شي، نولاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

۱. مالیاتي اظهارلیک (ټولې پاڼې) په یو مناسب پاکټ کې او د ورکړې وړ رقم سره بې له ځان سره ولري
۲. مالیه باید د بانک مؤظف صراف ته ورکړل شي
۳. د بانک صراف د بانک تحویلۍ څلورواړه فورمې لاسلیک او ټاپه کوي
۴. صراف د بانک ستاسود مالیاتي اظهارلیک سپین او شین رنګه پاڼې (د

بانکي حساب د سپینو او شنو فورمو په ګډون ، لومړۍ پاڼه ) د بانک د سند په توګه او د عوایدو لوی رسات د د استولو په موخه له ځان سره ساتي.

۵. د بانکي حساب آسماني رنګه مهرشوي فورمه له ځان سره د سند په توګه وساتۍ.

۶. د مالیاتي اظهارلیک ټولې ژیړ رنګه پاڼې له اظهارلیک سره پاتې کیږي

۷. مالیه ورکوونکي باید بشپړ شوي اظهارلیک ( ژیړ رنګه پاڼې ۱- ۴ ، جدولونه او مرستندویه اسناد) په یوه پاکټ کې ځای په ځای کړي. پاکټ بند کړۍ او مالیاتي اظهارلیک اړوند هغه قفل شوي (بند) بکس کې یې واچوي چې د افغانستان بانک په مرکزي دفتر (له دولتي صراف سره په خوا کې) کې موقعیت لري.

۸. د عوایدو لوي ریاست مالیاتي کارکوونکي دغه اظهارلیکونه د افغانستان بانک له مرکزي دفترڅخه لاسته راوړي.

که چیرې مالیه ورکونکي وغواړي کولاي شي چې خپل بشپړ شوي مالیاتي اظهارلیک د افغانستان بانک پرځاي د عوایدو لوي ریاست ته واستوي. سربیره پردې، عوایدو اړوندې څانګې ته په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول ضروري دي . په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول د مالیه ورکوونکي له مسؤلیتونو څخه دي.

## د افغانستان بانک د څانګو او یا د کوم بل بانک له لیارې د مالیاتو بریښنالیکي ورکړه

که چیرې مالیه ورکوونکي وغواړي چې خپل مالیات د نورو بانکونو او یا د افغانستان بانک د کومې نمایندګۍ له لیارې په ألیکترونیکي ډول ورکړي، نوموړي باید لاندې مراتب په پام کې ونیسي:

۱. دورکړې وړ رقم بانک ته یوړل کیږي (د افغانستان دننه او هم په بهر کې )

۲. خپل مالیات د بانک صراف ته د « د بریښنا له لیارې د پیسو د انتقال " د سیستم له لیارې ور کول کیږي . له اسعارو نه د استفادې په صورت کې، له لیږدولو نه وړاندې باید نوموړي رقم په افغانیو تسعیر کړل شي.

۳. د بریښنا له لیارې د د پیسو د لیږد د مراحلو په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره شپږم مالیاتي لارښود ته مراجعه وکړۍ. په شپږم لارښود کې د پیسو د الیکترونیکي لیږد په اړه اړینه چې د مالیې وزارت د عوایدو لوي ریاست وکولاي شي مالیه ورکوونکي وپیژني او په اړه یې معلومات ولري.

۴. د بانک صراف د بانک د تحویلي فورمې ټاپه شوې آسماني رنګه پاڼه مالیه

ورکوونکي ته ورکوي او د ورکړو معلومات د افغانستان بانک مرکزي دفتر ته د برېښنا له لیارې استوي او د افغانستان بانک بیا دا معلومات د عوایدو لوي ریاست ته استوي.

۵. صراف د بانک هغه تحویلي فورمه نه مهرکوي (لومړي مخ/پاڼه) چې له مالیاتي اظهار لیک سره ضمیمه ده ځکه چې د برېښنا یې لېږدوني لپاره دا فورمه اړینه نه ده. د برېښنا له لیارې د لېږد په صورت کې، د برېښنا لیک له لیارې د لېږد سند د بانک د تحویلي فورمې ځاي نیسي.

۶. مالیه ورکوونکي باید د برېښنا له لیارې د پیسو د لېږد سند لاسته راوړي او د مالیاتي اظهار لیک له آسماني رنګه پاڼې (۲، ۳ او ۴ مخونه) سره یې ضمیمه او وساتي.

۷. د برېښنا له لیارې د پسو د لېږد بل سند د اظهارلیک له ژیړ رنګه فورمې سره ضمیمه کیږي (۲، ۳ او ۴ مخونه)

۸. خپل بشپړشوی اظهارلیک (د برېښنا له لیارې د پیسو د لېږد سند، د جدولونو ژیړ رنګه ۲، ۳ او ۴ مخونه او نور مرستندویه اسناد) د ډاډ وړ لېږدوونکي میکانیزم له لیارې ولېږدوي .

د عوایدو لوي ریاست ته په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول اړین دي. په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهار لیک وړاندې کول د مالیه ورکوونکي له مسؤلیتونو څخه شمیرل کیږي.

## ۳. د ورکړې وړ مالیه او د بیان/اظهار معلومات (د مالیاتي اظهارلیک دویم مخ)

### ۳. ۱. سریزه

د فورمې دا برخه د مالیه ورکوونکي په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو، د ورکړې وړ مالیې د محاسبې او د مالیه ورکوونکي د بیان/اظهار په موخه کارول کیږي .

### ۳. ۲. لومړۍ برخه: د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

د فورمې په دې برخه کې دمالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر او نوم په تکرار ي ډول لیکل کیږي ځکه چې تر دې دمخه دا معلومات ددې سند په ۲. ۲ برخه کې لیکل شوي وه. دا برخه باید د مالیه ورکوونکي لخوا بشپړ او هغه معلومات باید په کې شامل شي چې د مالیاتي اظهارلیک په لومړۍ برخه کې لیکل شوي دي.

## ۹ کرښه – کلنۍ مالیاتي دوره

کلنۍ مالیاتي دوره ( د هجري لمریز کال د وري (حمل) له لومړۍ نیټې نه د کب (حوت ) ترپایه پورې) باید په دې ستون کې ولیکل شي. دا فورمه په دې موخه ترتیب شوې ده چې په ۱۳۸۹ کال او وروستي کالونوکې وکارول شي. د نورو کالونو لپاره باید له دې فورمې څخه کار وا نه اخستل شي.

## ۳.۳ دویمه برخه : د ورکړې وړ مالیې محاسبه

مالیه ورکوونکي د مالیې د هغې محاسبې له مخې چې په خپله یې ترسره کوي د ذمت خپله مجموعي مالیه محاسبه کوي او دا معلوموي چې آیا د ورکړې وړ د ذمت مالیه پاتې کیږي او که زیاته ورکړې شوې مالیه. .

## ۲۰ کرښه - د مالیې وړ مجموعي عواید

د کلني مالیاتي اظهارلیک فورمې د دریمې برخې له ۵۰۰ کرښې څخه د مالیې وړ مجموعي عواید باید نقل او په دې کرښه کې ولیکل شي. دا د مالیې وړ عوایدو هغه مجموعي رقم دې چې په دریمه برخه کې محاسبه شوي دي. ددې مالیاتي لارښود په څلورمه برخه کې د مالیې وړ مجموعي عوایدو د محاسبې د څرنګوالي په اړه معلومات شته دي .

## ۳۰ کرښه - د مجاز مجرائي مجموعه

د کلني مالیاتي اظهارلیک فورمې د څلورمې برخې له ۹۰۰ کرښې څخه د مجاز مجرائي مجموعه باید نقل او په دې کرښه کې ولیکل شي. دا د هغه مجاز مجرائي مجموعي رقم دي چې په څلورمه برخه کې محاسبه شوي دي. د دې مالیاتي لارښود په پنځمه برخه کې د مجاز مجرائي مجموعې محاسبې د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړل شوي دي.

## ۴۰ کرښه - خالص عواید

۳۰ کرښه ( د مجاز کسراتو مجموعه ) باید د ۲۰ کرښې له رقم ( د مالیې وړ مجموعي عواید) څخه منفي کړل شي او حاصل ( لاسته راغلي رقم ) یې له خالصو عوایدو څخه

عبارت دي چې باید په ۴۰ کرښه (خالص عواید) کې ولیکل شي. که چیرې دا رقم منفي وي (یعنې د مجرائي وړ کسرات له مالیې وړ رقم څخه زیات وي) ، دا عدد باید په دوه قوسونو کې ولیکل شي.

## لومړۍ بیلګه

د (الف) شرکت د مالیې وړ خپل مجموعي عواید او د مجاز مجرائي مجموعه په لاندې ډول محاسبه کړې ده :

| | |
|---|---|
| ۲۰ کرښه ، د مالیې وړ مجموعي عواید | ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ۳۰ کرښه، د مجاز مجرائي مجموعه | ۷۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ۴۰ کرښه، خالص عواید | ۳۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |

د (الف ) شرکت د ۳۰۰۰۰۰۰ افغانیو رقم په ۴۰ کرښه کې لیکلي دي.

## دویمه بیلګه

د ( الف ) شرکت د مالیې وړ خپل مجموعي عواید او د مجاز مجرائي مجموعه په لاندې ډول محاسبه کړي :

| | |
|---|---|
| ۲۰ کرښه، د مالیې وړ مجموعي عواید | ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ۳۰ کرښه، د مجاز مجرائي مجموعه | ۱۰۱۲۰۰۰۰ افغانۍ |
| ۴۰ کرښه، خالص عواید | ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ |

د (الف ) شرکت په ۴۰ کرښه کې د (۱۲۰۰۰۰ ) افغانیو رقم لیکلي دي. پورتني عدد ځکه په دوه قوسونو کې لیکل شوي دي چې دا په ډاګه شي چې د مجرائي رقم له عوایدو څخه زیات دې نوځکه د منفي عدد په توګه ګڼل کیږي.

## ۵۰ کرښه - د ثابتې شتمنۍ د لیږد ، تبادلې او یا پلور له درکه ضرر

د ۹ جدول د ۷ کرښې رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي . یواځې ضرر باید په دې کرښه ولیکل شي او د ګټې په صورت کې ، دا کرښه تشه پریښودل کیږي.

**یادداښت:** په **۵۰** کرښه کې یوائې هغه ضرر لیکل کیږي چې د پانګې له پلورڅخه منځ ته راغلي دي. که چیرې د پانګې له پلور څخه ګټه لاسته راغلې وي ، د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په **۴۲۰** کرښه کې لیکل کیږي.

د پانګې د ضرر او ګټې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترسره کولو لپاره ، د **۹** جدول **۹** ضمیمې ( د پانګې ګټه یا ضرر) ته مراجعه وکړۍ

## ۲۰ کرښه - د لیږد وړ ضرر

که چیرې د تیروشوکلونو داسې عملیاتي ضرر موجود وي چې د مالي کال په جریان کې د مجرایي وړ وي، د لیږد وړ عملیاتي ضرر د محاسبې له پاڼې څخه باید کار واخیستل شي او نوموړې ورقه باید له خپلو مالیاتو اسنادو سره وساتۍ. د لیږد وړ عملیاتي ضرر د محاسبې د ورقې د بشپړولو په اړه معلومات/توضیحات ددې لارښوود په **۱۲** ضمیمه کې ورکړل شي. د محاسبې ددې سند یوه کاپي ددې لارښوود په **۱۴** ضمیمه کې شته .

د لیږد وړ عملیاتي ضرر د د لیږد وړ عملیاتي ضرر د محاسبې پاڼې له **۳۵۰** کرښې څخه په **۲۰** کرښه کې ولیکې.

## ۷۰ کرښه - د مالیې وړ عواید

د **۵۰** کرښې ( دثابتې شتمنۍ د لیږد ، تبادلې او یا پلور له درکه ضرر) رقم او د **۲۰** کرښې ( د لیږد وړ ضرر د **۴۰** کرښې (خالص عواید ) له رقم څخه منفي کړئ. پاتې رقم ستاسو د مالیې وړ عواید دي او باید په **۷۰** کرښه ( دمالیې وړ عواید ) کې ولیکل شي. کیدای شي د یو رقم نتیجه منفي یا مثبته وي ځکه چې د ضرر دکوم رقم چې تاسو دعوا کوي باید ستاسو له خالصو عوایدو څخه زیات نشي. بناء، دانتیجه منفي کیدای نشي. که چیرې د **۴۰** کرښې رقم منفي وي، د **۵۰** او **۲۰** کرښو له رقمونو سره نه جمع کیږي او **۷۰** کرښه په اتوماتیک ډول صفر کیږي.

## لومړۍ بیلګه

د الف شرکت خالص عواید ( **۴۰** کرښه) **۵۰۰۰۰۰** افغانۍ دي او د ثابتې شتمنۍ د

لیږد، تبادلې او پلور له امله یې ضرر (۵۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ او د لیږد وړ ضرر یې (۲۰ کرښه) ۳۰۰۰۰۰ افغاني دي. بناء، د نوموړي شرکت د مالیې وړعواید (۷۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ دي. (له ۴۰ ، ۵۰ او ۲۰ کرښې څخه باید منفي کړل شي).

## دویمه بیلګه

د «ب" شرکت ورته خالص عواید لري او د ثابتې شتمنې د لیږد، تبادلې او پلور له امله یې ضرر (۵۰ کرښه) ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ او د لیږد وړ ضرریې (۲۰ کرښه) ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ دي. نو موړي شرکت نشي کولای د خپلو خالصو عوایدو (۴۰ کرښه) له مجموعي څخه د زیات ضرر (د ۵۰ او ۲۰ کرښې مجموعه) ادعا وکړي. بناء، په دې بیلګه کې د (ب) شرکت د مالیې وړ عواید له صفر سره مساوي دي.

## ۸۰ کرښه - پر مالیې وړ عوایدو باندې مالیه

د مالیې وړ عوایدو د محاسبې په موخه په ۷۰ کرښه کې لیکل شوي عواید په (٪ ۲۰) مالیاتي نورم کې ضربیږي.

## لومړۍ بیلګه

د الف شرکت د مالیې وړ ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عواید (۷۰ کرښه) لري. دا رقم په ٪ ۲۰ مالیاتي نورم کې ضربیږي او په پایله کې یې ۲۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راځي چې پر مالیې وړ عوایدو باندې د مالیې رقم دي. د الف شرکت باید په ۷۰ کرښه کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ ولیکي.

## ۹۰ کرښه - په بهرکې د ورکړل شوې مالیې مجرائي

د عوایدو د ورکړل شوې مالیې مجرائي باید د هر بهرني هیواد لپاره (چې مالیه په کې ورکړل شوې ده) په جلا توګه محاسبه شي. د هر هغه بهرني هیواد د مالیاتي مجرائي د محاسبې لپاره باید له اووم جدول (په بهر کې د ورکړل شوو مالیې د مجرائي محاسبه) کار واخستل شي چې مالیات په کې ورکړل شوي دي. د اووم جدول د بشپړولو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ۷ ضمیمې ته مراجعه وکړۍ چې ددې لارښوود په ۱۴ ضمیمه کې موجود دي.

د هرهيواد دټولو مجرايي مجموعه په ۹۰ کرښه ( په بهرکې د ورکړل شوو ماليو له درکه مجرايي ) کې ليکل کيږي.

په بهرکې د ورکړل شوو مالياتو لپاره د مجرايي غوښتلو په موخه د ۷ جدول يوه کاپي بايد له مالياتي اظهارليک سره ضميمه شي.

۱۰۰ کرښه - د ماليه ورکوونکي په استازيتوب د نورو کسانو لخوا ورکړل شوې او وضع شوې ماليې
د هغو مالياتو مجموعه بايد په دې کرښه کې وليکل شي چې د ماليه ورکوونکي په استازيتوب وضع شوي دي .

د موضوع د تائيد او ثابتولو په موخه په ۱۰۰ کرښه کې ليکل شوي مالياتي صورت حساب بايدله مالياتي اظهارليک سره ضميمه شي.

هغه ماليات چې کيداي شي د ماليه ورکوونکي په استازيتوب ورکړل شوي وي، په لاندې ډول دي: د ونډې پرګټې، ټکټانې، حق الامتياز او پرقراردادونو باندې ماليه.

## ۱۱۰ کرښه- پر عايداتو باندې د مالياتو له درکه هغه نور ماليات چې له وړاندې څخه ورکول شوي دي ( پيش پرداخت )

په دې برخه کې له وړاندې څخه د ورکړل شوو ماليو مجموعه ( په هردليل چې ورکړل شوي وي) ليکل کيږي البته په هغه صورت کې چې په ۹۰ او ۱۰۰ کرښو کې نه وي شامل شوې.

په ۱۱۰ کرښه کې د ليکل شوي رقم په اړه مرستندويه معلومات بايد له مالياتي اظهارليک سره ضميمه شي.

هغه ماليات چې کيداي شي له وړاندې څخه ورکړل شوي وي په لاندې ډول دي - پرواردات‌و باندې ٪ ۲ ماليه چې د عوايدو او ګمرکونو د لويو رياستونو په استازيتوب را جمع کيږي.

## ۱۲۰ کرښه - د مجرائي مجموعه

د ۹۰ کرښې ( په بهرکې د ورکړل شوي ماليې مجرائي) ، ۱۰۰ کرښې ( د ماليه

ورکوونکي په استازیتوب د نورو کسانو لخوا ورکړل شوې مالیات ) او ۱۱۰ کرښې (پر عایداتو باندې د مالیاتو هغه نور مالیات چې له وړاندې څخه ورکړل شوي دي) ارقام سره جمع کیږي او حاصل یې له هغه مبلغ څخه عبارت دي چې د مالیې وړ عوایدو څخه منفي کیږي . د جمعې حاصل ( عدد) په ۱۲۰ کرښه (د مجرائي مجموعي رقم)کې لیکل کیږي.

## ۱۳۰ کرښه - پرعایداتو باندې د ورکړې وړ مالیه

د ۱۲۰ کرښې (د مجرائي مجموعه ) رقم د ۷۰ کرښې (پر مالیې وړ عوایدو باندې مالیه) له رقم څخه منفي کیږي . د منفي حاصل د ذمت ( د ورکړې وړ) له مالیې څخه عبارت دي چې باید په ۱۳۰ کرښه ( پرعایدتو باندې و رکړې وړ مالیه) کې ولیکل شي. که چیرې نوموړې رقم منفي وي، نوڅرګندیږي چې د مجرائي مجموعه له مالیې وړ عوایدو څخه زیاته ده او منفي عدد باید په قوس کې ولیکل شي.

## لومړۍ بیلګه

د (الف ) شرکت خپله مالیه د مالیې وړ عوایدو او د مجرائي د مجموعي رقم په پام کې نیولوسره په لاندې ډول محاسبه کوي :

۸۰ کرښه، پر مالیې وړ عوایدو باندې مالیه

۲۰۰۰۰ افغانۍ

۱۲۰ کرښه، د مجرائي وړ مجموعي رقم

۵۰۰۰ افغانۍ

۱۳۰ کرښه، پر عایداتوباندې د ورکړې وړ مالیه ۱۵۰۰۰

افغانۍ

د (الف) شرکت د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په ۱۳۰ کرښه کې ۱۵۰۰۰ افغانۍ لیکي.

## دویمه بیلګه

د( ب) شرکت پر مالیې وړ عوایدو باندې خپله مالیه او د مجرائي مجموعه په لاندې

ډول محاسبه کوي چې په پایله کې یې زیاته مالیه ورکول کیږي:

۸۰ کرښه، پر مالیې وړ عوایدو باندې مالیه ۲۰۰۰۰ افغانۍ

۱۲۰ کرښه، د مجرائي وړ مجموعي رقم ۲۵۰۰۰ افغانۍ

۱۳۰ کرښه، پر عایداتو باندې دورکړې وړ مالیه ۵۰۰۰ افغانۍ اضافي ورکړه

د (ب) شرکت د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په ۱۳۰ کرښه کې ۵۰۰۰ افغانۍ لیکي.

د قوسونو له استعمال څخه داسې څرګندیږي چې د مجرایي وړ مجموعي مبلغ له مالیې وړ عوایدو څخه زیات دي او یو منفي عدد بلل کیږي.

## ۱۴۰ کرښه - پر انتفاعي معاملو باندې ۲٪ مالیه (چې نه ده ورکړل شو)

د کلني مالیاتي اظهارلیک د دریم جدول له ۱۱۰ کرښې څخه د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیه په دې کرښه کې لیکل کیږي. پر انتفاعي معاملو باندې د ورکړې وړ ۲٪ مالیې د محاسبې د څرنګوالي په اړه لارښوونه ددې مالیاتي لارښود په دریمه ضمیمه کې وجود لري. د دریم جدول یوه کاپي ددې لارښود په ۱۴ ضمیمه کې شته.

که چیرې عدد منفي وي یعنې که چیرې پر انتفاعي معاملو باندې ورکړل شوي ۲٪ مالیه پر انتفاعي معاملو باندې د ذمت مالیې څخه زیات وي، نو عدد باید په قوس کې ولیکل شي.

## ۱۵۰ کرښه - پر انتفاعي معاملو باندې ٪ ۵ مالیه (چې نه ده ورکړل شوې)

د مالیاتي اظهارلیک د دریم جدول له ۲۸۰ کرښې نه د انتفاعي معاملو٪ ۵ مالیه په دې کرښه کې لیکل کیږي. ددې مالیې د محاسبې په اړه لارښوونې ددې لارښود په ۳ ضمیمه شتون لري.

که چیرې رقم (عدد) منفي وي یعنې که چیرې پر انتفاعي معاملو باندې ورکړل شوې ٪ ۵ مالیه دذمت مالیې له رقم څخه زیات وي، نوموړي عدد باید په قوس کې ولیکل شي.

## ۱۲۰ کرښه - پر انتفاعي معاملو باندې ٪ ۱۰ مالیه (چې نه ده ورکړل شوې)

د مالیاتي اظهارلیک د څلورم جدول له ۱۰۰ کرښې نه د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ مالیه په دې کرښه کې لیکل کیږي. ددې محاسبې په اړه لارښوونې ددې لارښوود په ۴ ضمیمه کې شتون لري.

که چیرې دا رقم (عدد) منفي وي یعنې که چیرې پر انتفاعي معاملو باندې ورکړل شوې ٪ ۱۰ مالیه د ذمت له مالیې څخه زیاته وي، نوموړي عدد باید په قوس کې ولیکل شي.

## ۱۷۰ کرښه- د ذمت مجموعي مالیه

د ۱۳۰ کرښې (د ورکړې وړ مالیه) ، ۱۴۰ کرښې (پر انتفاعي معاملو باندې ٪ ۲ مالیه)، ۱۵۰ کرښې (پر انتفاعي معاملو باندې ۵٪ مالیه) او د ۱۲۰ کرښې (پر انتفاعي معاملو باندې ۱۰٪ مالیه) ارقام سره جمع کیږي او د جمعې حاصل یې په ۱۷۰ کرښه (د ذمت مجموعي مالیه) کې لیکل کیږي.

دا رقم د ورکړې وړ ذمت مالیې له مجموعي څخه عبارت دي.

که چیرې د ذمت مالیې رقم منفي وي یعنې که چیرې پرعایداتو باندې د مالیاتو رقم او پرانتفاعي معاملو باندې د مالیې رقم د ذمت مالیې له رقم څخه زیات وي، لاسته راغلي عدد باید په دوه قوسونو کې ولیکل شي.

## لومړۍ بیلګه

د (الف) شرکت د ذمت خپله مجموعي مالیه په لاندې ډول محاسبه کوي:

۱۳۰ کرښه ، پرعایداتو باندې د ورکړې وړ مالیه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ

۱۴۰ کرښه، د انتفاعي معاملو ۲٪ نا ورکړل شوې ماليه ۵۰۰۰ افغانۍ

۱۵۰ کرښه، د انتفاعي معاملو ۵٪ نا ورکړل شوې ماليه ۱۵۰۰۰ افغانۍ

۱۲۰ کرښه، د انتفاعي معاملو ۱۰٪ نا ورکړل شوې ماليه ۲۰۰۰۰ افغانۍ

نوموړي شرکت د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې په ۱۷۰ کرښه کې ۱۴۰۰۰۰ افغانۍ ليکي.

دا رقم د (الف) شرکت د ذمت مجموعي ماليه ده. په دې حالت کې د هر ډول ماليې مجموعه يو مثبت رقم دي يعنې د (الف) شرکت بايد ياد شوي رقم د ۱۳۸۹ لمريز کال لپاره ورکړي.

## دويمه بيلګه

د (ب) شرکت د ذمت خپله مجموعي ماليه په لاندې ډول محاسبه کوي:

۱۳۰ کرښه ، پر عايداتو باندې دورکړې وړ ماليه
۱۰۰۰۰۰ افغانۍ

۱۴۰ کرښه، د انتفاعي معاملو٪ ۲ نا ورکړل شوې ماليه ۵۰۰۰ افغانۍ

۱۵۰ کرښه، د انتفاعي معاملو ٪ ۵ نا ورکړل شوې ماليه ۱۵۰۰۰ افغانۍ

۱۲۰ کرښه، د انتفاعي معاملو٪ ۱۰ نا ورکړل شوې ماليه (۲۰۰۰۰) افغانۍ

نوموړي شرکت د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې په ۱۷۰ کرښه کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ليکي. دا رقم د (ب) شرکت د ذمت ماليې له مجموعې څخه عبارت دي.

په دې حالت کې، له ٪ ۱۰ انتفاعي ماليې نه پرته د هر ډول ماليې مجموعه يو مثبت عدد دي . دا چې د (ب) شرکت د ٪ ۱۰ انتفاعي ماليې له درکه په ۱۳۸۹ لمريز کال کې زياته ماليه ورکړې ده ، دا رقم د نوموړي شرکت د ۱۳۸۹ کال د مالياتو مجموعه را کموي.

## دريمه بيلګه

د (ج) شرکت د ذمت خپله مجموعي ماليه په لاندې ډول محاسبه کوي:

۱۳۰ کرښه ، پر عايداتو باندې دوركړې وړ ماليه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ

۱۴۰ کرښه، د انتفاعي معاملو ٪ ۲ نا وركړل شوې ماليه ۵۰۰۰ افغانۍ

۱۵۰ کرښه، د انتفاعي معاملو ٪۵ نا وركړل شوې ماليه ۱۵۰۰۰ افغانۍ

۱۲۰ کرښه، د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ نا وركړل شوې ماليه ۲۰۰۰۰ افغانۍ

د (ج) شرکت د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې په ۱۷۰ کرښه کې (۲۰۰۰۰) افغانۍ ليکي.

## داچې نوموړي رقم يو منفي عدد دي بايد په قوس کې وليکل شي.

سره ددې چې په دې بيلګه کې د (ج) شرکت بايد د انتفاعي ماليې له درکه يو رقم ورکړي، ولې دا چې نوموړي شرکت پرعايداتو باندې دمالياتو له کبله زيات رقم (۱۳۰ کرښه) ورکړي وه ، د نوموړي شرکت د انتفاعي معاملو د ماليې مکلفيت جبرانوي. د زياتو معلوماتو او بيلګو لپاره د مالياتي لارښوود ۱۳۰ کرښې ته مراجعه وکړۍ.

## څلورمه بيلګه

د"د" شرکت د رستورانټ له خدمتونو څخه عوايد لاسته راوړي. ددې شرکت عوايد ، پرته له دې چې آيا د انتفاعي معاملو د ۱۰ فيصده ماليه پکې شامله ده او کنه، د هغه رقم له مجموعې څخه عبارت دي چې پيرودونکي يې په ورکړه مکلف دي .

دا عوايد د ۳۱۰ کرښې په دريمه برخه (ناخالص عوايد يا پلور) کې ليکل کيږي. همدارنګه دا عوايد د ۲۰ کرښې په ۲ برخه کې د محاسبې وړ مجموعي عوايدو د محاسبې يوه برخه جوړوي.

د مالياتي اظهارليک د ۴ برخې له بشپړولو نه وروسته د"د" شرکت کولاې شي د ۲۵۰ کرښې په څلورمه برخه کې د ورکړل شوې او يا د ورکړې وړ ۱۰ فيصده انتفاعي معاملو ماليې لپاره د کسر غوښتنه وکړي.

د ۳۱۰ کرښې ۳ برخه، ناخالص عوايد يا پلور ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ

د ۲۵۰ کرښې ۴ برخه، ورکړل شوې يا د ورکړې وړد انتفاعي معاملو ۱۰ فيصده ماليه

۱۰۰۰۰ افغانۍ

د ۷۰ کرښې ۲ برخه، د ماليې وړ عوايد ۹۰۰۰۰ افغانۍ

د ۸۰ کرښې ۲ برخه، د ماليې وړ عوايدو ماليه ۱۸۰۰۰ افغانۍ

د ۱۲۰ کرښې ۲ برخه، د انتفاعي معاملو ۱۰ فيصده نا ورکړل شوې ماليه ۰ افغانۍ

د ۱۷۰ کرښې ۲ برخه، د ذمت ماليو مجموعه ۱۸۰۰۰ افغانۍ

د" د" شرکت لا دمخه د انتفاعي معاملو ماليې له کبله ۱۰۰۰۰ افغانۍ ورکړې دي. بناء، د ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايدو له درکه ورکړل شوي مجموعي ماليات ۲۸۰۰۰ افغانۍ کيږي چې ۱۸۰۰۰ افغانۍ يې پرعايداتو باندې د مالياتو له درکه او ۱۰۰۰۰ افغانۍ يې پرانتفاعي معاملو باندې د ماليې له درکه دي.

## پنځمه بېلګه

هماغه څلورمه بيلګه ، له دې پرته چې د " د"شرکت خپله د انتفاعي معاملو ۱۰ فيصده ربعواره ماليه نه ده ورکړې، په پام کې نيسو. په دې حالت کې محاسبه په لاندې ډول ترسره کيږي:

د ۳۱۰ کرښې ۳ برخه، ناخالص عوايد او يا پلور ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ

د ۲۵۰ کرښې ۴ برخه، ورکړل شوې او يا د ورکړې وړ د انتفاعي معاملو ۱۰ فيصده ماليه ۱۰۰۰۰ افغانۍ

د ۷۰ کرښې ۲ برخه، د ماليې وړ عوايد ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ

د ۸۰ کرښې ۲ برخه، د ماليې وړ عوايدو ماليه ۱۸۰۰۰ افغانۍ

د ۱۲۰ کرښې ۲ برخه، د انتفاعي معاملو ۱۰ فيصده نا ورکړل شوې ماليه ۱۰۰۰۰ افغانۍ

د ۱۷۰ کرښې ۲ برخه، د ذمت ماليو مجموعه ۲۸۰۰۰۰ افغانۍ

د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو عوايدو له درکه د ورکړل شوو ماليو مجموعه ۲۸۰۰۰ افغانۍ ده چې ۱۸۰۰۰ افغانۍ يې پرعايداتو باندې ماليات او ۱۰۰۰۰ افغانۍ يې د انتفاعي معاملو ماليه ده. اما ، په دې بيلګه کې ټول ماليات د کلني مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو پرمهال ورکړل شوي دي. دا بيلګه پرتاکلي وخت د انتفاعي معاملو ماليې د نه ورکړې له امله د کومې جريمې وړاندوينه نه کوي.

۱۸۰ کرښه- د مالیاتي اظهارلیک نه وړاندې کول- د مالیه ورکوونکي لخوا د جریمې سنجونه/محاسبه

په ټاکلي وخت د ذمت مالیې د نه ورکړې له امله د مالیه ورکوونکي لخوا د جریمې محاسبه شوي رقم ( د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۱۰۲ ماې پربنسټ) د جریمې د محاسبې پاڼې له ۱۱۰ کرښې څخه په دې ځای کې لیکل کیږي. د جریمې د محاسبې د پاڼې یوه کاپي ددې لارښوود په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.

## ۱۹۰ کرښه - په ټاکلي وخت د ذمت مالیې نه ورکول - د مالیه ورکوونکي لخوا د جریمې ټاکل/محاسبه

په ټاکلي وخت د ذمت مالیې د نه ورکولو له درکه د مالیه ورکوونکي لخوا د محاسبه شوې جریمې رقم ( د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۱۰۰ ماې پربنسټ) د جریمې د محاسبې پاڼې له ۱۲۰ کرښې څخه په دې ځای کې لیکل کیږي. د جریمې د محاسبې د پاڼې یوه کاپي ددې لارښوود په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.

## ۲۰۰ کر ښه - د ورکړې وړ ذمت رقم مجموعه

۱۷۰ کرښه ( د ورکړې وړ مالیې مجموعه )، ۱۸۰ کرښه ( په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک نه وړاندې کول - د مالیه ورکوونکي لخوا د جریمې ټاکل) او ۱۹۰ کرښه ( په ټاکلي وخت د ذمت مالیې نه ورکول) سره جمع کیږي او لاسته راغلي رقم په ۲۰۰ کرښه کې لیکل کیږي.
دا د ورکړې مجموعي رقم دي چې مالیه ورکوونکي یې باید په بانک کې تحویل کړي .

## ۲۱۰ کرښه - د ورکړې وړ ذمت / د بیرته ورکړې وړ رقم

که چیرې په ۱۹۰ کرښه کې لیکل شوي رقم مثبت وي یعنې که چیرې د مالیې داسې رقم پاتې وي چې په دې مالیاتي کال کې باید ورکړل شي ، نو په فورمه کې د « د ورکړې وړ ذمت ؟ هو/نه» لپاره باید د «هو " (مثبت ) ځواب په نښه کړی .

که چیرې په ۱۹۰ کرښه کې لیکل شوي رقم صفر وي یعنې که چیرې د مالیې داسې رقم نه وي پاتې چې په مالیاتي کال کې باید ورکړل شي او که چیرې اضافي ورکړې هم نه وي، نو په فورمه کې د « د ورکړې ذمت ؟ هو/نه» لپاره د» نه" (منفي) ځواب په نښه کړی.

که چیرې په ۱۹۰ کرښه کې لیکل شوی رقم منفي وي یعنې که چیرې د ورکړل شوي مالیې رقم د ورکړې وړمالیې له رقم څخه زیات وي، نو په فورمه کې د «د بیرته ورکړې وړ رقم ؟ هو/نه» تر څنګ د «هو" ( مثبت) ځواب په نښه کړئ.
د پیسو د بیرته ورکړې رقم په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره ددې لارښوود د عمومي معلوماتو/مرور برخې ته مراجعه وکړئ.

## ۴. د مالیې وړ عوایدو محاسبه (د مالیاتي اظهار لیک دریم مخ)

### ۴. ۱. سریزه

د مالیاتي اظهارلیک له دې برخې څخه د مالیې وړ عوایدو په محاسبه کې کار واخلئ.

### ۴. ۲. د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د پیژندنې هغه نمبر او نوم ولیکئ چې د مالیاتي اظهارلیک په لومړۍ برخه کې لیکل شوي دي.

### ۴. ۳. دریمه برخه: د مالیې وړ عوایدو محاسبه

په دې کې درې برخې وجود لري:

- د مالیې تابع عوایدو ډولونه
- له مالیې څخه د معافو عوایدو په اړه پوښتنې، او
- د اړوندو اشخاصو (د انتقالي د بیې ټاکل) د عوایدو په اړه پوښتنې
- 

### ۴. ۳. ۱. د مالیې تابع عوایدو ډولونه

د مالیې وړ عواید له هغو مجموعي عوایدو څخه عبارت دي چې د مالیې تابع دي. دغه عواید د ۱۳۸۴ لمریز کال د مالیاتو په قانون کې یاد شوي دي. دا موضوع د ۱۳۸۴ لمریز کال د مالیاتو قانون په تعلیماتنامه کې په بشپړه توګه روښانه شوې ده . ستاسې په مالیاتي اظهارلیک کې باید د مالیې وړ ټول عواید څرګند کړل شي.

## ۳۱۰ کرښه - ناخالص عواید یا پلور

په دې کرښه کې د هغو عوایدو او پلورنو مجموعي رقم ولیکۍ چې د کال په اوږدو کې مو له اقتصادي یا صنعتي فعالیتونو څخه لاسته را وړي دي. دا رقم له هر ډول مجرائي څخه دمخه د عوایدو یا پلورنو مجموعي رقم ګڼل کیږي.

د هغو مالیه ورکوونکو لپاره چې محاسبه یې د وروستۍ محاسبې د سیستم پربنسټ ترسره کیږي، لاسته راوړنې او پلور د متراکمو لاسته راوړنو او پلورونو به معنی دي. د عوایدو تابع کیدل په دې معنی نه دي چې عواید یوازې اسعار، سیکې او نغدې پیسې وي بلکه په هره بڼه چې ارزښت لرونکې شتمنۍ لاسته راځي د مالیې وړ عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

## لومړۍ بیلګه

د (الف) شرکت یو افغاني سهامي شرکت دی او کابل ښارکې د اقتصادي فعالیت له لیارې په یوه پلورنځي کې د برېښنا سامان الات پلوري. په نوموړي پلورنځي کې برقي جنراتورونه او نور برقي سامان الات د نغدو پیسو په بدل کې پلورل کیږي. یو ځل دې شرکت د برقي جنراتور د یو مستعمل موتور د پلور په بدل کې په ۲۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې. سره له دې چې د سامان الاتو د پلور په بدل کې د (الف) شرکت نغدې پیسې لاسته نه دي راوړي، ولې بیا هم له نوموړي شرکت سره داسې مالیاتي معامله کیږي چې ګویا د ۲۰۰۰۰ افغانیو معادل عواید یې لاسته راوړي دي او دا رقم د (الف) شرکت د مالیې وړ عواید و په توګه ګڼل کیږي.

## ۳۲۰ کرښه - د کال په پیل کې موجودي

د هغې موجودي ارزښت (د پیردلو پرمهال د موجودي بیه) باید په دې کرښه کې ولیکل شي چې ستاسې د تشبث لخوا دکال په پیل کې پیردل شوي دي. کوم وخت چې د ۱۳۸۹ کال مالیاتي اظهارلیک وړاندې کوۍ، د موجودي هغه بیه په دې کرښه کې ولیکۍ چې د ورې په لومړۍ نیټه کې موجوده وه.

## ۳۳۰ کرښه- د پیرودل شوو اجناسو ارزښت منفي د هغو اقلامو ارزښت چې د شخصي ګټې اخیستنې لپاره کارول کیږي

په دې کرښه کې د هغو پیرودل شوو اجناسوبیه لیکل کیږي چې د کال په جریان کې د پلور او یا تولید په موخه د تشبث لخوا ورڅخه کار اخستل کیږي ، د لاسته راوړنو له لیارې حمایه کیږي او د کال دپاې موجودي په توګه ګڼل کیږي . هغه جنسونه چې د شخصي ګټې اخیستنې په موخه له شرکت څخه اخیستل شوي دي د هغو پیرودنو له بیې څخه منفي کیږي چې په مالیاتي اظهارلیک کې لیکل شوي دي.

## لومړۍ بیلګه

د «الف» شرکت یو افغان سهامي شرکت دې چې کابل ښار کې د غالیو یو پلورنځي لري او هغه غالۍ په کې پلوري چې په افغانستان کې تولیدیږي. د غالیودغه پلورنځي د ۱۳۸۹ لمریز کال په دوران کې د ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت غالۍ رانیسي. د کال په دوران کې عزیز (د «الف» شرکت خاوند) د خپلې شخصي ګټې اخیستنې په موخه د ۱۰۰۰ افغانیو په ارزښت غالۍ اخستي دي.

د «الف» شرکت باید د ۱۳۸۹ کال په مالیاتي اظهارلیک کې ۹۹۹۰۰۰ افغانۍ د پیرودلو د ارزښت په توګه وښیي.

## ۳۴۰ کرښه - ۳۲۰ او ۳۳۰ کرښې سره جمع کیږي

د ۳۲۰ کرښې رقم ( د کال د پیل موجودي ) د ۳۳۰ کرښې له رقم ( د پیرودل شوو اجناسو ارزښت منفي د هغو اجناسو ارزښت چې د شخصي ګټې اخستنې لپاره ترلاسه شوي دي ) سره جمع کیږي او دا د کال په اوږدو کې د شته اجناسو د پلور په موخه د موجودي د بیې په توګه ګڼل کیږي. ددې عملې پایله /نتیجه په ۳۴۰ کرښه کې ولیکۍ. د جمع حاصل دهغو شته اجناسو له ارزښت څخه عبارت دې چې د کال په اوږدو کې پلورل کیږي.

## ۳۵۰ کرښه - د کال د پاي موجودي

په دې کرښه د موجودي هغه بیه/ارزښت ( د بازار ارزښت یا ترټولو ټیټه بیه یا ارزښت) لیکل کیږي چې د کال په پاي کې یې لري . کله چې د ۱۳۸۹ کال اظهارلیک وړاندې کیږي، د ۱۳۸۹ لمریز کال د کب میاشتې د وروستۍ ورځې ارزښت باید و لیکل شي .

## ۳۲۰ کرښه - د پلورل شوو اجناسو تمام شوي ارزښت

۳۵۰ کرښه (د کال د پاي موجودي) له ۳۴۰ کرښې (د کال د پیل مجموعي موجودي او پیرودنې منفي دهغو اجناسو ارزښت چې د شخصي ګټې لپاره کارول کیږي) څخه منفي کیږي. د منفي عملیې حاصل د هغو اجناسو له ارزښت څخه عبارت دي چې د کال په اوږدو کې پلورل شوي دي.

### لومړۍ بیلګه

د (الف) شرکت یو افغاني سهامي شرکت دې چې کابل ښار کې د غالیو یو پلورنځي لري او هغه غالۍ پکې پلوري چې په افغانستان کې تولیدیږي.

| | |
|---|---|
| د ۱۳۸۹ کال د حمل میاشتې د لومړۍ نیټې موجودي | ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| (۳۲۰ کرښه) ۱۳۸۹ کال کې د غالیو د پیرود ارزښت | ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| دهغو غالیو ارزښت چې د شخصي ګټې لپاره په کار ول کیږي (۱۳۸۹) | ۱۰۰۰ افغانۍ |
| مساوي | ۹۹۰۰۰ افغانۍ |
| (۳۳۰ کرښه) د پلور لپاره شته اجناس | ۱۰۹۹۰۰۰ افغانۍ |
| (۳۴۰ کرښه) د ۱۳۸۹ کال دکب په ۲۹ نیټه د اجناسو ارزښت | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |

(۳۵۰ کرښه) (بیه ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ، د بازار ارزښت/بیه ۲۲۰۰۰۰ افغانۍ، د بازار له نرخ/ارزښت څخه د ټیټ نرخ انتخابول یعني ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ) د پلورل شوو اجناسو بیه (۳۴۰ کرښه منفي ۳۵۰ کرښه) ۸۹۹۰۰۰ افغانۍ (۳۲۰ کرښه) **۴۰۰ کرښه - نا خالصه ګټه** د ۳۲۰ کرښې رقم (د پلورل شوو اجناسو ارزښت) د ۳۱۰ کرښې (ناخالص عواید یا پلور) له رقم څخه منفي کیږي. د منفي عملې حاصل له عوایدو او یا پلور څخه د لاسته راغلو عوایدو څخه عبارت دي.

### لومړۍ بیلګه

که چیرې د (الف) شرکت د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې لاندې ارقام ولري، نو د ۳۲۰ کرښې د لومړۍ بیلګې له معلوماتو څخه کار واخلی:

| | |
|---|---|
| مجموعي ناخالص عواید یا پلورنې | ۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| (۳۱۰ کرښه) دپلور شوو اجناسو ارزښت | ۸۹۹۰۰۰ افغانۍ |
| (۳۲۰ کرښه) | |

ناخالصه ګټه (۱۰ کرښه منفي ۲۰ کرښه) ۱۱۰۱۰۰۰ افغانۍ (۴۰۰۰ کرښه)

## ۴۱۰ کرښه - د ونډې ګټه

د ونډې ګټې ناخلص رقم (هر ډول وضع شوو ماليو په ګډون) چې ماليه ورکوونکيو لاسته راوړي په مالياتي اظهارليک کې ليکل کيږي.
د ونډې ګټه له نغدو پيسو، خدمتونو او له هغو اجناسو څخه عبارته ده چې د شرکت لخوا ونډه لرونکي ته ورکول کيږي چې په لاندې ډول دي:

- هر ډول ملموس او غير ملموس شتمنۍ
- په شرکت کې ونډې
- په پيرودنه کې د شرکت تخفيف
- ونډه لروونکو ته پورونه
- د شرکت له هر ډول شتمنۍ څخه ګټه اخستل

سره له دې چې دا موضوع په رسمي توګه څرګنده شوې نه ده خو د ونډه لروونکو د ونډې ګټې د ماليې ور دي. د ونډې ګټه له هرې هغې ګټې څخه عبارت ده چې ونډه لرونکي ته ورکول کيږي، په دې شرط چې تاديه کوونکي شرکت بايد په کافي اندازه عوايد ولري.

## لومړۍ بيلګه

(الف) شرکت د (ب) شرکت (چې يو افغاني سهامي شرکت دی) ټولې ونډې په واک لري. د کال په اوږدو کې د (ب) شرکت ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايد تر لاسه کړي دي. نوموړي شرکت د کرايي موټرو دوه مرکزونه لري چې يو مرکز يې په کابل ښار او بل يې د مزار شريف په ښار کې موقعيت لري. د مزار شريف مرکز د (الف) شرکت ته اجازه ورکوي چې د کرايې د ورکړې نه پرته د هغوی له کرائې موټرو څخه کار واخلي. د مزار شريف مرکز د تخمين له مخې د نا ورکړل شوې کرايې له درکه کلني ضرر ۱۰۰۰۰۰ افغانيو ته رسيږي. داسې ګڼل کيږي چې د (الف) شرکت د ونډه لرونکي شرکت (ب) په توګه د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو فرضي ګټه (د ونډې ګټه) ترلاسه کوي.

## ۴۲۰ کرښه - له بهرنيو سرچينو څخه عوايد

په دې کرښه کې هغه عوايد ليکل کيږي چې له غير افغاني (په بهر کې د هرډول ماليو له ورکړې نه دمخه) سرچينو څخه لاسته راځي. پرعايداتو باندې د مالياتو قانون پر برنسټ په افغانستان کې ميشت ماليه ورکوونکي د ماليې تابع دي ولو که د نوموړي

عوايد له هغو خدمتونو څخه لاسته راغلي وي چې له افغانستان څخه بهر ترسره شوي دي. نومړي رقم بايد د افغانيو په معادل رقم سره په مالياتي اِظهارليک کې وليکل شي. په ۴۲۰ کرښه کې رپوټ شوي بهرني عوايد د بهرنيو عوايدو د محاسبې د رقم په توګه کارول کيږي ( پرعايداتو باندې د مالياتو اظهارليک ۹۰ کرښه).

که چيرې ماليه ورکوونکي د بهرنيو عوايدو لرلو دعوا وکړي، د بهرنيو ماليو د رقم اړونده جدول بايد بشپړ او له مالياتي اظهارليک سره ضميمه شي.

## لومړۍ بېلګه

د (الف) شرکت په افغانستان کې ميشت يو سهامي شرکت دې چې په افغانستان او پاکستان کې خپلو پيريدونکو ته مشاورتي خدمتونه برابروي. هغه عوايدچې په پاکستان کې د ترسره شوو مشورتي خدمتونو له کبله لاسته راغلي، په افغانستان کې پر عايداتو باندې د ماليې تابع دي سره له دې چې د عوايدو توليد کوونکي فعاليتونه له افغانستان څخه بهر ترسره شوي دي.

له ۱۳۸۵ مالياتي کال څخه وروسته بهرني زيانونه په راتلوونکي کې له هغو ګټو څخه د مجرايي وړ دي چې له افغانستان نه بهر سرچينو څخه لاسته راځي.

د لا زياتو معلوماتو لپاره د۷ ضميمې ،۷ جدول (د بهرنيو مالياتو د رقم محاسبه) ته مراجعه وکړئ. ۷ جدول ددې لارښوود په ۱۲ ضميمه کې موجود دي.

## ۴۳۰ کرښه - ټکټانه

د پور، امانتونو ، پانګه اچونې او ورته عوايد له درکه ټکټانه ( د هرډول وضع شوو ماليو په ګډون) په دې کرښه کې ليکل کيږي. د ورکوونکي لخوا وضع شوې ماليه د مالياتي اظهارليک د ۱۰۰ کرښې په ۲ برخه کې ليکل کيږي.

## ۴۴۰ کرښه - د کرايې له درکه لاسته راغلي عوايد

د کرايې له درکه لاسته راغلي مجموعي عوايد چې د هر ډول جايداد او شتمنۍ د کرايې له درکه لاسته راغلي، په دې کرښه کې ليکل کيږي. د کرايې له درکه لاسته راغلي عوايد پرته له دې چې آيا ماليه ورڅخه وضع او تحويل شوې ده اوکنه، په

مالیاتي اظهارلیک کې باید وښودل شي. د کرایې له درکه مجموعي لاسته راغلي عواید یو مجموعي رقم دي او هغه رقم په کې شامل دي چې د جایداد څښتن ته ورکړل شو او بل هغه رقم چې له کرایې څخه وضع شوي او دولت ته ورکړل شوي دي. ستاسو په استازیتوب د مستاجر لخوا وضع شوې مالیه د مالیاتي اظهارلیک د ۱۰۰ کرښې (هغه موضوعي مالیات چې ستاسو په استازیتوب ورکول کیږي) په ۲ برخه (د ورکړې وړ مالیې محاسبه) کې لیکل کیږي.

## ۴۵۰ کرښه - حق الامتیاز

له هر ډول جایداد (منقول او غیر منقول) لکه تعمیرونه او ماشین آلات چې په افغانستان کې ورڅخه کار اخستل کیږي ، او له حق الامتیاز (د هرډول وضع شوو مالیو په ګډون) څخه لاسته راغلي عواید په دې کرښه کې لیکل کیږي. پورتني ټول عواید داسې ګڼل کیږي چې له افغاني سرچینو څخه لاسته راغلي دي. د ورکوونکي لخوا وضع شوې مالیه د مالیاتي اظهارلیک د ۱۰۰ کرښې په ۲ برخه کې لیکل کیږي.

## ۴۶۰ کرښه- د شتمنۍ پلور ، تبادله او لیږد (انتقال)

د ۹ جدول د ۷ کرښې رقم په دې کرښه کې ولیکۍ. یواځې ګټه په دې ځای کې لیکل کیږي او د ضرر په صورت کې ، ۴۶۰ کرښه تشه پریږدۍ.

یاددابنت: یواځې د شتمنۍ له پلور څخه د لاسته راغلي ګټې مجموعي رقم په ۴۶۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې د شتمنۍ په پلور کې ضرر (تاوان) منځته راغلي وي، دا موضوع باید د مالیاتي اظهارلیک د ۵۰ کرښې په ۲ برخه کې ریوټ کړل شي.
د پانګې د ګټې او ضرر د محاسبې په اړوند ۹ ضمیمې او ۹ جدول (د مالیاتي لارښوود د پانګې د ګټې او ضرر برخه) ته مراجعه وکړۍ.

د ۱۲۰ کرښې سره د اړوندو معاملو په اړه باید مالیه ورکوونکي پوره اسناد له ځان سره ولري. یادې شوې معاملې باید د استهلاک د محاسبې د جدولونو او اسنادو او یا دشتمنۍ د ثبت د اسنادو پربنسټ صورت ومومي.

داستهلاک د محاسبې د جدولونو او اسنادو په اړه د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ددې لارښوود ۱ او ۲ ضمیمې ته مراجعه وکړۍ.

د یو سهامي او محدودالمسئولیت شرکت د هر ډول شتمنۍ له لیږد څخه لاسته راغلې

ګټه ( د لیږد له بنې نه پرته) د لاندې حالاتو په ګډون عوایدیې د مالیې تابع دي :

- د پیسو په بدل کې پلورنې
- د نورو مالونو په بدل کې لیږدونه؛
- د نورو مالونو او پیسو په بدل کې لیږدونه؛
- د اړیکو او دوستۍ د ټینګښت د ډالۍ په موخه لیږدونه؛
- دپخوانیو خدمتونو په پام کې نیول سره لیږدونه یا په راتلوونکې دهغه کس متوقعه خدمتونه چې ډالۍ ورته په پام کې نیول شوې ده .

**عواید څه وخت تشخیصیږي؟** ګټه هغه وخت تشخیصیږي چې مالونه وپلورل شي، بدل شي او یا ولیږدول شي، او که عواید په څوکلونو کې لاسته راغلي هم وي، د مالیې تابع دي.

## لومړۍ بیلګه:

د ب شرکت یو محدودالمسؤلیت شرکت دی چې د ۱۰ کلونو لپاره د یو اپارتمان خاوند وه. په دې موده کې د اپارتمان ارزښت پرله پسې لوړ شو. نوموړي شرکت خپل دغه ملکیت په ۱۳۸۲ کال کې د ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو په ګټه و پلوره. دغه ګټه د ۱۰ کلونو په موده کې مجموعي زیاتوالي څرکنده وي. په ۱۳۸۲ مالي کال (د ملکیت د پلور کال) کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ د مالیې تابع ګرځي.

**د ګټې د محاسبې بنسټ /اساس څه شی دی؟** د یو جنس د لیږد یا تبادلې پر مهال په آزاد بازار کې د هغه ارزښت د ګټې د محاسبې لپاره بنسټ دی. تبادله ، چې د اجناسو ارزښت ته ورته دي یا ددې معاملې د پیسو یوه برخه تشکیلوي، کیدای شي د مالیې وړ ګټې د تشخیص سبب وګرځي.

## دویمه بیلګه

د (ج) شرکت د ونډې ۱۰۰۰ اسناد له یو بل سهامي شرکت سره د یوه استوګنځي په بدل کې چې د یوه انفرادي شخص ملکیت دی، تبادله کوي. سره له دې چې د ونډو ګټه په منظمه توګه ورکول کیږي، ولې د ونډو منظم سوداګریز فعالیت او د بازار ثابت نرخ شتون نه لري . دغه ونډې لس کاله وړاندې پیرودل شوې وې چې د یوې ونډې بیه یې

۲۰۰ افغانۍ وه. که چیرې د ا ستوګنځي ارزښت له ۲۰۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات وي، نو څرګنده چې د نوموړې دارائي د تبادلې پر مهال د یوې ونډې ارزښت له ۲۰۰ افغانیو څخه زیات وه. که چیرې دهغې ارزیابي له مخې چې د مالیې وزارت لخوا ترسره شوې څرګنده شي چې د دغه ملکیت ارزښت ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ دې، د بازار د نرخ په توګه منل کیږي او دګټې د محاسبې لپاره ورڅخه کار اخستل کیږي.

## د مالونو پلور کوم وخت افغاني سرچینه لري؟ د هغو منقولو او نا منقولو مالونو پلور چې په افغانستان کې فزیکي شتون لري، د افغاني سرچینو په توګه ګڼل کیږي او عواید یې د مالیې تابع دي.

## دریمه بیلګه:

د» د» شرکت یو بهرني پانګه اچوونکي شرکت دي او په یو انګلیسي تضامني محدود المسؤلیت شرکت کې ۱۰ فیصده ونډه لري. نوموړي شرکت داسې ملکیتونه لري چې په افغانستان کې د کانونو په را ایستلو کې کارول کیږي. که چیرې د "د" شرکت په انګلیسي شرکت کې خپله ونډه وپلوري، ګټه (که چیرې وي) یې داسې ګڼل کیږي چې له افغاني سرچینې څخه لاسته راغلې ده او د مالیې وړ عوایدو په توګه باید ۱۲۰ کرښه (د مالونو پلور) کې ولیکل شي.

په افغاني سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت کې د ونډې له پلور لاسته راغلې ګټه هغه وخت عواید ګڼل کیږي چې د نوموړي شرکت د شتمنۍ ارزښت عمدتاً د نورو اشخاصو له ملکیت څخه (په مستقیه یا غیر مستقیمه توګه) لاسته راغلي وي. دغه نور اشخاص په افغانستان کې د نامنقولو شتمنیو خاوندان دي او یا هم په دې شتمنیو کې ونډه لري. په دغه ډول ملکیت کې د هایدروکاربن قراردادونه (لکه طبعي ګاز)، د کانونو را ایستل او دکانونو د را ایستلو اختیار/واک (لکه څنګه چې پرعایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې تشریح شوي).
د ارزښت پربنسټ ، د» عمدتاً " اصطلاح/کلمه په دې معني ده چې دملکیت ارزښت له ٪ ۵۰ څخه زیات دي.

یو سهامي یا محدودالمسؤلیت شرکت داسې ګڼل کیږي چې په غیر مستقیم ډول د هغې شتمنۍ خاوند دې چې د ښکته ردیف نهادونو په ملکیت کې قرار لري چې د مفاد د ارزښت پر بنسټ د لوړ ردیف نهاد لخوا هغو نهادونو ته ورکول شوې دې چې په ښکته ردیف کې قرار لري . لوړ ردیف هغو نهادونو ته ویل کیږي چې د بل نهاد( ښکته ردیف ) مالکیت په اختیار کې ولري. د بیلګې په ډول، که چیرې د (الف) شرکت په (ب) شرکت

کې ونډه ولري، د (الف) شرکت د لوړ ردیف نهاد او د ( ب ) شرکت د ښکته ردیف نهاد په توګه ګڼل کیږي.

## څلورمه بېلګه:

د ( هـ ) شرکت یو بهرني پانګه اچوونکي شرکت دې چې په یو افغاني سهامي شرکت { (و) شرکت}کې ونډه لري. د (و) شرکت د دویم افغاني سهامي شرکت {( ز) شرکت} ټولې پلورل شوې ونډې په اختیار کې لري. د (و) شرکت یوازېنۍ شتمنۍ له هغې ونډې څخه عبارت ده چې په ( ز) شرکت کې یې لري او د ( ز) شرکت شمتنۍ له هغې ثابتې شتمنۍ څخه عبارت دي چې د بامیانو په ولایت کې موقعیت لري. که چیرې د (هـ) شرکت د (و) شرکت ونډه وپلوري، نو لاسته راغلې ګټه داسې ګڼل کیږي چې له افغاني سرچینې څخه لاسته راغلې ځکه د (و) شرکت شتمنۍ ( په غیر مستقیم ډول ددې شرکت په ملکیت کې ده ) عمدتاً په افغانستان کې په ثابتې شتمنۍ کې شاملیږي.

## ثابته شتمنۍ څه ډول شتمنۍ ده ؟

د « ثابتې شتمنۍ» اصطلاح د مالیه ورکوونکي د ملکیت په معني ده (پرته له دې چې د مالیه ورکوونکي له سوداګریز فعالیت یا تشبث سره تړاو لري او کنه ). په دې اصطلاح کې شته ونډې اویا نور ورته هغه ملکیتونه نه دي شامل چې د کال تر پای پورې په موجودي کې شاملیږي (د لاس رسۍ په صورت کې). همدارنګه په دې اصطلاح کې هغه ملکیتونه نه دي شامل د پلور په موخه شتون لري.

د ملکیت د پلور ګټه یا ضرر څرنګه محاسبه کیږي.

د شتمنۍ د پلور، تبادلې او یا لیږد (انتقال) له درکه د لاسته راغلې ګټې او ضرر په لاندې ډول معلومیږي:

- د عوایدو بیه یا ارزښت چې د شتمنۍ له پلور، تبادلې او یا لیږد څخه لاسته راغلې
- کم /لږ: استهلاک له کسر سره اصلي بیه
- مساوي: د د بیلانس د رقم پلې کول ( د ۱۰ ضمیمې د استهلاک کاري پاڼو ته مراجعه وکړئ)
- کم/لږ : ټول هغه لګښتونه چې په قانوني توګه کسرکیدونکي دي.

- مساوي: معلومه شوې ګټه یا ضرر

د د مالیې ورځې د محاسبې پرمهال ځانګړې کشرات جواز لري چې په لاندې ډول د ي:

- دملکیت لرونکي مالیه ورکوونکي لګښت او هغه پانګه اچوونه چې پلورل شویده، او همداراز د لوړوالي یا بهبودۍ دایمي لګښت، منفي هغه مجموعي رقم چې د لاسته راتلو له وخته استهلاک ور دي.
- د پلور لګښتونه - د پلور د کمیشن، د اعلانونو د لګښتونو، حقوقي لګښتونو، د اسنادو او معاملاتو مالیې په ګډون هرډول پلورنې او دمالونو لیږد.

## پنځمه بیلګه

د یو افغان سهامي شرکت ۱۰ ونډې «الف» شرکت د ډالۍ په توګه ورکوي او دغې ونډې «الف» شرکت ته د صفر په بیه تمامیږي. که چیرې د الف شرکت دغه ونډې په **۵۰۰۰۰** افغانۍ وپلوري، **۵۰۰۰** افغانۍ باید د پلورد فیس په ډول ورکړي. په دغه صورت کې به د الف شرکت **۴۵۰۰۰** افغانۍ ګټه ولري.

د الف شرکت باید **۴۵۰۰۰** افغانۍ ګټه د دریمې برخې په ۱۲۰ کرښه کې ولیکي.

## شپږمه بیلګه:

د **۱۳۸۲** کال د کب په **۲۹** نېټه، د «ب» شرکت د خپل دفتر و دانۍ په **۱۳۰۰۰۰۰۰** افغانۍ پلوري. یاده شوې ودانۍ د **۱۳۸۲**کال د وري (**حمل**) په لومړي نیټه په **۱۰۰۰۰۰۰۰** افغانۍ پیرودل شوې وه. د نوموړې ودانۍ کلنۍ استهلاک **۲۰۰۰۰۰** افغانۍاو د پنځو کلونو وضع شوې مجموعه ئې **۱۰۰۰۰۰۰** افغانۍ کیږي. پس د پلور لګښت ئې **۵۰۰۰۰** افغانۍ دي او لاسته راغلې ګټه یې په لاندې ډول **محاسبه کیږي:**

| | |
|---|---|
| **د پلور بیه** | **۱۳،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ** |
| **اصلي بیه** | **۱۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ** |

| | | |
|---|---|---|
| منفي: استهلاک | ۱۰،۰۰۰،۰۰۰ | ۹،۰۰۰،۰۰۰ |
| د لګښت له وضع کولو نه وروسته پاتې رقم | | ۴۰۰۰۰۰۰ |
| منفي : د پلور لګښت | | ۵۰،۰۰۰ |
| د پلور له درکه پانګه ایزه ګټه | | ۳،۹۵۰،۰۰۰ افغانۍ |

## د «ب" شرکت د ریمې برخې په ۱۲۰ کرښه کې ۳۹۵،۰۰۰۰ افغانۍ لیکي.

که چیرې یاد شوي شرکت د ۱۳۸۲ کال په اوږدو کې له یوې څخه زیاته شتمنۍ وپلوري، په ۱۲۰ کرښه کې د ګټې او ضرر مجموعه چې د ټولو شتمنیو د پلور له درکه لاسته راغلې ده، لیکل کیږي. د « ب" شرکت باید ټول هغه اسناد چې په ۱۲۰ کرښه کې دشته عدد څخه لاسته راغلي دي، له ځان سره وساتي.

## اوومه بیلګه:

ددې بیلګې معلومات او حقایق د دریمې بیلګې معلوماتو او حقایقو ته ورته دي یوازې په دې توپیر چې دا شرکت د دفتر خپله ودانۍ د ۸۰۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې پلوري. پانګه ایز ضرر په لاندې ډول محاسبه کیږي:

| | | |
|---|---|---|
| د پلور بیه افغانۍ | | ۸۰۰۰۰۰۰ |
| اصلي بیه افغانۍ | | ۱۰۰۰۰۰۰۰ |
| منفي: استهلاک | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰۰۰ |
| د لګښت له وضع کولو نه وروسته پاتې رقم | | (۱۰۰۰۰۰۰) |
| منفي: د پلور لګښت | | ۵۰۰۰۰ |
| له پلور څخه لاسته راغلي پانګه ایز ضرر | | (۱۰۵۰۰۰۰) افغانۍ |
| د ب شرکت د دریمې برخې په ۱۲۰ کرښه کې | | ۱۰۵۰۰۰۰ افغانۍ لیکي. |

## ۴۷۰ کرښه - متفرقه عواید

پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پر بنسټ دغه کرښه له هغو متفرقه عوایدو او مالیې

وړ عوايدو له محاسبې پورې تړاولري چې د دريمې برخې په هيڅ کومه کرښه کې نه دي ليدل شوي.

پرعايداتو باندې د مالياتو قانون پربنسټ په ماليې وړعوايدو کې لاندې موارد شامل دي:

- معاش، اجورې، فيس او کميشن
- له سوداګريزو او صنعتي فعاليتونو څخه ټول لاسته راغلي عوايد،
- د منقولې او نا منقولې شتمنۍ له پلور څخه لاسته راغلي عوايد،
- تېکنانه، د ونډې ګټه، کرايه، حق الامتياز، جايزې ، مکافات، بخششي ( اضافي يا تشويقي معاش )
- د شراکت د ناخالصو عوايدو له درکه ويشل شوې ونډې ،
- له کار، پانګې او اقتصادي فعاليت څخه لاسته راغلي عوايد،
- له نورو هغو موارد و څخه لاسته راغلي عوايد چې پرعايداتو باندې د مالياتو په قانون کې توضيح شوي دي
- نور هغه عوايد چې په اړه يې پرعايداتو باندې د مالياتو په قانون کې کوم حکم وجود نه لري.

هغه عوايد چې د دريمې برخې په هيڅ کرښه کې نه وي ليکل شوي په ۴۷۰ کرښه کې ليکل کيږي. د مالياتي اظهارليک د نورو برخو په څير په دغه کرښه کې د ليکل شوي رقم او نورو اړوندو معلوماتو په اړه بايد حمايوي اسناد او معلومات بايد برابر کړل شي (که چيرې د عوايدو لوی رياست يې غوښتنه وکړي).

## ۵۰۰ کرښه - د ماليې وړ عوايدو مجموعه

د ماليې وړ عوايدو د مجموعي رقم د لاسته راوړلو په موخه بايد هغه رقمونه سره جمع کړل شي چې له ۴۰۰ کرښې نه تر ۴۷۰ کرښې کې شتون لري او د جمع حاصل يې بايد په ۵۰۰ کرښه کې وليکل شي.

## ۴. ۳. ۲. له ماليې څخه معاف عوايد

له ماليې څخه معاف عوايد له هغو عوايدو څخه عبارت دي چې پرعايداتو باندې د مالياتو قانون او يا د يوې اعتبارلرونکې نړيوالې معاهدې پربنسټ د ماليې تابع نه ګرځي چې لاندې موارد په کې شامل دي:

- د دولت لخوا ورکړل شوې انعامونه، ډالۍ، جایزې او مکافات
- د بهرنیو هیوادونو، نړیوالو موسسو او یا غیر انتفاعي موسسو لخوا د پوهنې، هنري، ادبي، ټولنیز پرمختګ او نړیوالو پروګرامونو د تقدیر له امله ورکړل شوي بخششي، انعامونه، ډالۍ او جایزې.
- د مسلکي او تخنیکي روزنې او زده کړو لپاره کارکوونکو ته ورکړل شوي بورسونه( د زده کړو لګښت )، فیلوشیپونه ( د څیړنو لپاره لګښت ) او د زده کړو، د کیفیت د لوړوالي، د مسلکي او فني زده کړو او اصلاح، دکاري وړتیا د لوړوالي په موخه هر ډول ورکړل شوي مرستې.
- له روغتیایي، تصادم او د بیکاري له امله له بیمې څخه ترلاسه شوې ګټې
- د ژوند له بیمې څخه لاسته راغلي عواید چې له مرګ څخه وروسته ورکول کیږي،
- د تاوانونو ورکړه، د ټپونو، ناروغي او اعتبار د جبران او دحیثیت د اعاده کولو لپاره ورکړې
- د پورونو ترلاسه کول
- د شرکتونو لخوا د ونډو او ضمانت سندونو د صادرولو له لیارې لاسته راغلي عواید،
- د کورنیو سهامي شرکتونو او نورو حکمي نهادونو له ادغام څخه د شتمنۍ لاسته را وړل،
- د پور ورکوونکي لخوا له پور اخستوونکي څخه دده د شتمنۍ د ملکیت د سلبولو له لیارې د منقولو او نا منقولو شتمنیو لاسته راوړل،
- په خپله له پور اخستوونکي د پور لاسته راوړل،
- د دولت او ښاروالیو لخوا د پور د سند د صادرولو په بدل کې لاسته راغلې ګټه،
- پر عایداتو باندې دمالیاتو قانون پربنسټ له مالیې څخه معاف نور هرډول رقم

له مالیې څخه د معافو عوایدو په اړه د لازیاتو او بشپړو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون تعلیماتنامې ته مراجعه وکړئ.

## ۵۵۰ کرښه - دهغو عوایدو په اړه پوښتنې چې د مالیې تابع نه دي

که چیرې تاسو په مالیاتي موده کې له عوایدو څخه معاف عوایدولرئ، د معافو عوایدو مجموعي رقم د دریمې کرښې په **۵۵۰** کرښه کې ولیکئ. د بررسي په وخت کې باید د عوایدو لوی ریاست ته له مالیې څخه دمعافو عوایدو په اړه معلومات او جزئیات برابر کړل شي.

که چیرې په مالیاتي دوره کې له مالیې څخه معاف عوايد ونه لرئ، ددریمې برخې په ۵۵۰ کرښه کې صفر ولیکئ.

## ۲۰۰ کرښه- د اړوندو اشخاصو په اړه معلومات ( انتقالي قیمت ګذاري)

که چیرې مو په مالیاتي دوره کې له اړوندو اشخاصو څخه کوم ډول ورکړې ترلاسه کړې وي ، له نوموړي شخص څخه ترلاسه شوي رقم باید ۲۰۰ کرښه کې ولیکل شي.

د اړوندو اشخاصو ( انتقالي قیمت ګذاري) په اړه د لازیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پنځمې ضمیمې (له اړوند شخص څخه د عوايدو لاسته راوړل ) ته مراجعه وکړئ.

که چیرې مو د مالیاتي اظهارلیک په ۲۰۰ کرښه کې کوم رقم لیکلي وي، پنځمه جدول باید بشپړ او له خپل مالیاتي اظهارلیک سره یې یو ځاي کړئ. د ۵ جدول یوه کاپي د مالیاتي لارښوود په ۱۲ ضمیمه کې شتون لري.
که چیرې مو په مالیاتي دوره کې له اړوند شخص څخه ورکړې ترلاسه کړې نه وي، نو په ۲۰۰ کرښه کې صفر ولیکئ.

## ۴.۴ د مالیه ورکوونکي څرګندونې

د فورمې په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي واك لرونکي استازي څرګندونې موجودې وې چې په سمه او دقیقه توګه لیکل شوي او سرچینه ایز اسناد او دفترونه هم ساتل شوي دي. د مالیه ورکوونکي استازي ( د بیلګې په توګه محاسب یې ) دده په استازیتوب لاسلیک کوي. سره له دې چې مالیاتي اظهارلیک د مالیه ورکوونکي د استازي لخوا لاسلیک کیږي ، ولي بیا هم په خپله مالیه ورکوونکي په مالیاتي اظهارلیک کې د شته معلوماتو په اړه مسؤلیت لري.

## د واك لرونکي (باصلاحیته) استازي لاسلیک

واك لرونکی استازي باید په دې ځاي کې خپل نوم ولیکي.

په دې ځاي کې هغه نیته لیکل کیږي چې د مالیه ورکوونکي استازي په کې پر عایداتو باندې د مالیاتو کلني اظهارلیک لاسلیک کړي دي.

د واك لرونكي استازي نوم
د واك لرونكي كاركوونكي نوم بايد په څرګنده توګه په دې ځاي كې وليكل شي.

د واك لرونكي استازي دنده يا موقف د سهامي او يا محدودالمسؤليت شركت د واك لرونكي استازي دنده/ موقف په دغه ځاي كې ليكل كيږي. دغه واك لرونكى شخص معمولاً د شركت رئيس، معاون او يا مالي مسؤل وي. كه چيرې شركت يو بهرني نهاد وي، كيداي شي د نوموړي شركت استازي محلي (كورني) كاروكوونكي وي.

## سستاسې حسابونه ستاسو له ادارې نه بهر د نورو نهادونو لخوا په څه ډول تفتيش شوي دي ؟

د « هو» او « نه» كلمو په كارولو سره ځواب وواياست چې آيا حاسبابونه مو د يوې ثتب او راجسټر شوې ادارې لخوا تفتيش شوي دي او كنه .

## له لمريز كال نه پرته د محاسبوي كال په توګه كوم بل كال منظور شوي دي؟

په خړ رنګي ځاي كې په ليكلي ډول د هو (مثبت) يا نه (منفي) ځواب وليكئ او څرګنده كړئ چې آيا ستاسې شركت لپاره د لمريز كال نه پرته كوم بل محاسبوي كال د عوايدو رياست لخوا منظور شوي دي او كه نه. وړاندې تر دې چې له لمريز كال نه پرته له كوم بل محاسبوي كال وكاروئ، د عوايدو رياست لخوا بايد په دې اړه ليكلې منظوري ترلاسه كړئ.

## موده يا وخت

كه چيرې موپورتنۍ پوښتنې ته مثبت ځواب ويلي وي ، نو څرګنده كړئ چې تعويض شوي محاسبوي مقدار څومره دي ، او موده يې له ...............تر ...............پورې وليكئ.

## ۵. د مالیاتي اظهارلیک بشپړول-د مجاز مجرائي محاسبه (د مالیاتي اظهارلیک څلورم مخ)

### ۵. ۱. سریزه

د مالیاتي اظهارلیک له دغې برخې څخه د مجاز مجرائي د محاسبې لپاره کار اخیستل کیږي.

### ۵. ۲. د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

د مالیاتي اظهارلیک په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د پیژندنې هغه نمبر او نوم چې دمالیاتي اظهارلیک په لومړۍ برخه کې لیکل شوي دي، لیکل کیږي.

### ۵. ۳. څلورمه برخه: د مجاز مجرائي محاسبه

مجاز مجرائي د مالیه ورکوونکي د هغوعوایدو له تولید، لاسته راوړنې، ساتنې او له عادي او ضروري لګښت څخه عبارت دي چې پر عایداتو باندې دمالیاتو قانون پربنسټ د مالیه ورکوونکي د عوایدو او پلورلپاره مجرائي ورکول کیږي. په پورتنیو عادي اوضروري لګښتونو کې هغه عادي لګښتونه هم شامل دي چې د عوایدو د لاسته راوړلو پرمهال کارول کیده.

دغه لګښت باید د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د احکامو پربنسټ باید د مالي کال په جریان کې او یا هم له تیرو درې کلونو څخه په یوه کال کې ترسره شوي وي. مجاز مجرائي پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون په تعلیماتنامه کې په بشپړه توګه تشریح شوې ده.

### مجرایي وړ لګښتونه په لاندې ډول دي

هغه لګښت چې له تولید، سودا ګرۍ او د فعالیت د پرمخ وړلو پورې تړاو لري (د بیلګې په توګه د بیمې او اجناسو دلیږد محصول)،

- هغه وسایل، مواد، روغنیات، بریښنا، اوبه او نور عادي او ضروري لګښتونه چې د عوایدو په تولید او یا سوداګریزوفعالیتونو کې کارول کیږي.
- هغه اجورې، معاشونه، کمیشن او فیس چې کارکوونکو ته په سوداګریز

وفعالیتونوکې د خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې ورکول کیږي،

- هغه ټکتانه چې د پور په بدل کې ورکول کیږي ،
- د هغې ودانۍ کرایه چې د سوداګریزو فعالیتونو لپاره ضروري ده او په سوداګریزو فعالیتونو کې ورڅخه اخیستل کیږي (که چیرې د شتمنۍ له یوې برخې څخه د سوداګریز فعالیت او له بلې برخې څخه د شخصي ګټې اخیستنې لپاره کار اخیستل کیږي ، نو د کرائې ورکړې باید په دغې حالت کې د جلاشي ځکه چې یواځې د شتمنۍ د هغې برخې د کرائې لګښت د مجرائي وړ دې چې د سوداګریز فعالیت لپاره ورڅخه کار اخستل کیږي. کرایې یواځې هغه برخه کارول کیداي شي چې د مجرایي وړ ده.
- د هغې شتمنۍ او تجهیزاتو د ترمیم او ساتنې لګښت چې د سوداګریزو فعالیتونو لپاره ضروري دي او په همدغو فعالیتونو کې ورڅخه استفاده کیږي،
- د هغې منقولې او نامنقولې شتمنۍ استهلاک (له کرهنیزو ځمکو نه پرته) چې په سوداګریزو او یا اقتصادي فعالیتونو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي او یا هم پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د تعلیماتنامې مطابق د عوایدو د لاسته راوړونکي لخوا ساتل کیږي. د مالیه ورکوونکي لپاره د شتمنۍ د هر قلم استهلاک مجموعه باید په ټو کلونوکې د شتمنۍ له اصلي قیمت څخه زیات نه شي. یو حقیقي او حکمي اشخاص د شتمنۍ د هغې برخې لپاره د استهلاک دعوا نشي کولاي چې د ۱۳۸۷ کال د مالیاتو قانون د ۷۲ مادې پربنسټ یې ورڅخه مالیه نه ده وضع کړې.
- مالیه یا اجرت هغه وخت د اقتصادي فعالیت د ترسره کولو، د شتمنۍ د ساتلو او د عوایدو د تولید لپاره د ضروري لګښت په توګه ګڼل کیږي چې په مالي کال کې ورکړل شوي او یا متقبل شوې وي. هغه مالیات چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پربنسټ وضع شوي او هغه مالیات چې د اقتصادي فعالیتونو دترسره کولو لپاره د اړین لګښت په توګه نه ګڼل کیږي ، د مجرائي وړ نه دي مګر دا چې د مالیاتو په قانون کې یې په اړه په کوم بل ډول وړاندیز شوي وي (لکه د انتفاعي معاملو مالیه).
- د اور، زلزلې یا د هر ډول افت له کبله د درې کلونو په موده کې منقول او غیر منقول شتمنۍ ته رسیدلي ضررونه په هماغه اندازه د مجرائي وړ دي چې د تخریب شوې شتمنۍ بیه د اسنادو له مخې ټاکل شوي یا ثابت شوي وي او دا ضرر د بیمې لخوا ورکړل شوي نه وي (دا مجرایي باید د ۴ برخې په ۷۰ کربڼه کې ولیکل شي).
- پر عایداتو باندې دمالیاتوقانون دتعلیماتنامې له مخې په سوداګریزو او

اقتصادي فعالیتونو کې د نه ترلاسه کیدونکو پورونو له کبله منځته راغلي ضررونه،

- د هغه حکمي نهاد لخوا په نغدي توګه د ونډې ګټې ورکړه چې د افغانستان د نافذو قوانینو پربنسټ تاَسیس شوي دي.
- د اړوندو قانوني اسنادو پربنسټ د اقتصادي فعالیتونو د پرمخ وړلو او د عوایدو د تولید لپاره د منقول او غیر منقول شتمنۍ د ساتنې لګښت.

ځینې هغه لګښت چې مصرفیږي او په عادي او ضروري لګښت کې نه شاملیږي ، پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د پلي کولو په موخه د مجرائي وړ نه دي. بنائي چې د یو تشبث ګټه او خالص عواید د تشبث د خاوند د اسنادو پربنسټ دهغو خالصو عوایدو څخه لږ وي چې د مالیاتو د قانون له مخې ټاکل شوي دي.

د غیرمجاز لګښتونو مثالونه په لاندې ډول دي:

- تحفې/ډالۍ
- غیر قانوني لګښت ( لکه بډې )
- مرستې
- پر عایداتو باندې مالیې
- په هغو زیرمو کې زیاتوالي چې په قانوني ډول اړینې نه دي او یا د تیرو تجربو له مخې د پام وړ نه وي.
- په زیرمو کې هغه زیاتوالي چې قانوني جواز لري او د تجاربو له مخې هم د توجه وړ دي.
- د هغو پیرودل شوو اجناسو بیه چې د تشبث د خاونداو یا کارکوونکو لخوا د ځاني اویا کورني ګټو په موخه ورڅخه کار اخستل شوي دي او پلورل شوي نه دي.
- د هغو اجناسو بیه چې یو ځل پیرودل شوي او بیا څه وخت وروسته د پیسو د بیرته ترلاسه کولو په موخه عرضه کوونکي یا تولیدوونکي ته بیرته ورکړل شوي وي.
- هغه لګښت او بیه چې د تشبث د خاوند ، کارکوونکو او اداري پرسونل لپاره د ګټې د ترلاسه کولو سبب ګرځي او د اقتصادي فعالیت د پرمخ وړلو لپاره ضروري نه دي.

- د ځمکو، ودانیو او زیاتې مودې لپاره د استفادې وړ اقلامو (ماشین آلاتو، تجهیزاتو، وسایلو او فرنیچر) لګښت یا د نوموړو اقلامو د بهبود په موخه د هغوې په لګښت کې اضافه والې. د مجاز مجرايي لګښت له دې حکم څخه څخه مستثني دي.
- د ناڅاپي پېښو لګښت، ناوړو پورونو او نورو ورته موخو لپاره په زیرمو کې زیات والي.
- د غیر افغان مقیم شخص لخوا بهرنیو هیوادونو ته د هغو عوایدو له کبله ورکړل شوي مالیات چې له افغاني سرچینې څخه لاس ته راغلي. البته له مواردو نه پرته چې په اړوند یې کومه معاهده شتون ولري.
- هغه مالیات چې د مالیاتو قانون له مخې وضع شوي او هغه مالیات د مجرائي وړ نه دي چې د اقتصادي فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره د ضروري لګښت تابع نه دي، مګر دا چې د مالیاتو قانون په دې اړه کوم بل ډول حکم ولري.

## لومړۍ بیلګه

یو سهامي شرکت په یوه مالي کال کې ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ خالص عواید لاس ته راوړي. دا شرکت په یوه مالي کال کې د هغو عوایدو له کبله چې د تیر کال په جریان کې ئې تر لاسه کړي دي ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ مالیات ورکوي. دا چې پرعایداتو باندې د مالیاتو کسر مجاز نه دي، د الف شرکت نشي کولاي د ورکړل شوو ۱۲۰۰۰۰ افغانیو لپاره د مجرايي غوښتنه وکړي.

## دویمه بیلګه

د الف شرکت چې موټرو سوداګریز فعالیت لري په بشپړه توګه د یو ونډه لرونکي لخوا په اختیار (ملکیت) کې قرار لري. د پلور په موخه نوموړي شرکت ۱۰ ګړندي موټر چې د یوه موټر بیه یې ۱۶۰۰۰۰ افغانۍ ده، خریداري کوي.. د شرکت خاوند له دوه موټر وڅخه د خپلې کورنۍ لپاره کار اخلي او پاتي ۸ موټر پلوري (یو موټر ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې پلوري).

که چیرې ټولې پیرودنې د مجاز مجرائي په توګه ومنل شي، د الف شرکت د مجاز

مجرايي ګټه په لاندې ډول محاسبه کيږي:

| | |
|---|---|
| الف- له پلور څخه لاسته راغلي عوايد (۲۰۰۰۰۰× ۸ افغانۍ) | ۱۶۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ب- د پيريدلو ارزښت (۱۲۰۰۰۰ × ۱۰ افغانۍ) | ۱۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ج- ناخالصه ګټه | صفر |

اظهارليک بايد سم او په لاندې ډول وي:

| | |
|---|---|
| الف- له پلور څخه لاسته راغلي عوايد (۸ × ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ) | ۱۶۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ب- د پيريدلو بيه منفي هغه دوه عرادې چې | ۱۲۸۰۰۰۰ افغانۍ |
| د شخصي موخو لپاره کارول کيږي (۱۲۰۰۰۰ ×۸ افغانۍ) | |
| ج- ناخالصه ګټه | ۳۲۰۰۰۰ افغانۍ |

د پورتني غيرمجاز لست نه پرته د لاندې لګښتونو لپاره هم هيڅ ډول مجرائي نه ورکول کيږي:

- د سرګرمي او اعلانونو د ترتيبولو په موخه هغه لګښت چې له اقتصادي يا سوداګريزو فعاليتونو سره هيڅ تړاو نه لري،
- د ونډې ګټې، ټکټانې، حق الامتياز ، کرايې، کميشن، اجورې، معاشونو لګښتونه او نور هغه ورته لګښتونه چې حکمي اشخاص يې بايد د مالياتو قانون د احکامو پربنسټ له هغونه ماليه وضع کړي او ونشي کړاي چې دغه ماليې وضع کړي ،
- په افغانستان کې د غير ميشت شخص نا مستقله نماينده ګي، هرهغه لګښت چې غرمقيم شخص ته ورکول کيږي او يايې په خپله مصرفوي يا هر هغه شخص ته ورکړې چې له ده سره اړيکې لري.

## شخصي لګښت د مجرائي وړ نه دي چې لاندې موارد په کې شامل دي:

- هغه لګښت چې اشخاصو ته د هغوې او ياد هغوې د کورنۍ د ګټو او خوښې لپاره ورکول کيږي.
- د ماليه ورکوونکي او دده دکورنې د استوګنځي د ساتنې، بيارغاونې،

بهبودي ، ساختمان او تجهيزاتو لګښت ، يا د هغه استوګنځي او کور لګښت چې ماليه ورکوونکي د ځان د استوګنې او يا هم د کورنۍ د استوګنې لپاره غوره کړې دي

- د شخصي پورونو له درکه ټکتانه،
- د کار ځای ته د تګ او راتګ لګښت او يا د شخصي موخو لپاره د سفر لګښت،
- د ماليه ورکوونکي او د ده دکورنۍ د ساتنې لپاره د ژوند، دحادثاتو او روغتيا بيمې لګښت،
- د هغې شتمنۍ د ساتنې لپاره د هر ډول بيمې لګښت چې د شخصي موخو لپاره ورڅخه کار اخستل کيږي.

## ۲۱۰ کرښه - اعلانونه او سرګرمي

د کال په اوږدو کې د اعلانونو او سرګرميو د لګښت مجموعي رقم بايد د مالياتي اظهار ليک (د هغو اعلانونو او سرګرميو د لګښت نه پرته چې په نيغ ډول له اقتصادي يا سوداګريز فعاليت سره تړاو نه لري) په ۲۱۰ کرښه کې ليکل کيږي.

## ۲۲۰ کرښه - نه ترلاسه کيدونکي پورونه

دهغو پورونو مجموعي رقم (له هغو رقمونو نه پرته چې نور اشخاص ستاسې پوره ورې دي) چې د نه ترلاسه کيدونکو پورونو په توګه ګڼل کيږي په ۲۲۰ کرښه کې ليکل کيږي.

يو ماليه ورکوونکي په لاندې حالاتو کې کولای شي په يوه مالياتي کال کې دنه ترلاسه کيدونکو پورونو لپاره مجرايي ترلاسه کړي:

- د پور هغه رقم چې لا دمخه د ماليه ورکوونکي په ماليې وړ عوايدو کې شامل شوي وي
- دکال په اوږدوکې د ماليه ورکوونکي له حساب نه حذف شوي پورونه
- ماليه ورکوونکي بايد ددې لپاره مناسب شواهد ولري چې پور بيرته نشي ترلاسه کيداي

**بیلګه:**
احمد اعلاناتي شرکت د ورځپاڼو او راډیویي شبکو لپاره اعلاناتي خدمتونه وړاندې کوي. د یوه تړون له مخې نوموړي شرکت په هره میاشت کې د شیراز رستورانت اعلانونه د ورځپاڼې او راډیو له لیارې خپروي او شیراز رستورانت ته ددې خدمت په بدل کې ۵۰۰۰ افغانیو بل استوي. شیراز رستورانت په یوه میاشت کې دغه پیسې نه ورکوي او د احمد شرکت دا تړون فسخ کوي. داچې د احمد شرکت د محاسبې له وروستي سیستم څخه کار اخلي او داچې اعلاناتي خدمتونه یې لا له وړاندې نه وړاندې کړي او ۵۰۰۰ افغاني یې لا پخوا په خپلو عوایدو کې شاملې کړي دي. شرکت کوښښ کوي چې پیسې لاسته راوړي او په پایله کې رستورانت خپل فعالیت ځنډوي. د احمد شرکت ددې لپاره چې پور بیرته نشي ترلاسه کیداي مناسب شواهد لري او کولای دغه رقم د نه ترلاسه کیدونکي پور په توګه وګڼي او دهغه رقم لپاره پرعایداتو باندې د مالیاتو د کسر غوښتنه وکړي چې نشي ترلاسه کیداي.

یادداښت: که چیرې یو رقم د نه ترلاسه کیدونکي پور په توګه ولیکل شي ولې پوره وړې بیا وروسته دغه رقم په بشپړه توګه او یا یې یوه برخه ورکړي، دا رقم د عوایدو په توګه ګڼل کیږي.

## ۲۳۰ کرښه - د انتفاعي معاملو٪ ۲ ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیه

په مالي کال کې د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ د ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیې رقم باید په دې کرښه کې ولیکل شي. د دریم جدول ۲۰ کرښې ( چې د مالیاتي لارښوود په دریمه ضمیمه کې شتون لري) رقم باید په ۲۳۰ کرښه کې ولیکل شي.

د انتفاعي معاملو ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیه په عین مالیاتي کال کې د مالیې وړ عوایدو د محاسبې پر مهال د مجرائي وړ لګښت په توګه ګڼل کیږي.

د انتفاعي معاملو د ۲٪ مالیې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه ددې مالیاتي لارښود دریمې ضمیمې او یا هم دریم مالیاتي لارښوود ( د انتفاعي معاملو ۲٪ او ۵٪ مالیه) ته مراجعه وکړی.

## ۲۴۰ کرښه - د انتفاعي معاملو٪ ۵ ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیه

په مالي کال کې د انتفاعي معاملو٪ ۵ ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیې رقم باید په دې کرښه کې ولیکل شي. د دریم جدول ۲۱۰ کرښې (چې د مالیاتي لارښوود په دریمه ضمیمه کې شتون لري) رقم باید په ۲۴۰ کرښه کې ولیکل شي.
د انتفاعي معاملو ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیه په عین مالیاتي کال کې د مالیې وړ عوایدو د محاسبې پر مهال د مجرائي وړ لګښت په توګه ګڼل کیږي.

د انتفاعي معاملو د٪ ۵ مالیې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه ددې مالیاتي لارښود دریمې ضمیمې او یا هم دریم مالیاتي لارښوود (د انتفاعي معاملو٪ ۲ او٪ ۵ مالیه) ته مراجعه وکړئ.

## ۲۵۰ کرښه - د انتفاعي معاملو ٪۱۰ ورکړل شوې یا دورکړې وړ مالیه

په مالي کال کې د انتفاعي معاملو د ۱۰٪ ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیې رقم باید په ۲۵۰ کرښه کې ولیکل شي. د دریم جدول ۲۰ کرښې (چې د مالیاتي لارښوود په دریمه ضمیمه کې شتون لري) رقم باید په ۲۵۰ کرښه کې ولیکل شي.

د انتفاعي معاملو ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیه په عین مالیاتي کال کې د مالیې وړ عوایدو د محاسبې پر مهال د مجرائي وړ لګښت په توګه ګڼل کیږي.

د انتفاعي معاملو د٪ ۱۰ مالیې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه ددې مالیاتي لارښود خلورمې ضمیمې او یا هم دریم مالیاتي لارښوود (د انتفاعي معاملومالیه) ته مراجعه وکړئ.

## ۲۶۰ کرښه - د مسافر وړونکو او بار وړونکو نقلیه وسایطو لګښت

د مسافر وړونکو او باروړونکو نقلیه وسایطو د لګښت هغه رقم باید محاسبه کړل شي چې د عوایدو له تولید، لاسته راوړلواو زیرمه کولو سره تړاو لري او دمالي کال په اوږدو کې لاسته راغلي دي. د دې ډول لګښتونو ښې بیلګې د واسطو (موټرو) عادي کارونه لکه د موټرو ترمیم، د ټایرونو بدلولو او د ماشین (انجن) ساتنه او څارنه په کوچنیو کارونکو کې شاملیږي اما په هغو لګښتونو کې نه شاملیږي چې د شتمنۍ په پانګه ایز ارزښت کې زیاتوالي راولي.

## ۲۷۰ کرښه - د ناڅاپي پېښو او آفتونو له امله تاوانونه

دغه تاوانونه له هغه ضرر یا تخریب څخه عبارت دي چې د اور، زلزلې او یا د کوم بل ډول آفت له کبله منقول او غیر منقول شمتنې ورڅخه زیان منه کیږي اود بیمې لخوا هم نه جبران کیږي. د دغو تاوانونو لپاره ددرې کلونو په موده کې مجرایي ورکول کیږي ( په یوه کال کې ورته د دریمې برخې لپاره ورکول کیږي ).

ددغه مالیاتي لارښود په ۱۰ ضمیمه کې د دغه ډول زیانونو له فورمې څخه باید د زیان د هغه رقم په محاسبه کې وکارول شي چې د مجرائي لپاره ئې غوښتنه کیداي شي.
ددغې فورمې یوه کاپي ددې لارښوود په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.
ددغې فورمې یوه کاپي باید د مالیه ورکوونکي په دوسیه (اسنادو) کې وساتل شي.
پر عایداتو باندې د مالیاتو له کلني اظهارلیک سره د دغه سند ضمیمه کولو ته اړتیا نشته.

## ۲۸۰ کرښه - کمیشن او فیس

د هغه کمیشن او فیس رقم چې د خدمتونو په بدل کې ورکړل شوي او د عادي او ضروري لګښتونو له جملې څخه شمیرل کیږي په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۹۰ کرښه - عادي استهلاک

د لومړي جدول په ۲۰۰ کرښه کې دعادي استهلاک لګښت ( چې ددې مالیاتي لارښود په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري) باید په دې کرښه کې ولیکل شي.

د استهلاک په اړه د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د دغه مالیاتي لارښود د لومړۍ ضمیمې ،لومړي جدول ( عادي استهلاک) او ۱۱ ضمیمې ( د استهلاک کمپیوټري پاڼ ) ته مراجعه وکړۍ.

## ۷۰۰ کرښه - چټک استهلاک

د چټک استهلاک لګښت ( چې د مالیاتي لارښوود په ضمیمه کې شتون لري) د ۲ جدول له ۱۰۰ کرښې څخه په دې کرښه کې لیکل کیږي.

دچټک استهلاک په اړه د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د دغه مالیاتي

لاربنود د ۲ ضمیمي ، ۲ جدول ( چټک استهلاک ) او د کمپیوټري پاڼو ۱۱ ضمیمې ته مراجعه وکړی.

## ۷۱۰ کربنه - د ونډې ورکړل شوې ګټه

د هغې ونډې ګټې رقم په دې کربنه کې لیکل کیږي د شرکت لخوا ورکول شو دي. مالیه ورکوونکي باید په دې حالت کې د افغانستان د قوانینو پربنسټ رامنځته شوي حقوقي شخصیت وي.

د ونډې ګټه د پیسو او شتمنی له هغه ویش څخه عبارت دي چې له لاسته راغلو عوایدو څخه د شرکت لخوا ونډه لرونکو او شریکانو ته ورکول کیږي. د ونډې ګټه د لاندې حکمونو تابع ده:

- د ونډې هغه ګټه چې د نغدو پیسو په شکل د مالیه ورکوونکي له عوایدو څخه ورکړ ل شوې ده ، د مجرایي وړ ده.په دې اړوند استثنایي حالات هغه دي چې ورکړې د مجرایي وړ نه وي ، په دې معنی چې پرورکړه باندې مالیه نه ده وضع شوې او د عوایدو لوی ریاست ته نه ده ورکړ ل شوې.
- د ونډې ورکړل شوې ګټه چې په هرډول ضمانت سره وي، د مالیه ورکوونکي له عوایدو څخه د مجرایي وړ نه ده
- د ونډې هغه ګټه چې د پیسو په بڼه ورکول کیږي، د ورکړې پرمهال د لاسته راوړونکي کس د مالیې وړ عوایدو په توګه ګڼل کیږي. ولې د ونډې هغه ګټه چې د هرډول ضمانت په بڼه ورکول کیږي، د ورکړې پرمهال د لاسته راوړونکي کس د مالیې وړ عوایدو په توګه نه ګڼل کیږي. له پلور ، تبادلې ، بیرته ورکړې او د ضمانت له لیږد څخه لاسته راغلي عواید د مالیې تابع/ وړ عواید ګڼل کیږي.

## لومړۍ بیلګه

ادیب او وحید په جلا توګه په (الف) افغاني سهامي شرکت کې ۵۰ ونډې لري. یعنې د (الف) په شرکت کې ۱۰۰ نا پلورل شوې ونډې پاتې دي. ددې شرکت په حساب کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه جمعه شوې ده. شرکت ادیب او وحید ته زیاته ونډه صادروي چې هره ونډه یې ۹۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. د الف شرکت نشي کولای د زیاتو نډو د ویش له امله کوم رقم وضع کړي.

## دویمه بیلګه

ادیب او وحید په جلا توګه په (ب) افغاني سهامي شرکت کې ۵۰ ونډې لري. یعنې د (ب) په شرکت کې ۱۰۰ نا پلورل شوې ونډې پاتې دي. د ب شرکت ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ مجموعي ګټه لري. نوموړي شرکت أدیب أو وحید ته د پور ونډې ورکوي چې هریوه ونډه ۱۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. د ب شرکت نشي کولاي د پورتنیو ونډو ارزښت له خپلو مالیې وړ عوایدو څخه وضع کړي.

## دریمه بیلګه

او وحید په جلا توګه په (ج) افغاني سهامي شرکت کې ۵۰ ونډې لري. یعنې د (ج) په شرکت کې ۱۰۰ نا پلورل شوې ونډې پاتې دي. ددې شرکت په حساب کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه جمع شوې ده. نوموړي شرکت د «د» ۲۰۰ ونډې په واک کې لري او دغه ونډې ادیب او وحید ته ورکوي. د" د" شرکت هره ونډه ۱۰ افغانۍ ارزښت لري. د ج شرکت نشي کولاي د " د" شرکت د ونډو ارزښت (چې ویشي یې) ته له خپلو مالیې وړ عوایدو څخه مجرایي ورکړي. د" د" شرکت له ونډو سره د نورو شتمنیو د اقلامو په څیر معامله کیږي.

## څلورمه بیلګه :

ادیب او وحید په جلا توګه په (ذ) افغاني سهامي شرکت کې ۵۰ ونډې لري. د (ذ) په شرکت کې ۱۰۰ نا پلورل شوې ونډې پاتې دي. ددې شرکت په حساب کې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه جمع شوې ده. د (ذ) شرکت د (ر) شرکت لخوا صادر شوي د ونډې پورونه په واک کې لري چې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. د (ذ) شرکت ادیب او وحید ته د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت ونډې ورکوي. د (ذ) شرکت کولاي د (ر) شرکت د پور ونډې د ارزښت لپاره له خپلو مالیې وړ عوایدو څخه مجرایي ورکړي. د» ر" شرکت له ونډو سره د نورو شتمنیو د اقلامو په څیر معامله کیږي.
د ونډو ورکړل شوې ګټې په لاندې ډول دي:

- هغه ګټه په نغدي بڼه شریکانو ته ورکول کیږي،
- وضع شوې او دولت ته ورکړل شوې مالیه

هغه ګټه چې د پیسو په بڼه ورکول کیږي ، ۸۰ فیصده یې ونډه لرونکي او ۲۰ فیصده یې دولت ته ورکول کیږي.

کيداي شي بهرني شرکتونه خپل فعاليتونه د نامستقلو نمايندګيو ( چې په افغانستان کې ثبت او راجستر نه دي) او يا مستقلو نماينده ګيو ( چې په افغانستان کې ثبت او راجستر دي) له لياري ترسره کړي. پرنامستقلو نمايندګيو باندې د ماليې فيصدي ٪ ۲ ده. دا فيصدي له هغې فيصدي سره مساوي ده چې د ونډې پرګټې باندې تطبقيږي. په افغانستان کې له يوې نمايندګي څخه بلې نمايندګۍ او يا يو غيرميشت شرکت ته د ګټې ويش د ونډې ګټې په توګه ګڼل کيږي او د موضوعي ماليې (٪ ۲۰ نورم) تابع ګرځي.

د ونډې هغه فرضي ګټه چې د نمايندګيو لخوا ورکول کيږي يو کسر کيدونکي لګښت دي څکه د يوې نمايندګۍ د ونډې پرفرضي ګټې باندې د ماليې موخه داده چې د افغاني نمايندګيو او سهامي شرکتونو د کړنې چارې سره ورته /مشابه کړل شي.

دهغو ورکړو په اړه چې د غيرمستقلې نمايندګې لخوا د شرکت نورو برخوته ورکړل شوي دي، د نمايندګې دفترونه او اسناد بايد بررسي شي او کنه. که چيرې شرکت په مالي کال کې ګټه ترلاسه کړې وي او د کال د پاي په بيلانس کې د ګټې په توګه نه وي شامله کړې، نومورې ګټه د ويشل شوې ونډې ګټې په توګه ګڼل کيږي. د ونډې دغه فرضي ګټه د موضوعي ماليې تابع ده. د ونډې ګټې په اړه د رپوټ ورکولو په اړوند پرعايداتو باندې د مالياتو قانون تعليماتنامې ته مراجعه وکړۍ.

## ۷۱۰ ( الف) کرښه - له ورکړل شوې ونډې ګټې څخه وضع شوې ماليه

آيا له ورکړل شوې ونډې ګټې څخه ماليه وضع شوې ده؟ په ۷۱۰ (الف ) کرښه کې د «هو " او يا "نه" ځواب وليکۍ.
وضع شوې ماليه بايد له هغې مياشتې له پاي نه وروسته چې ماليه په کې ورکړل شوې ده د راتلونکې مياشتې تر ۱۰ ورځې پورې د ماليې وزارت په بانکي حساب کې ور کړل شي. البته دا کار د لاندې فورمو نه د کار اخيستنې په صورت کې ترسره کيداي شي: د موضوعي ماليې فورمه، د ټکټانې ، د ونډې ګټې او حق الامتياز په موخه د بانکي اماناتو فورمه.. دا فورمې د عوايدوله لوي رياست څخه ترلاسه کيداي شي.

د ونډې پر ګټې ، ټکټانې او حق الامتياز باندې د موضوعي ماليې په اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پرعايداتو باندې د مالياتو تعليماتنامې او يا ۱۰ لارښوود ( پرټکټانې، د ونډې پرګټې او حق الامتياز باندې موضوعي ماليه) ته مراجعه وکړۍ.

## ۷۲۰ (الف) کرښه - له هیواد څخه بهر ضرر/تاوان

آیا له هیواد څخه بهر ضرر شته ؟ ددغې پوښتنې مثبت (هو) او منفي ځواب (نه) باید په ۷۲۰ (الف) کرښه کې ولیکئ.

په دې کرښه د ضرر مجموعه نه لیکل کیږي، یوازې پکې د» هو" او " نه" ځواب لیکل کیږي.

د بهرنیو تاوانونو لپاره له هغو عوایدو نه مجرایي نشي ورکول کیدای چې په افغانستان کې له سوداګریز فعالیت څخه لاسته راغلي دي. بهرني تاوانونه باید له بهرنیو عوایدو سره تړاو ولري. بهرنیو تاوانونوته یوازې له هغې ګټې نه مجرایي ورکول کیږي چې له بهرنیوفعالیتونو څخه لاسته راغلي دي . دغه ډول تاوانونو ته له کورنیو فعالیتونو څخه د لاسته راغلې ګټې څخه مجرایي نه ورکول کیږي.

د ۱۳۸۵ مالي کال له پیل نه بهرني تاوانونه یوازې دمالیې وړ بهرنیو عوایدو څخه د مجرایي وړ دي. کیدای شي هغه میشت شرکتونه چې له هیواد څخه بهر اقتصادي فعالیتونه لري، په بهرني هیواد کې له تاوان سره مخ شي. په تیرو وختونو کې دغه ډول تاوانونه له کورنیوعوایدوڅخه هم د مجرایي وړ وه. د ۱۳۸۴ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې د نویو بدلونو پربنسټ (چې د ۱۳۸۵ کال د وري له لومړۍ نیټې څخه د پلي کیدو وړ دي) ، دغه ډول تاوانونه یوازې په بهر کې ددغه نهاد د راتلوونکو عوایدو څخه د مجرایي وړ دي. د هیواد دننه د نوموړي نهاد له اوسنیو عوایدو دغه تاوانونه د مجرایي وړ نه دي.

که چیرې تاسو بهرني تاوانونه ولرئ، ۷ جدول (په بهر کې د ورکړل شوو مالیو د مجرائي محاسبه) باید پشپړ او کاپي یې باید له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه کړئ. په دې اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د ۷ جدول ۷ ضمیمې (د بهرنۍ مالیې د مجرایي محاسبه) ته مراجعه وکړي. ۷ جدول په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.

د بهرني تاوانونو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترسره کولو لپاره د ۷ جدول ۷ ضمیمې ( په بهرکې د ورکړل شوې مالیې د مجرایي محاسبه) ته مراجعه وکړئ. ۷ جدول په ۱۱ ضمیمه کې موجود دي.

## ۷۳۰ کرښه - بیمه

د هغې بیمې رقم باید په دې کرښه کې ولیکل شي چې د شمتنۍ د بیمې په موخه ورکړل شوي دي. حق البیمه د اقتصادي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره عادي او قانوني لګښت بلل کیږي او په بشپړه توګه د مجرائي وړ ده.

## ۷۴۰ کرښه - ټکتانه

په دې کرښه کې د ټکتانې هغه رقم لیکل کیږي چې د کارې پور لپاره ورکړل شوې دي. هغه ټکتانه چې د سوداګریزو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د پور په توګه ورکړل شوې ده د مجرائي وړ ده ، ولې هغه ټکتانه چې د شخصي پور په توګه ورکړل شوې ده، د مجرا یې وړ نه ده. شخصي پور هغه پور دې چې د شخصي ګټې اخستنې په موخه د اجناسو، خدمتونه او یا شتمنۍ د پیرودلو لپاره اخیستل شوي وي. د سوداګریز فعالیت پورله هغه پور څخه عبارت دې چې د اجارې، دوباره پلور، د اجناسو تولید، خدمتونو او نورو اقتصادي موخو په خاطر د ځمکې، تعمیرونو، تجهیزاتو، اجناسو او داسې نورو د پیریدلو لپاره ترلاسه شوي وي.

ورکړل شوي ټکتانه د لاندې ارقامو مجموعه ده :

- پور ورکووني ته ورکړل شوې ټکتانه: جمع
- د هغې مالیې وضع چې د دولت حساب ته ورکول کیږي

کله چې ټکتانه ورکول کیږي ۸۰٪ یې بیمه ورکوونکي او ۲۰٪ یې دولت ته ورکول کیږي. د ټکتانې د شرطونو په اړه د رپوټ ورکولو لپاره پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون لارښوود ته مراجعه وکړۍ.

وضع شوې مالیه باید له هغې میاشتې له پاې نه وروسته چې مالیه په کې ورکړل شوې ده د راتلوونکې میاشتې تر ۱۰ ورځې پورې د مالیې وزارت په بانکي حساب کې ور کړل شي. البته دا کار د لاندې فورمو نه د کار اخیستنې په صورت کې ترسره کیداي شي: د موضوعي مالیې فورمه، د ټکتانې ، د ونډې ګټې او حق الامتیاز په موخه د بانکي اماناتو فورمه.. دا فورمې د عوایدوله لوي ریاست څخه ترلاسه کیداي شي.

## ۷۴۰ (الف) کرښه - له ورکړل شوې ټکټانې څخه وضع شوې مالیه

آیا له ورکړل شوې ټکټانې څخه مالیه وضع شوې ده؟ په ۷۴۰ کرښه کې د «هو" یا " نه" ځواب ولیکئ.

د ونډې ګټې ، ټکټانې او حق الامتیاز د موضوعي مالیې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون تعلیماتنامې او یا ۱۰ لارښوود ("د ټکټانې ، ونډې ګټې او حق لامتیاز موضوعي مالیه) تر سرلیك لاندې ته مراجعه وکړئ.

## ۷۵۰ کرښه - حقوقي او مسلکي خدمتونه

د هغو حقوقي او مسلکي خدمتونو رقم باید په دې کرښه کې ولیکل شي له کوم څخه چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو په تولید ، لاسته راوړلو او ذخیره کولو کې کار اخستل شوي دي. محاسبوي ، تفتیشي او حقوقي خدمتونه هم په دې رقم کې شامل دي.

## ۷۶۰ کرښه - د دفتر لګښت

د دفتر هغه لګښت چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو په تولید ، لاسته راوړلو او ذخیره کولو کې مصرف شوي دي، په دې کرښه کې لیکل کیږي. د قرطاسسیه، کمپیوټر، د چاپ ماشین او د د فتر د پاکولو وسایل او داسې نورشیانو لګښت د دفتر په دې لګښت کې شامل دي.

## ۷۷۰ کرښه - ترمیم ، ساتنه او څارنه (حفظ و مراقبت)

د ترمیم او ساتنې هغه رقم په دې کرښه لیکل کیږي چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو په تولید ، لاسته راوړلو او ذخیره کولو کې مصرف شوي دي. د لګښت ډول د مالیه ورکوونکي د تشبث د ډول په پام کې نیولو سره توپیر لري. ترمیم او ساتنه له اساسي لګښت څخه نه ګڼل کیږي، یعنې دغه کار نه دپانګې د زیاتوالي سبب ګرځي او نه هم د شتمنۍ د ثابت ارزښت د زیاتوالي سبب ګرځي .

د ودانۍ رنګول د ترمیم، ساتنې او مراقبت ښه بیلګه ده ، اما په تعمیرکې اساسي ترمیمات د یوې نوې کوټې له جوړولو څخه عبارت دي.

## ۷۸۰ کرښه - د کرائې یا اجارې لګښت

د هغې کرائې یا اجارې د ورکړې مبلغ په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو په تولید، لاسته راوړلو او ذخیره کولو کې مصرف شوي دي. ددغه ډول ورکړو یوه بیلګه د هغې کرایه شوې فابریکې لپاره دکرایې ورکړه ده چې د اجناسو د تولید لپاره ورڅخه کار اخستل کیږي او مالیه ورکوونکي بیا تولید شوي اجناس پلوري.

دورکړل شوې کرایې مجموعه په لاندې ډول ده:

- هغه کرایه چې مؤجر ته ورکول کیږي، او
- وضع شوې او دولت ته ورکړل شوې مالیې

په ځینوحالاتو کې دا څرګنده نه وي چې آیا دغه معامله د شتمنۍ له کرائې پورې اړه لري اویا دا چې نغدي پور د جایداد د تضمین لپاره برابر شوي دي. .

ددې موضوع د څرګند والي په موخه د عوایدو لوي ریاست حقایق او حالات په پام کې نیسي. د موضوع په څرګند والي کې عمده فکتور د جایداد قانوني مالکیت دي.

که چیرې په یوه معامله کې د یوې شتمنۍ ( یا دیوې برخې) حقوقي مالک له شتمنۍ څخه د ګټې اخستنې په بدل کې بل کس پیسې تر لاسه کړي، دغې معاملې ته د « اجارې « معامله ویل کیږ ي .

که چیرې په یوه معامله کې د پیسو په بدل کې بل کس ت د حقوقي مالکیت انتقال وومي ، دغې معاملې ته د « پلور « معامله ویل کیږي سره له دې چې د «تصور» کلمه مهمه ده.
که چیرې د اجارې وخت یا موده له ۱۲ میاشتو څخه زیاته شي اوله پورتنیو لا ملونو څخه یو یا زیات لاملونه شتون ولري ، د مالیاتي موخو پربنسټ دې معاملې ته « د کرایې له لیارې د شتمنۍ د پیرودلو" معامله ویل کیږي .

دغه ډول ټاکنه پر یو شمیر مالیاتي موضوع ګانو ( د عوایدو د مجرایي د مختلفو ډولونو په ګډون) باندې اغیزه لري. د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولولپاره پرعایداتو وباندې د مالیاتو تعلیماتنامې ته مراجعه وکړی.

پورتني موضوعات پرمالياتي موضوعاتو (لکه دعوايدو ټاکل/معلومول او د کسراتو مختلف ډولونه) باندې اغيزه لري.

## ۷۸۰ (الف) کرښه - د کرائې او اجارې پرورکړو وضع شوې ماليه

آيا له ورکړل شوي کرائې يا اجارې څخه ماليه وضع شوې ده؟ په ۷۸۰ (الف) کرښه کې د (هو) يا (نه) ځواب وليکئ.

## ۷۹۰ کرښه - حق الامتياز او اړوند لګښتونه

په دې کرښه کې د حق الامتياز او نورو هغو اړوندو لګښتونو هغه رقم وليکئ چې د تشبث د فعاليت لپاره، د عوايدو په موخه د جايداد ترلاسه کولو لپاره، د عوايدو د توليد لپاره ورکول کيږي.

ورکړل شوي حق الامتياز د لاندې اقلامو مجموعه ده:

- مالک ته ورکړل شوي حق الامتيازونه: او
- وضع شوې ماليه چې دولت ته ورکول کيږي

د حق الامتياز د ورکړې پرمهال، ٪۸۰ ئې مالک (امتياز لرونکي) او ٪۲۰ ئې دولت ته ورکول کيږي.

د حق الامتياز د ورکړې د مکلفيتونو په اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د مالياتو قانون تعليماتنامې ته مراجعه وکړئ.

## ۷۹۰ (الف) کرښه - د حق الامتياز پر ورکړه وضع شوې ماليه

آيا له ورکړل شوي حق الامتياز څخه ماليه وضع شوې ده؟ په ۷۹۰ (الف) کرښه کې د (هو) يا (نه) ځواب وليکئ.

## ۸۰۰ کرښه - تدارکات او اجناس

د تدارکاتو له درکه ورکړل شوي رقم (د عوايدو د توليد يا د تشبث د او سوداګرئ لپاره عادي او اړين لګښت دي) په دې کرښه کې ليکل کيږي.

## ۸۱۰ کرښه - د جواز فیس او د کسر وړ نورې ورکړل شوې مالیې

هره هغه مالیه او یا محصول د مجرایي وړ ده چې د اقتصادي فعالیت د ترسره کولو لپاره،د عوایدو د تولید لپاره او یا د عوایدو د تولید په موخه د شتمنۍ د ساتنې لپاره د اړین لګښت په توګه ګڼل کیږي البته که چیرې د مالي کال په اوږدو کې ورکړل شوي وي. په دې مالیو کې هغه ۲ فیصده مالیې هم شاملې دي چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پربنسټ پرتوریدي اجناسو باندې تطبیقیږي. هغه مالیې چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پر بنسټ تطبیقیږي او هغه مالیې چې د تشبث د اړینو لګښتونو په توګه نه ګڼل کیږي، په دې کې نه دي شاملې. دا ډول مالیې د مجرائي وړ نه دي مګر دا چې په اړه یې د مالیاتو په قانون کې کوم بل ډول حکم موجود وي. د مالیو او جواز مرقم په ۸۱۰ کرښه کې ولیکۍ.

## لومړۍ بیلګه

د (الف) شرکت ښاروالۍ ته د هغه سوداګریز جایداد له درکه چې یو مستاجر ته یې دیوه کال کرایې (۱۲۰۰۰۰ افغانیو) په بدل کې په کرایه ورکړي دي ، ۲۰۰۰۰ افغانۍ مالیه ورکوي. دا مالیه له کرایوي عوایدو څخه د مجرائي وړ ده. که چیرې استهلاک او د ترمیم لګښت په څرګند ډول صورت ونه مومومي او د مجرائي وړ نورلګښت هم شتون ونه لري، له نوموړي جایداد څخه لاسته راغلي خالص عواید به په لاندې ډول وي :

(الف) دکرایې مجموعه
۱۲۰۰۰۰ افغانۍ
(ب) د ښاروالۍ مالیه
۲۰۰۰۰ - افغانۍ
(ج) خالص عواید
۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
د (الف) شرکت باید د ۲۰۰۰۰ افغانیو رقم په ۸۱۰ کرښه کې ولیکي.

## ۸۲۰ کرښه - سفر او خواړه

په دې کرښه کې دهغه سفر او خوړو هغه رقم لیکل کیږي چې د تشبث د سوداګریز فعالیت د ترسره کولو لپاره، د جایداد د ساتنې ، د عوایدو د تولید او لاسته راوړلو په موخه ورکړل شوي دي.

## بیلګه

یو ساختماني شرکت چې له ښار څخه په لیرې واټن کې د اوبو یو بند جوړوي تصمیم نیسي چې هغوی باید هر ه ورځ له یوه نږدې ښارڅخه د کاري ترځایه پورې د سفر اسانتیاوې برابرې کړي تر څو کارکوونکي د کار په ساحه کې کار کولو ته وهڅول شي . دا داقتصادي فعالیت د ترسره کولو لپاره یوقانوني او مشروع لګښت دي او نوموړي شرکت کولاي شي چې د سفر د اسانتیاؤ د برابرولو لګښت وضع کړي.

**یادداښت:** که چیرې ځینې کارکوونکي د پروژې ساحې ته د تګ او راتګ لپاره له خپلو شخصي موټرو څخه استفاده وکړي، هغوی نشي کولاي چې د انفرادي مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو په وخت کې له خپلو عوایدو څخه دغه لګښت وضع کړي.

## ۸۳۰ کرښه - د هوساینې د وسایلو لګښت

د هوساینې وسایلو د ورکړل شوي لګښت رقم ( چې د تشبث د فعالیت ، د عوایدو د تولید او لاسته راوړلو لپاره د شتمنۍ د ساتلو د اړینو لګښتونو په توګه ګڼل کیږي) په دې کرښه کې لیکل کیږي. د هوساینې وسایل عبارت دي له بریښنا ، اوبو ، ګاز او داسې نورو څخه .

## ۸۴۰ کرښه - معاشونه او اجورې

د تشبث د فعالیت ، د عوایدو د تولید او لاسته راوړلو لپاره د شتمنۍ د ساتلو د اړینو لګښتونو په توګه د ورکړل شوو معاشونو لګښت په دې کرښه کې لیکل کیږي. په معاش یا اجورې کې لاندې موارد شامل دي: اجورې ، معاشونه، منظمې ورکړې، (امتیازونه) بخششې، د اضافه کاري لپاره ورکړې ، اضافي امتیازونه او دارزښت وړ نور هغه شیان چې د استخدام کوونکي لخوا نغدي توګه او یا هم په کوم بل ډول ورکول کیږي.

## لومړۍ بیلګه

یو کارکوونکي د ۴۰۰۰ افغانیو میاشتني معاش په بدل کې د (الف) شرکت لپاره کار کوي. نوموړي کارکوونکي د لیندۍ (قوس) په میاشت کې ترفیع کوي او میاشتني معاش ئې ۴۲۰۰ افغانیو ته لوړیږي چې دغه بدلون د تلې (میزان) میاشتې له لومړۍ نیټې څخه عملي کیږي. د ( الف ) شرکت د همدې کال په وروستیو کې هر کارکوونکي

ته د هغه د معاش له مخې ۵ فیصده امتیاز (بخششي) ورکوي. د (الف ) شرکت باید دغه ټول ارقام چې کارکوونکي ته ورکړل شوي دي، د معاش په رپوټ کې وښیي کړي او کارکوونکي هم مکلف دي چې پر عایداتو باندې د مالیاتو په خپل اظهارلیک کې دغه ارقام شامل کړي. د (الف) شرکت کولاي شي دهغو ارقامو لپاره د مجرائي غوښتنه وکړي چې په خپل کلني مالیاتي اظهارلیک کې یې شامل کړي دي :

| | | |
|---|---|---|
| الف- | معاش (لومړی ۶ میاشتې) (۶ × ۴۰۰۰ افغانی) | ۲۴۰۰۰ افغانی |
| ب- | معاش( وروستی ۶ میاشتې) (۶× ۴۲۰۰ افغانی) | ۲۵۲۰۰ افغانی |
| ج- | د ۱۲ میاشتو مجموعي معاش | ۴۹۲۰۰ افغانی |
| د- | د کال په وروستیو کې د کلني معاش (د ۴۹۲۰۰ ۵٪) | ۲۴۶۰ افغانی |
| هـ- | د (الف) شرکت مجموعي مجرائي | ۵۱۶۶۰ افغانی |

که چیرې نهاد یا تشبث دکارکوونکي پرعایداتو باندې مالیات ورکړي ، دا ورکړه د اضافي معاشونو د ورکړې په توګه کڼل کیږي او لکه څنګه چې په ۸۴۰ کرښه کې یې یادونه شوې ده د معاشانو د مجرائي وړ لګښت په توګه د مجرائي وړ دي .
د معاش ورکړې په لاندې ډول دي :

- کارکوونکي ته ورکړل شوي معاش، جمع
- هغه وضع شوې مالیه چې د دولت حساب ته ورکړل شوې ده

له معاش څخه د وضع شوو مالیو رقم د هر کارکوونکي د میاشتني معاش ( یا د هغه معادل) پر بنسټ په انفرادي ډول محاسبه کیږي . کیداي شي پر یوه انفرادي کارکوونکي باندې د وضع شوې مالیې رقم یو صفر فیصده، ۲ فیصده، ۱۰ فیصده او یا ۲۰ فیصده وي.
د معاشانو او اجورو د ورکړو په اړه د رپوټ ورکولو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون تعلیماتنامې ته مراجعه وکړی.

## ۸۴۰ (الف) کرښه - له ورکړل شوو معاشونو څخه وضع شوې مالیه

آیا له ورکړل شوو معاشونو څخه مالیه وضع شوې ده؟ په ۸۴۰( الف )کرښه کې د» هو " یا " نه" ځواب ولیکی.

## ۸۵۰ کرښه - متفرقه مجاز لګښت

په دې کرښه کې پر عايداتو باندې د مالياتو د قانون پر بنسټ ټولې هغه مجاز مجرائي شتون لري چې د ځلورمې برخې (د مجاز مجرايي محاسبه) په هيڅ کرښه کې نه دي ليکل شوي. ماليه ورکوونکي بايد د خپلو ټولوهغو کسراتو په اړه سم او دقيق اسناد ولري چې په دې کرښه کې يې غوښتنه کوي.

## ۹۰۰ کرښه - د مجاز کسراتو مجموعه

د مجاز مجموعي کسراتو د لاسته راوړلو لپاره بايد له ۲۱۰ کرښې نه تر ۸۵۰ کرښې پورې ټول ارقام بايد سره جمع شي او جمع حاصل يې بايد په ۹۰۰ کرښه کې وليکل شي.

## ۹۵۰ کرښه - د اړوندو اشخاصو په اړه پوښتنه (انتقالي بيه ايښودنه)

که چيرې مو په مالياتي دوره له اړوند شخص سره قرارداد لرلي وي، نو مجموعي رقم په ۹۵۰ کرښه کې «صفر» وليکئ.

د اړوندو اشخاصو (انتقالي بيه ايښودنه) په اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولولپاره ۵ ضميمې اړوندو اشخاصو ورکړې او له هغوی څخه لاسته راوړنې - انتقالي بيه ايښودنه) ته مراجعه وکړئ.

که چيرې مو په ۹۵۰ کرښه کې کوم رقم ليکلي وي، ۵ جدول بايد بشپړ او له مالياتي اظهارليک سره يې ضميمه کړئ. د ۵ جدول يوه کاپي ددې لارښوود په ۱۴ ضميمه کې شتون لري.

که چيرې مو په مالياتي دوره کې له اړوند شخص سره کوم قرارداد نه وي لرلي، نو په ۹۵۰ کرښه «صفر» وليکئ.

## ۹۶۰ کرښه - د بهرنۍ نمايندهګۍ يا مرکزي د فتر په اړه پوښتنې

که چيرې په مالياتي دوره کې تاسو له بهرنۍ نمايندګۍ يا مرکزي دفتر سره معامله ولرئ، د نوموړې معاملې مجموعي رقم بايد په ۹۶۰ کرښه کې وليکئ.

د فرضي ونډې ګټې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترسره کولو لپاره ۲ ضمیمې ( بهرنۍ نمایندګۍ یا مرکزي دفتر- دونډې فرضي ګټه) مراجعه وکړۍ.

که چیرې مو ۹۲۰ کرښه کې کوم رقم لیکلي وي، ۲ جدول بشپړ او له مالیاتي اظهارلیک سره یې ضمیمه کړۍ. د ۲ جدول یو نقل ددې لارښوود په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.

که چیرې مو په مالیاتي دوره کې له اړوند شخص سره کوم قرارداد نه وي لرلي، نو په ۹۲۰ کرښه کې» صفر» ولیکۍ.

## لومړۍضمیمه- داستهلاک اولومړۍ جدول په اړه معمومي معلومات (عادي استهلاک)

### ۱ .۱ الف سریزه

لومړي جدول ( معمولي استهلاک ) د معمولي استهلاک د لګښت د محاسبې په موخه کارول کیږي. د لومړي جدول مجموعه چې په ۲۰۰ کرښه کې ښودل شوي دي، د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې ( د مجاز کسراتو محاسبه) په ۹۲۰ کرښه ( معمولي استهلاک ) کې لیکل کیږي.

که چیرې تاسې د معمولي استهلاک د کسر لپاره غوښتنه لري، لومړي جدول (معمولي استهلاک) باید بشپړ او له خپل مالیاتي اظهارلیک سره یې ضمیمه کړۍ. د لومړي جدول یونقل له ځان سره وساتۍ.

لومړي جدول (معمولي استهلاک) په ۱۴ ضمیمه ( جدولونه او کاري پاڼې) کې شته دي.

### ۱ .۱ .۱ الف د استهلاک له کوم جدول څخه باید کار واخیستل شي؟

لومړۍ جدول ( معمولي استهلاک) یا دویم جدول (چټک استهلاک)
لومړۍ جدول ( معمولي استهلاک) د استهلاک د معلوماتو هغه خلاصه ده چې دهغې شتمنۍ په اسنادو او دفترونو کې شتون لري چې د معمولي استهلاک د فیصدي د نورم پربنسټ ورته استهلاک ورکول کیږي.
چټك استهلاك په لومړي جدول ( معمولي/عادي استهلاک) کې نه شاملیږي.

دویم جدول (چټک استهلاک) د استهلاک د معلوماتو هغه خلاصه ده چې دهغې شتمنۍ په اسنادو او دفترونو کې شتون لري چې د چټک استهلاک د فیصدي د نورم پربنسټ ورته استهلاک ورکول کیږي.
معمولي استهلاک په دویم جدول کې نه شاملیږي.

له راجستر شوو نهادونو څخه پرته نور ټول مالیه ورکوونکي د عادي استهلاک د فیصدي او معیارونو پربنسټ استهلاک محاسبه کوي ( لومړي جدول).

راجستر شوي نهادونه د ځانګړو شتمنیو استهلاک د چټک استهلاک د فیصدي او معیارونو پربنسټ محاسبه کوي (دویم جدول). راجستر شوي نهاد له هغهٔ نهاد څخه عبارت دي چي په افغانستان کې د کورني او بهرني خصوصي پانګه اچوني د قانون پربنسټ ثبت شوي وي. د چټک استهلاک مجرائي یوائې هغو شتمنیو ته ورکول کیږي چې د ثبت شوي نهاد په توګه په لومړي کال یا دوه وروستیو کلونو کې (هر یو چې لومړي واقع شي) پیرودل او یا هم کارول شوې وي.

د معمولي او چټک استهلاک په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو په اړه د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون او پرعایداتو باندې د مالیاتو لارښوود ته مراجعه وکړه.

تاسو کولاي شۍ د شتمني د ثبت د اسنادو پربنسټ د خپلې شتمنۍ په اړه معلومات ترلاسه کړه. یا تاسې کولاي شي دغه معلومات د محاسبې له هغو اسنادو څخه ترلاسه کړه چې له دې لارښوود سره ضمیمه دي. د شتمنۍ په اړه د معلوماتو د ساتلو لپاره دا ښه او آسانه لاره ده.

د استهلاک د محاسبې پاڼه په ۱۴ ضمیمه کې، جدولونه او کاري پاڼې ، د کاري پاڼې د بشپړولو لارښوونې په ۱۱ ضمیمه کې شتون لري. که چیرې د استهلاک پاڼه وکارول شي، د شتمنۍ هرې کتګورۍ او پانګې په اړه باید یو ه جلا پاڼه بشپړه شي.

## ۱ . ۱ . ۲ الف د شتمنۍ استهلاک

د هغو منقولو او غیر منقولو شتمنیو استهلاک (له کرهنیزې ځمکې نه پرته) چې په سوداګریز فعالیت کې ورڅخه کار اخستل کیږي او یا د تولیدونکي لخوا د عوایدو د تولید په موخه ساتل کیږي، د مجرایي وړ لګښت په توګه ګڼل کیږي. د وخت په تیریدو سره د هر ډول شتمنۍ د استهلاک مجرائي باید د شتمنۍ له بیې څخه زیاته نشي.

تر څو چې تاسې د خپلې شتمنۍ بشپړه بيه معلومه نه کړي، د استهلاک د مجرائي وړ نه بلل کيږي. هره هغه بيه چې د استهلاک د لګښت د ټاکلو په موخه ښودل کيږي، د شتمنۍ د پلور د بيې معلوملو پرمهال له پلور څخه د لاسته راغلې ګټې د معلومولو په موخه کارول کيږي.

کله چې د استهلاک وړ شتمنۍ بيه د سوداګريز فعاليت د ترسره کولو ولپاره کارول کيږي، د اسنادو د شتون په رڼا کې بايد ثابته شي چې کلني مجاز استهلاک د لاندې حکمونو تابع دي:

- ټول نهادونه او نماينده ګانې مکلف دي چې د خپلو جايدادونو، ماشين آلاتو او نورو شتمنيو د استهلاک په اړه هغه فيصدي او معيارونه په پام کې ونيسي چې د مالياتو قانون په تعليماتنامه کې موجود دي،
- فيصدي د شتمنۍ د ارزښت پر بنسټ ټاکل کيږي،
- د استخراجي او صنعتي فعاليتونو هغه فيصدي او معيارونه چې د مالياتوقانون په تعليماتنامه کې وجود نه لري ،د کانو او صنايعو وزارت لخوا په يو مناسب وخت کې برابريږي او د خبرتيا په موخه نهادونو او نماينده ګيو ته استول کيږي.
- استهلاک له کلنۍ مجرائي وړ کسراتو څخه عبارت دی . که چيرې تاسو استهلاک نه وي وضع کړي او يا مو په يوۀ مالي کال کې د استهلاک سم رقم نه وي وضع کړي، تاسو نشي کولاي چې له پام نه غورځول شوي ( پټ شوي) رقم لپاره په بل مالي کال کې مجرايي ترلاسه کړۍ.

پرعايداتو باندې د مالياتوقانون په تعليماتنامه کې شته فيصدي ګانې په لومړي جدول ( عادي استهلاک ) او دويم جدول ( چټک استهلاک) کې يادې شوې دي چې په لاندې ډول دي:

| ګڼه | د شتمنۍ ډول | په هر کال کې مجرائي وړ فيصدي<br>(د کلونو په حساب) | د شتمنۍ اغيزناک عمر |
|---|---|---|---|
| ۱ | له خښتو او کاڼو څخه جوړ ې شوې ودانۍ | ۵۰ | ۲ |
| ۲ | له خټو/خامو خښتو څخه جوړه شوې ودانۍ | ۲۰ | ۵ |
| ۳ | له لرګيو څخه جوړه شوې ودانۍ | ۱۰ | ۱۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ | هغه ماشين آلات او تجهيزات چې لاندې نه دي واضح شوي | ۱۰ | ۱۰ |
| ۵ | د کانونو تجهيزات | ۶,۵ | ۱۵ |
| ۶ | ابزار | ۴ | ۲۵ |
| ۷ | د چاپ ماشينونه | ۲ | ۵۰ |
| ۸ | د لاسي صنايعو ماشينونه | ۳ | ۳۳ |
| ۹ | د اوسپنې د ويلې کولو ماشينونه | ۱۰ | ۱۰ |
| ۱۰ | غالۍ | ۱۰ | ۱۰ |
| ۱۱ | فرشونه او وړې غالۍ | ۴ | ۲۵ |
| ۱۲ | څوکۍ، کوچ | ۴ | ۲۵ |
| ۱۳ | دفتري ميز، ميز او الماري | ۱۰ | ۱۰ |
| ۱۴ | د دفتر وسايل (د حساب ماشين، ټايپ ماشين) | ۶,۵ | ۱۵ |
| ۱۵ | بايسکل | ۵ | ۲۰ |
| ۱۶ | بار وړونکي موټر | ۲ | ۵۰ |
| ۱۷ | مسافر وړونکي موټر | ۴ | ۲۵ |
| ۱۸ | ټايرونه او ټيوپونه | ۲ | ۵۰ |
| ۱۹ | بکس | ۲ | ۵۰ |
| ۲۰ | د ناخالصې اوسپنې بخارۍ او پايپونه | ۱۰ | ۱۰ |
| ۲۱ | اوسپنيزې بخارۍ | ۲ | ۵۰ |
| ۲۲ | ګاډي، حيواني او لاسي کراچۍ | ۳ | ۳۳ |
| ۲۳ | تعميراتي ماشينونه، رولر او ميکسر | ۵ | ۲۰ |
| ۲۴ | کمپيوټرونه او د کمپيوټر اړوند وسايل | ۳ | ۳۳ |
| ۲۵ | تلويزيون، راديو او ګرځنده ټيليفون | ۳ | ۳۳ |
| ۲۶ | مخابراتي وسايل/ستنې | ۷ | ۱۴ |

که چيرې تاسې د خپل ځاني اروزوني له مخې وښيئ چې د استهلاک موجوده نورمونه او کتګورۍ ګانې ستاسو د شتمنۍ لپاره مناسب نه دي، تاسو کولاي شي چې د خپلو

شتمنیو په اړوند د استهلاک له نورو داسې مناسب نورمونو او معیارونو څخه کار واخلي چې د محاسبې له منل شوو نورمونو او اساساتو سره سمون ولري. تاسو کولای شي د عوایدو لوي ریاست خپل غوښتنلیک وړاندې کړی او دخپلې دې غوښتنې د ثبوت لپاره باید تاسو پوره اسنادا و شواهد ولری.

د عادي او چټک استهلاک (د نیم کال لپاره د استهلاک محاسبه او داسې نور) د ویش په اړه ځانګړې مقررات شتون لري.

که چیرې په بشپړ مالي کال کې شتمنی ونه لری او یا مو ورڅخه کار نه وي اخستي ، استهلاک یوازې د هغې مودې لپاره په په پام کې نیول کیږي چې مالیه ورکوونکي شتمنی مو په اختیار کې لرلې ده اویا مووړڅخه ګټه پورته کړې ده. که چیرې یوه شتمنی له ۱۵ ورځونه د لږ وخت لپاره په واک لرل شوې وي او یاورڅخه د ۱۵ ورځو نه لږ وخت لپاره کار اخستل شوي وي، نوموړې میاشت په محاسبه کې نه شاملیږي.

له عادي استهلاک څخه د ګټې اخستنې په صورت کې د استهلاک رقم د هغو میاشتو د شمیر له مخې ټاکل کیږي چې مالیه ورکوونکي په کې شتمنی په اختیار کې لرلې ده او یا یې ورڅخه د عوایدو په تولید کې کار اخستي دي . که چیرې یوه شتمنی له ۱۵ ورځونه د لږ وخت لپاره په واک لرل شوې وي او یاورڅخه د ۱۵ ورځو نه لږ وخت لپاره کار اخستل شوي وي، نوموړې میاشت په محاسبه کې نه شاملیږي.

## لومړی بیلګه:

د ۱۳۸۹ لمریز کال د وري (حمل) میاشتې په ۲۰ نیټه د (الف) شرکت یوه شتمنی پیري چې په عایداتي کال کې د عوایدو د لاسته راوړلو په موخه کارول کیږي. د شتمنی استهلاک په معمولي ډول محاسبه کیږي. دا چې د (الف) شرکت د حمل په میاشت کې نوموړې شتمنی له ۱۵ ورځو څخه د لږ وختت لپاره په واک لرلې ده، نوموړي شرکت نشي کولای ددې میاشتې لپاره د استهلاک د مجرایي غوښتنه وکړی او د شرکت د کلنې استهلاک غوښتنه باید وویشل شي. د نوموړي شرکت د یادې شوې شتمنی د استهلاک لګښت د کلني استهلاک د لګښت (۱۱/۱۲) برخه جوړوي.

## دویمه بیلګه

ددې بیلګې جزئیات د لومړی بیلګې جزئیاتو ته ورته دي خو یوازې په دې توپیر چې په دې بیلګه کې د (الف) شرکت شتمنی د ۱۳۸۹ کال د وري (حمل) په ۵ نیټه

شتمنۍ پیریدلې ده. دا چې د (الف) شرکت شرکت نوموړې شتمنۍ تر **۱۵** ورځو نه د زیات وخت لپاره ه واک لرلې ده، شکت کولای شي د ټول کال استهلاک لپاره مجرایي وغواړي.

د چټک استهلاک له روند څخه د کاراخستنې په صورت کې ، د استهلاک رقم د شتمنۍ د خریداري (یا له هغې څخه د کاراخستنې) دکال په لومړۍ یا دویمه نیمايي کې ویشل کیږي.

که چیرې یوه شتمنۍ د کال په لومړۍ نیمايي کې خیریداري او یا کارول شوې وي ، د ټول کال استهلاک (د چټک استهلاک د نورم پربنسټ ) د مجرایي وړ دي.

که چیرې یوه شتمنۍ د کال په دویمه نیمايي کې خریداري او یا کارول شوې وي، په دغه صورت کې مالیه ورکوونکي کولای شي د نیمايي کال لپاره د استهلاک ( چټک استهلاک) مجرایي وغواړي.
که چیرې مالیه ورکووني، ددې مقررې پربنسټ، د **۲** یا **۴** مالیي کلونو په موده کې د خپلې شتمنۍ استهلاک په بشپړه توکع محاسبه نه کړي، نوموړې کولای شي د پاتې استهلاک لپاره په وروستیو کلونوکې غوښتنه وکړي.

## دریمه بیلګه:

د **۱۳۸۹** کال د وري (**حمل** ) په **۲۰** نیټه د (ب) شرکت یوه شتمنۍ پیري . استهلاک د چټک استهلاک د فیصدي پربنسټ محاسبه کیږي. دا چې نوموړی شرکت خپله شتمنۍ د مالي کال په لومړۍ نیمائي کې پیریدلې، د ټول کال لپاره د استهلاک د مجرایي وړ دي.

## څلورمه بیلګه:

ددې بیلګې جزئیات د دریمې بیلګې جزئیاتو ته ورته دي خو یوازې په توپیر چې په دې بیلګه کې د (ب) شرکت د **۱۳۸۹** کال د لړم (عقرب) په لومړۍ نیټه شتمنۍ پیریدلې او کارولې ده . دا چې شتمنۍ د کال په دویمه نیمايي کې پیریدل او کارول شوې ده، یوازې د نیم کال استهلاک د مجرایي وړ دي.

## ۱. ۲ الف د لومړي جدول د بشپړولو طریقه - عادي استهلاک
## ۱. ۲. ۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

د جدول په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د پیژندنې هغه شیمره او نوم د دویم ځل لپاره لیکل کیږي چې د مالیاتي اظهارلیک په لومړۍ برخه کې لیکل شوي دي.

## ۱. ۲. ۲ الف معمولي استهلاک

### ۱۰ کرښه - هغه شتمنۍ چې دوه کال عمر لري (د استهلاک٪ ۵۰ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ. که چیرې تاسې د غه دول شتمنۍ ونه لري، دا کرښه تشه پریږدي.

هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې دي د ګټې اخستنې دوه کاله عمر لري او په لاندې ډول دي:

- چاپي مکتوبونه
- بار وړونکي موټر
- ټایرونه او ټوپونه
- جوالونه
- د اوسپنې بخارۍ

### ۲۰ کرښه - درې کال عمر لرونکې شتمنۍ (د استهلاک ٪ ۳۳ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ.

هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې او درې کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- د لاسي صنايعو ماشينونه (کارگاه)
- گاډۍ او لاسي کراچۍ
- کمپيوټرونه، د کمپيوټر اړوند وسايل
- تلويزيون، راديو او گرځنده ټليفون

## ۳۰ کربنه - ځلور کال عمر لرونکې شتمنۍ (د استهلاک٪ ۲۵ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې يا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کربنه کې ليکل کيږي. که چيرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کربنه تشه (سپينه) پريږدۍ.که چيرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کربنه تشه (سپينه) پريږدۍ.

هغه شتمنۍ چې په دې کټگورۍ کې شاملې او ځلور کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- ابزار
- غالۍ او نور فرشونه
- څوکۍ، کوچونه او
- موټرونه

## ۴۰ کربنه - پنځه کاله عمر لرونکي شتمنۍ (د استهلاک ٪ ۲۰ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې يا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کربنه کې ليکل کيږي. که چيرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کربنه تشه (سپينه) پريږدۍ. که چيرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کربنه تشه (سپينه) پريږدۍ.
هغه شتمنۍ چې په دې کټگورۍ کې شاملې او پنځه کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- بايسکل
- ساختماني ماشين الات، رولر او مکسر

## ۵۰ کرښه - شپږ نیم کاله عمر لرونکي شتمنۍ ( داستهلاک ٪ ۱۵ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرئ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدئ.

هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې او شپږ نیم کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- د کانونو وسایل
- د فتري تجهیزات ( د حساب ماشین، د ټایپ ماشین)

## ۶۰ کرښه - اوه کاله عمر لرونکي شتمنۍ ( داستهلاک ٪ ۱۴ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرئ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدئ.

هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې او اوه کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- مخابراتي تجهیزات/ د ټیلیفوني برجونه

## ۷۰ کرښه - لس کاله عمر لرونکې شتمنۍ( داستهلاک ٪ ۱۰ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرئ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدئ.
هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې او لس کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- له لرګو څخه جوړ شوي وسایل
- هغه تجهیزات او ماشینونه چې په بل ځای یې یادونه نه ده شوې
- د فلزاتو د استخراج ماشینونه

- غالۍ
- میز او الماری او
- ناخالص او سپنیزې بخارۍ او پایپونه

## ۸۰ کرښه - شپاړلس نیم (۱۲.۵) کاله عمر لرونکې شتمنۍ (د استهلاک٪ ۲ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ.

هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې او لس کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- هغه ماشین آلات او وسایل چې د ۱۳۸۲ لمریز کال د وري (**حمل**) له لومړۍ نیټې څخه دمخه پیرودل شوي دي.

## ۹۰ کرښه - شل کاله عمر لرونکۍ شتمنۍ (د استهلاک ٪ ۵ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ.

هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې او لس کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- د اوبدلو کارګاه

## ۱۰۰ کرښه - پنځوس کاله عمر لرونکۍ شتمنۍ (د استهلاک ٪ ۲ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ.

هغه شتمنۍ چې په دې کتګورۍ کې شاملې او لس کاله عمر لري په لاندې ډول دي:

- له خښتو او کاڼو څخه جوړ شوي ساختمانونه (ودانۍ)

له ۱۱۰ کرښې نه تر ۱۲۰ کرښې - د خپل ځاني ارزونې له مخې د شتمنۍ نورم او کتګوري د خپل ځاني ارزونې د سیستم پربنسټ، که چیرې تاسو ومومې چې په قانون کې د موجود د ا ستهلاک نورمونه یا کتګورۍ ستاسو د شتمنۍ لپاره مناسب نه دي، تاسو کولای شي چې د د استهلاک له نورو داسې مناسبو نورمونو او کتګوریو څخه کار واخلئ چې د محاسبې له منل شوو نورمونو او بنسټونو سره سمون ولري . که چیرې غواړئ له نورو نورمونو او کتګوریو څخه کار واخلئ، تاسو کولای شي خپله غوښتنلیک ( له اسنادو سره ) د عوایدو لوي ریاست ته وړاندې کړئ. د بیلګې په توګه ، یو اخې په دې دلیل چې بهرنۍ نمایندګي یا مرکزي دفتر متفاوته فیصدي یا کتګوري کاروي، د بلې فیصدې او کتګورۍ کارول مجاز نه دي.

د شتمنۍ د ارزښت د کموالي په موخه داستهلاک مجموعه د شتمنۍ د محاسبې یا ثبت له کتاب نه نه اخستل کیږي ( چې استهلاک یې پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون کې د شته نورم نه د بل نورم پربنسټ محاسبه کیږي) او په دې کرښه کې لیکل کیږي . استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۰۰ کرښه - د ټولو شتمنیو د معمولي استهلاک مجموعه

د شتمنیو د مجموعي استهلاک د محاسبې په موخه ، له ۱۰ کرښې نه تر ۱۲۰ کرښې پورې کرښې سره جمع کړئ او لاسته راغلي رقم ( د جمع حاصل) یې په دې کرښه کې ولیکئ:

- ددې جدول ۲۰۰ کرښه، او
- د ۴ برخې ( د مجاز کسراتو محاسبه) ۲۹۰ کرښه (معمولي استهلاک)

## ۲. ۱ الف سریزه

له دویم جدول (چټک استهلاک) څخه د چټک استهلاک درقم د محاسبې په موخه کاراخستل کیږي، او بیا ددې مجموعي رقم (لکه څنګه چې ۱۰۰ کرښه کې ښودل شوي دي) په ۷۰۰ کرښه (چټک استهلاک) کې لیکل کیږي.

که چیرې تاسې غواړئ چې له چټک استهلاک څخه کار واخلئ، د دویم جدول (چټک استهلاک) یو نقل باید له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه کړی او یو نقل یې باید له ځان سره وساتئ.

دویم جدول (چټک استهلاک) په ۱۴ ضمیمه (جدولونه او کاري پاڼې) کې موجود دي.

د ددغو موضوعاتو (یعنې د معمولي استهلاک، چټک استهلاک او داچې کوم جدول باید وکارول شي - لومړي جدول او که دویم جدول)په اړه زیات معلومات په لومړۍ ضمیمه کې شتون لري. د دویم جدول (چټک استهلاک) له بشپړولو نه وړاندې لومړۍ ضمیمه ولولئ.

د چټک استهلاک په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پرعایداتو باندې د مالیاتو لارښوود ته مراجعه وکړئ.

## ۲. ۲. الف د دویم جدول بشپړول - چټک استهلاک

### ۲. ۲. ۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

د مالیاتي اظهارلیک په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د پیژندنې هغه نمبر او نوم د دوهم ځل لپاره لیکل کیږي چې د مالیاتي اظهارلیک په لومړۍ برخه کې لیکل شوي دي.

### ۲. ۲. ۲ الف چټک استهلاک

**چټک استهلاک پلې کیږي او که نه ؟**

د غړ رنګې پاڼې په تش ځاي کې د "هو" یا "نه" ځواب ولیکي چې وښیي چې آیا تاسو د چټک استلهاک سریع مستحق یاستې او که نه.

هغه مالیه ورکوونکي چې د چټک استهلاک د ترلاسه کولو مستحق ګڼل کیږي باید یو منل شوي (منظورشوي) تبث وي. د منظورشوو تشبثونو په اړه په لومړۍ ضمیمه کې معلومات شتون لري.

## ۱۰ کرښه- ۲ کاله عمر لرونکې شتمنۍ ( د استهلاک ٪ ۵۰ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ

## په دې کتګورۍ کې شاملې ۲ کاله عمر لرونکې شتمنۍ په لاندې ډول دي:

- له ودانیو(تعمیرونو) نه پرته ثابته شتمنۍ

## ۲۰ کرښه - ۴ کاله عمر لرونکې شتمنۍ ( د استهلاک ٪ ۲۵ نورم)

د استهلاک د محاسبې له پاڼې یا د شتمنۍ د ثبت له کتاب نه د استهلاک د کموالي مجموعي کسرات
په دې کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې تاسې دا دول شتمنۍ ونلرۍ ، دا کرښه تشه (سپینه) پریږدۍ

په دې کتګورۍ کې شاملې ۲ کاله عمر لرونکې شتمنۍ په لاندې ډول دي:

- ودانۍ (تعمیرونه)

## ۱۰۰ کرښه - د شتمنۍ دچټک استهلاک مجموعه

د شتمنۍ د چټک استهلاک د محابسپې په موخه د ۱۰ کرښې نه تر ۲۰ کرښې پورې شامل رقمونه له یوبل سره جمع کړۍ او حاصل یې په لاندې ډول ولیکۍ:

- ددې جدول ۱۰۰ کرښه ،
- د ۷۰۰ کرښې ۴ جدول ( د مجازکسراتو محاسبه)

## دریمه ضمیمه- دریم جدول – د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیې پلي کول

د مالیاتي اظهارلیک دا برخه د انتفاعي معاملو د ورکړل شوي او یا د ورکړې وړ د ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیې په اړه کارول کیږي. که چیرې یو مالیه ورکوونکي داسې سوداګریز فعالیت ولري چې لاسته راغلي عواید یې د ٪ ۲ یا ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیې تابع وګرځي، نوموړي مکلف دي چې ۳ جدول بشپړ کړي.

له بشپړیدو نه وروسته د نوموړي جدول یوه کاپي باید له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه کړل شي.

ددریم جدول مجموعي محاسبې د مالیاتي اظهارلیک په مختلفو برخو کې لیکل کیږي.

دا جدول د انتفاعي معاملو مالیې د محاسبې د فورمې پرځای نه کارول کیږي.

له ۱۳۸۵ کال راهیسې، د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیه (د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیې د محاسبې د فورمې نه په کار اخستنې سره) په ربعوار ډول ورکول کیږي. مالیه ورکوونکي مکلف دي چې یاده شوې فورمه او د ورکړې وړ مالیه د راتلونکې ربعې د لومړۍ میاشتې تر ۱۵ نیټې پورې په بانک تحویل کړي.

د انتفاعي معاملو مالیه د مالیه ورکوونکي پر اقتصادي فعالیتونو باندې د تطبیق وړ ده. د انتفاعي معاملو ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیه پرهغو ناخالصو مجموعي عوایدو باندې د تطبیق وړ ده چې له ځانګړو فعالیتونو څخه لاسته راغلي دي. دا مالیه له هرډول کسراتو نه وړاندې (پرته له دې چې آیا مالیه ورکوونکي په تیرکال او یا په روان کال کې ګټه ترلاسه کړې او که یې تاوان کړې دی)، د ورکړې وړ ده. که چیرې مالیه ورکوونکي دا مالیه له خپلو پیرودونکو څخه ترلاسه کړې وي (په بیل کې یې اضافه کړې وي) او کنه، بیا هم مالیه ورکوونکي مکلف دي چې دا مالیه ورکړي.

د مالیې وړ عوایدو د محاسبې پرمهال ورکړل شوې یا د ورکړې وړ د انتفاعي معاملو مالیه په عین کال کې د لګښت په توګه د مجرایي وړ ده.

له خدمتونو څخه لاسته راغلي میاشتنۍ عواید له نغدو پیسو، اجناسو او خدمتونو څخه عبارت دي. د اجناسو او خدمتونو بیه د ورځنۍ بیې له مخې په مروجو افغانیو سره محاسبه کیږي.

د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون تعلیماتنامې او یا دریم لارښوود (د انتفاعي معاملو ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیه) ته مراجعه وکړئ.

## ۳. ۲. الف د ۳ جدول بشپړول- د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیې پلي کول او محاسبه

## ۳. ۲. ۱. د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي نوم او تشخیصیه نمبر په تکرار ډول لکه څنګه چې د مالیاتي اظهارلیک په لومړۍ برخه (د مالیه ورکوونکي په اړ معلومات) کې لیکل شوي دي، لیکل کیږي.

## ۳. ۲. ۲. الف د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیه

## ۱۰ کرښه - له اجناسو او خدمتونو څخه لاسته راغلي د حکمي اشخاصو ناخالص عواید

له اجناسو او خدمتونو څخه لاسته راغلي ناخالص عواید باید له هرډول کسراتو څخه دمخه ولیکل شي. ناخالص عواید هغه رقم دي چې د هرډول کسراتو له وضع کولو څخه د مخه لاسته راځي.

## ۲۰ کرښه - دحقیقي اشخالصو لخوا د اجناسو د برابرولو او خدمتونو د وړاندې کولو له درکه ۷۵۰۰۰۰ افغانۍ (او یاهم له دې څخه زیات) ربعوار عواید.

دا کرښه یوائې پرهغو حقیقي اشخاصوباندې تطبیقیږي چې له ربعوار عواید یې ۷۵۰۰۰۰ افغاني او یا له دې څخه زیات وي. حکمي اشخاص باید دا کرښه تشه پریږدي.

## ۳۰ کرښه - هغه هوټلونه ، رستورانتونه او میلمستونونه چې میاشتني ناخالص عواید یې له ۷۵۰۰۰۰ افغانیو څخه کم وي

د هوټلونو، رستورانتونو او میلمستونونو خدمتونه په لاندې ډول دي:

د هوټلونو او میلمستونونو خدمتونه عبارت دي له : حقیقي اشخاصو ته (چې اوس مهال د لږ وخت لپاره د مسافر/میلمه په توګه پاتې کیږي) د خوب ځای برابرول او نورو اړوندو خدمتونو (د ډوډۍ، څښاک ، د کالیو وینځلو او مخابراتي په ګډون) وړاندې کول دي.
د رستورانت خدمتونه عبارت دي له : د رستورانت لخوا د خوراک او څښاک توکو برابرول، د برابرشوو خوړو رسول/وړل او یا دهغو خوړو پلورل چې د رستورانت په ساحه کې پخ شوي دي.

## ۴۰ کرښه – د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیې مجموعي عواید

له ۱۰ نه تر ۳۰ کرښې پورې سره جمع کړۍ او د جمع حاصل یې دهغو عوایدو مجموعه ده چې د ٪ ۲ د انتفاعي معاملو مالیې تابع ګرځي. دا رقم په ۴۰ کرښه کې ولیکۍ.

## ۶۰ کرښه- د ٪ ۲ انتفاعي معاملو مالیې محاسبه

۴۰ کرښه (د ٪ ۲ انتفاعي معاملو مالیې تابع مجموعي عواید) باید په ٪ ۲ فیصده کې ضرب کړل شي. لاسته راغلي رقم باید د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې په ۵۰ کرښه او ۲۳۰ کرښه کې ولیکل شي.

دا رقم د ٪ ۲ انتفاعي معاملو مالیې رقم دي چې د مالیه ورکوونکي لخوا (د انتفاعي معاملود ٪ ۲ مالیې له وضع کولو نه دمخه چې د کال په اوږدو کې ورکول شوې ده) د ورکړې وړ دي.

لومړی بیلګه:

د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې تابع مجموعي عواید ( ۴۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
۴۰ کرښه په ۲ ٪ کې ضرب ۲۰۰۰ افغانۍ
۲۰۰۰ افغانۍ د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې په ۵۰ او ۲۳۰ کرښه کې لیکل کیږي.

## ۷۰ – ۹۰ کرښې پورې - په هره ربع کې دمخه ورکړل شوې د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیه

له ۱۳۸۵ کال نه را پدېخوا د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیه په ربعواره توګه ورکول کیږي. دا مالیه د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ او ٪ ۵ مالیو د ځانګړې فورمې نه په کار اخستنې سره ورکول کیږي.

په لومړۍ ربع ( د وري له پیل نه د غبرګولي (جوزا)ترپایه پورې)کې د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې له درکه ورکړل شوي مبلغ په ۲۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پرېښودل کیږي.

په دویمه ربع ( د سرطان له پیل نه د سنبلې ترپایه پورې) کې د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم په ۷۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پرېښودل کیږي.

په دریمه ربع ( دمیزان له پیل نه قوس ترپایه پورې) کې د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم په ۸۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پرېښودل کیږي.

په څلورمه ربع ( د جدي له پیل نه د حوت ترپایه پورې) کې د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم په ۹۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پرېښودل کیږي.

## ۱۰۰ کرښه – د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې له درکه ورکړل شوي مجموعي رقم.

د ۲۰ – ۹۰ کرښې ارقام له یو بل سره جمع کیږي او د جمع حاصل یې په ۱۰۰ کرښه کې لیکل کیږي. دا رقم د انتفاعي معاملوله ٪ ۲ مالیې څخه لاسته راغلي دي چې دمالي کال په اوږدو کې دمالیه ورکوونکي لخوا د عوایدو لوي ریاست ته ورکول شوي دي.

## ۱۲۰ کرښه - د ورکړې وړ د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیه

۱۰۰ کرښه ( د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ له درکه ورکړل شوي رقم) له ۵۰ کرښې (د انتفاعي معاملو محاسبه شوې ٪ ۲ مالیه ) څخه منفي کیږي. لاسته راغلي رقم د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په ۱۱۰ کرښه او ۱۴۰ کرښه کې لیکل کیږي.

د انتفاعي معاملو مالیې رقم د روان کال لپاره د ورکړې وړ دي.

## لومړی بیلګه

د انتفاعي معاملو د ٪۲ مالیې (۴۰ کرښه) له درکه لاسته راغلي عواید ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
۴۰ کرښه په ٪ ۲ کې (۵۰ کرښه) ضرب ۲۰۰۰ افغانۍ
د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم
۱ ربع (۲۰ کرښه)
۴۰۰ افغانۍ
۲ ربع (۷۰ کرښه)
۴۵۰ افغانۍ
۳ ربع (۸۰ کرښه)
۶۰۰ افغانۍ
۴ ربع (۹۰ کرښه)
۵۵۰ افغانۍ
د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې مجموعي ورکړل شوي رقم ( ۱۰۰ کرښه) ۲۰۰۰ افغانۍ
د انتفاعي معاملو د ورکړې وړ ٪ ۲ مالیه (۱۱۰ کرښه) ۰ افغانۍ

د مالیاتي اظهارلیک ددویمې برخې په ۱۱۰ او ۱۴۰ کرښوکې ۰ (صفر) لیکل کیږي.

دویمه بیلګه:

د انتفاعي معاملو د ٪۲ مالیې (۴۰ کرښه) له درکه لاسته راغلي عواید ۱۰۰۰۰ افغانۍ

۴۰ کرښه په ٪ ۲ کې (۵۰ کرښه) ضرب ۲۰۰۰ افغانۍ

د انتفاعي معاملو ٪ ۲ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم

| | | |
|---|---|---|
| ۱ ربع | (۶۰ کرښه) | ۴۰۰ افغانۍ |
| ۲ ربع | (۷۰ کرښه) | ۴۵۰ افغانۍ |
| ۳ ربع | (۸۰ کرښه) | ۶۰۰ افغانۍ |
| ۴ ربع | (۹۰ کرښه) | ۴۰۰ افغانۍ |

د انتفاعي معاملو د ٪۲ مالیې مجموعي ورکړل شوي رقم (۱۰۰ کرښه) ۱۸۵۰ افغانۍ

د انتفاعي معاملو د ٪ ۲ مالیې د ورکړې وړ (۱۱۰ کرښه) رقم ۱۵۰ افغانۍ

د مالیاتي اظهارلیک ددویمې برخې په ۱۱۰ او ۱۴۰ کرښو کې ۱۵۰ افغانۍ لیکل کیږي.

## ۳.۲.۳. د انتفاعي معاملو ٪ ۵ مالیه

### ۲۰۰ کرښه-د هوټلونو، رسټورانټونو او میلمستونونو ناخالص عواید چې میاشتني عواید یې له ۷۵۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات وي.

د هوټلونو، رسټورانټونو او میلمستونونو ناخالص عواید چې میاشتني عواید یې له ۷۵۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات وي (له هر ډول کسراتو څخه وړاندې) په دې کرښه کې لیکل کیږي. د هوټلونو، رسټورانټونو او میلمستونونو د خدمتونو تعریف (د دې موخې لپاره) هغه تعریف ته ورته دي چې د ۱.۲.۳ ضمیمې په ۳۰ کرښه کې شتون لري.

### ۲۱۰ کرښه - د سالونونو او د محفلونو د کلوپو نو ناخالص عواید د سالونونو او د محفلونو د کلوپونو ناخالص عواید (له هر ډول کسر څخه وړاندې) په دې کرښه کې لیکل کیږي.

### ۲۲۰ کرښه - د ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیې مجموعي عواید

۲۰۰ – ۲۱۰ کرښې سره جمع کړې، ترڅو د ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیې تابع عواید لاسته راشي. لاسته راغلي رقم په ۲۲۰ کرښه کې ولیکئ.

## ۲۳۰ کرښه- د ٪ ۵ انتفاعي معاملو ماليې محاسبه

۲۲۰ کرښه ( د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې تابع مجموعي عوايد ) په ٪ ۵ کې ضرب کړی او حاصل یې د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې په ۲۳۰ کرښې او ۲۴۰ کرښه کې ولیکئ.

لاسته راغلي رقم د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې رقم دي او باید هر ډول کسراتو څخه وړاندې باید ورکړل شي.

## لومړی بیلګه

د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې تابع عوايد ( ۲۲۰ کرښه ) ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
۲۲۰ کرښه په ٪ ۵ کې ضرب ۵۰۰۰۰ افغانۍ
لاسته راغلي رقم ( ۵۰۰۰۰ ) د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې په ۲۳۰ او ۲۴۰ کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۴۰ – ۲۷۰ کرښې - د انتفاعي معاملو ٪ ۵ مالیه چې مخکې په هره ربع کې ورکول کیده.

له ۱۳۸۵ کال راهسې د انتفاعي معاملو ٪ ۵ مالیه په ربعوار ډول ورکول کیږي البته له ځانګړې فورمې ( د انتفاعي معاملو ٪ ۲ او ٪ ۵ ماليې محاسبه ) نه په کار اخستنې سره .

په لومړۍ ربع ( د وري له پیل نه د غبرګولي (جوزا) ترپایه پورې) کې د انتفعاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې له درکه ورکړل شوي مبلغ په ۲۴۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پریښودل کیږي.

په دویمه ربع ( د سرطان له پیل نه د سنبلې ترپایه پورې) کې د انتفعاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې له درکه ورکړل شوي رقم په ۲۵۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پریښودل کیږي.

په دریمه ربع (د میزان له پیل نه قوس ترپایه پورې) کې د انتفعاعي معاملو د ٪ ۵ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم په ۲۶۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پرېښودل کیږي.

په څلورمه ربع (د جدي له پیل نه د حوت ترپایه پورې) کې د انتفعاعي معاملو د ٪ ۵ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم په ۲۷۰ کرښه کې لیکل کیږي. که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې، دا کرښه تشه پرېښودل کیږي.

## ۲۸۰ کرښه - د ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیې ورکړل شوې مجموعه

۲۴۰- ۲۷۰ کرښې سره جمع کیږي او د جمعې حاصل یې په ۲۸۰ کرښه کې لیکل کیږي. دا رقم د ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیې مجموعي رقم دي چې د مالي کال په اوږدو کې د مالیه ورکوونکي خوا لا د مخه دعوایدو لوي ریاست ته ورکړل شوي دي.

## ۲۹۰ کرښه - د ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیې د ورکړې وړ مجموعه

۲۸۰ کرښه (د ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیې له درکه ورکړل شوي ارقام) له ۲۳۰ کرښې (د انتفاعي معاملو ٪ ۵ محاسبه شوې مالیه) څخه منفي کیږي. لاسته راغلي رقم د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په ۱۵۰ او ۲۹۰ کرښه کې لیکل کیږي.

دا رقم د ورکړې وړ ٪ ۵ انتفاعي معاملو مالیه د روان کال لپاره دي.

### دویمه بیلګه

| | |
|---|---|
| د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ مالیې تابع عواید (۲۲۰ کرښه) | ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| ۲۰۰ کرښه په ٪ ۵ کې (۲۳۰کرښه) ضرب | ۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| د انتفاعي معاملو ٪ ۵ مالیې له درکه ورکړل شوي رقم | |
| ۱ ربع (۲۴۰ کرښه) | ۱۱۰۰۰ افغانۍ |
| ۲ ربع (۲۵۰ کرښه) | ۱۲۰۰۰ افغانۍ |
| ۳ ربع (۲۶۰ کرښه) | ۱۱۰۰۰ افغانۍ |
| ۴ ربع (۲۷۰ کرښه) | ۱۲۰۰۰ افغانۍ |
| د انتفاعي معاملو د ٪۵ مالیې مجموعي ورکړل شوي رقم (۲۸۰ کرښه) | ۵۰۰۰۰ افغانۍ |

د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې د ورکړې وړ رقم (۲۹۰ کرښه) ۰ (صفر) افغانۍ

د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې په ۲۹۰ او ۱۵۰ کرښه کې صفر ليکل کيږي.

دريمه بيلګه

د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې تابع عوايد (۲۲۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ

۲۰۰ کرښه په ٪ ۵ کې (۲۳۰ کرښه) ضرب ۵۰۰۰۰ افغانۍ

د ٪ ۵ انتفاعي معاملو ماليې له درکه ورکړل شوي رقم

۱ ربع (۲۴۰ کرښه) ۱۱۰۰۰ افغانۍ

۲ ربع (۲۵۰ کرښه) ۱۲۰۰۰ افغانۍ

۳ ربع (۲۶۰ کرښه) ۱۱۰۰۰ افغانۍ

۴ ربع (۲۷۰ کرښه) ۱۴۰۰۰ افغانۍ

د انتفاعي معاملو د ٪۵ ماليې مجموعي ورکړل شوي رقم (۲۸۰ کرښه) ۴۸۰۰۰ افغانۍ

د انتفاعي معاملو د ٪ ۵ ماليې د ورکړې وړ رقم (۲۹۰ کرښه) ۲۰۰۰ افغانۍ

د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې په ۲۹۰ او ۱۵۰ کرښه کې ۲۰۰۰ افغانۍ ليکل کيږي.

## څلورمه ضمیمه، څلورم جدول-د٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې محاسبه او تطبیق

### ۴. ۱. الف سریزه

له دې برخې څخه د انتفاعي معاملو د ٪ ۱۰ ورکړل شوې او یا ورکړې وړ مالیې د محاسبې او تطبیق په اړه کار اخیستل کیږي. که چیرې مالیه ورکوونکي داسې اقتصادي فعالیت پرخ وړي چې عواید یې د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې تابع ګرځي، نوموړي مکلف دي چې ۴ جدول بشپړ کړي.

د څلورم جدول محاسبه شوي ارقام د مالیاتي اظهارلیک په مختلفو برخوکې لیکل کیږي.

دا جدول د انتفاعي معاملو مالیې د ربعوار مالیاتي اظهارلیک پرځای نشي کارول کیداي. تاسو مکلف یاست چې نوموړې فورمه او د ورکړې وړ مالیه د راتلوونکې ربعې د لومړۍ میاشتې تر ۱۵ نیټې پورې په بانک کې تحویل کړۍ.

که چیرې مالیه ورکوونکي دعوا وکړي چې د کال په یوه یا څو میاشتوکې یې د مالیې وړ عواید نه لرل، نوموړي مکلف دي چې په دې اړه د مالیې وزارت په لیکلې توګه خبر ورکړي او د انتفاعي معاملو مالیاتي اظهارلیک وړاندې کړي. که چیرې د مالیه ورکوونکي دعوا سمه وي، پرعایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې تابع ګرځي. اما که چیرې یې دعوا سمه نه وي، پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون پربنسټ مالیه ورکوونکي مکلف دي چې د انتفاعي معاملو له مالیې علاوه اضافي مالیه هم ورکړي.

د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ مالیه د هغو عوایدو پرمجموعي باندې تطبیقیږي (له هرډول کسراتو نه وړاندې او پرته له دې چې مالیه ورکوونکي په روان او تیرو کلونو کې ګټه لاسته راوړې او که له تاوان/ضرر سره مخ شوي دي) چې د کال په اوږدو کې د ځانګړو خدمتونو له وړاندې کولو څخه لاسته راځي. پیرودونکو ته د انتفاعي معاملو مالیې لیږد/انتقال د مالیه ورکوونکي د مالیاتي مکلفیت د رفع سبب نه ګرځي.

## لومړۍ بیلګه

دالف شرکت د ښو رستورانتي خدمتونو له وړاندې کولو څخه عواید لاسته راوړي. د پیرودونکو د خدمتونو د بیې د محاسبې پرمهال د الف شرکت په بل کې د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ مالیه علاوه کوي او له خپل پیرودونکي څخه یې لاسته راوړي. نوموړې مالیه په بل کې نه ده ښودل شوې اما د خدمتونو د بیې پرمجموعي باندې اضافي شوې ده. د بیلګې په توګه ، (ب) پیرودونکي د ۱۱۰۰ افغانیو بل ترلاسه کوي چې د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ مالیه په کې په جلا توګه نه ده لیکل شوې.

دا چې د انتفاعي معاملو مالیه د ۱۱۰۰ افغانیو له درکه چې د الف شرکت ترلاسه کړي دي محاسبه کیږي، د الف شرکت د مجموعي پلور له درکه د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې تابع ګرځي ( یعنې له پورتنیو عوایدو څخه باید ۱۱۰ افغانۍ مالیه ورکړي).

## دویمه بیلګه

ددې بیلګې جزئیات د لومړۍ بیلګې جزئیاتو ته ورته دي، اما په دې توپیر چې د الف شرکت مالیه په جلا توګه په بل کې شاملوي. د بیلګې په توګه ، (ب) پیرودونکي له ٪ ۱۰ مالیې (۱۰۰ افغانۍ ) سره د ۱۰۰۰ افغانیو بل لاسته راوړي. په بل کې شامل رقم ۱۱۰۰ افغانۍ دي.

دا چې ( الف) شرکت د انتفاعي معاملو ۱۰ فیصده مالیه د خپلو مجموعي عوایدو سره محاسبه کړې ده، د لومړۍ بیلګې له مخې نوموړي شرکت مکلف دي چې ۱۱۰ افغانۍ مالیه ورکړي ځکه چې د انتفاعي معاملو مالیه د ۱۱۰۰ افغانیو پربنسټ محاسبه کیږي. د انتفاعي معاملو مالیې مکلفیت له (الف) شرکت پورې تړاو نیسي نه له پیرودونکي پورې. دا چې پر پیرودونکي باندې د انتفاعي معاملو مالیې څومره رقم پرمشتري باندې حسابیږي، دا موضوع شرکت پورې تړاو لري.

دهماغه کال پرعایداتو باندې د مالیاتو د محاسبې پرمهال ، د انتفاعي معاملو ورکړل شوې یا د ورکړې وړ مالیه د کسر وړ ده.

هغه میاشتني عواید چې مالیه ورکوونکي یې د مالیې وړ له خدمتونو څخه لاسته

راوړي عبارت دي له پيسې، اجناس او خدمتونه. د اجناسو او خدمتونو ارزښت د بازار له ارزښت سره سم په افغانيو محاسبه کيږي.

د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو ماليې په اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره پرعايداتو باندې د مالياتو قانون تعليماتنامې يا دريم لارښوود( د انتفاعي معاملو ماليه) ته مراجعه وکړئ.

## ۴. ۲. الف د ۴ جدول بشپړول - د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو ماليې تطبيق

### ۴. ۲. ۱. الف د ماليه ورکوونکي په اړ ه معلومات

د مالياتي اظهارليک په دې برخه کې د ماليه ورکوونکي د پيژندنې هغه نمبر او نوم په تکراري ډول ليکل کيږي چې د مالياتي اظهارليک په لومړۍ برخه کې ليکل شوي دي.

### ۴. ۲. ۲. الف د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ ماليه

### ۱۰ کرښه - له ښکلو او عصري هوټلونو او رستورانتونو څخه لاسته راغلي عوايد

د عالي خدمتونو وړاندې کوونکو هوټلونو او رستورانتونو مجموعي عوايد (د هرډول کسراتو له وضع کولو نه وړاندې) په دې کرښه کې ليکل کيږي. د هوټل،رستورانت او ميلمستون اصطلاح ګانې ددې لارښوود په ۱. ۲. ۳ ضميمه کې شتون لري.

د ښکلو او عصري هوټلونو او رستورانتونو د ناخالصو عوايدو په اړه د زياتو معلوماتو د ترسره کولو لپاره پرعايداتو باندې د مالياتو قانون او ددې قانون د تعليماتنامې ۶۲ مادې ۵ فقرې ته مراجعه وکړئ.

### ۲۰ کرښه – له مخابراتي او هوايي مسافربري خدمتونو څخه لاسته راغلي ناخالص عوايد

له مخابراتي او هوايي مسافربري خدمتونو څخه لاسته راغلي ناخالص عوايد( له

کسراتو نه وړاندې ) په دې کرښه کې لیکل کیږي. مخابراتي او مسافر وړونکي خدمتونه په لاندې ډول دي:

مخابراتي خدمتونه د هرډول ټیلفوني، انټرنټي او فس له خدمتونو څخه عبارت دي.

هوای مسافربري خدمتونه له هغو خدمتونو څخه عبارت دي چې د پرواز پیل یې له افغانستان څخه وي.

## ۳۰ کرښه – هغه مجموعي عوايد چې د ۱۰٪ انتفاعي معاملو تابع دي

۱۰- ۲۰کرښې جمعه کړې او د جمعې حاصل یې به ۳۰ کرښه کې ولیکۍ. ترڅو د انتفاعي معاملود ٪ ۱۰ مالیې تابع وګرځي.

## ۴۰ کرښه - د ٪ ۱۰ د انتفاعي معاملو محاسبه

۳۰ کرښه- (٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې تابع عوايد ) په ٪ ۱۰ کې ضربیږي.

لاسته راغلي رقم د مالیاتي اظهارلیک د څلورمې رقم په ۴۰ کرښه او ۲۵۰ کرښه کې لیکل کیږي.

دا رقم د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې د وکړې وړ رقم دي چې د انتفاعي معاملو له ٪ ۱۰ مالیې نه دمخه د مالي کال په جریان کې ورکول شو ي دي.

## لومړۍ بیلګه

د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو مالیې تابع مجموعي عوايد (۳۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ
۳۰ کرښه په ٪ ۱۰ ( ۴۰ کرښه) کې ضربیږي ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې په ۴۰ او ۲۵۰ کرښه کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو رقم لیکل کیږي.

## ۵۰- ۸۰ کرښې - په ربعواره توګه د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ ورکړل شوې مالیه

د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ مالیه ددې مالیې له فورمې څخه دکار اخستنې له لیارې په ربعواره توګه ورکول کیږي.

د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملومالیې له درکه ورکړل شوي رقم د لومړۍ ربع ( د حمل له پیل نه د جوزا ترپایه پورې) په ۵۰ کرښه کې لیکل کیږي . که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې ، دا کرښه تشه پاتې کیږي.

د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملومالیې له درکه ورکړل شوي رقم د دویمې ربع ( د سرطان له پیل نه د سنبلې ترپایه پورې) په ۶۰ کرښه کې لیکل کیږي . که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې ، دا کرښه تشه پاتې کیږي.
د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملومالیې له درکه ورکړل شوي رقم د دریمې ربع ( د میزان له پیل نه د قوس ترپایه پورې) په ۷۰ کرښه کې لیکل کیږي . که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې ، دا کرښه تشه پاتې کیږي.

د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملومالیې له درکه ورکړل شوي رقم د څلورمې ربع ( د جدي له پیل نه د حوت ترپایه پورې) په ۸۰کرښه کې لیکل کیږي . که چیرې دا مالیه نه وي ورکړل شوې ، دا کرښه تشه پاتې کیږي.

## ۹۰ کرښه - د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ مالیه چې مخکې ورکړ ل شوې ده

۵۰ - ۸۰ کرښې جمع کیږي او حاصل یې په ۹۰ کرښه کې لیکل کیږي. دا رقم د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو له مالیې څخه عبارت دي چې مالي کال په اوږدو کې ورکړل شو دي.

## ۱۰۰ کرښه- د انتفاعي معاملو د ورکړې وړ ٪ ۱۰ مالیې مجموعه

۹۰ کرښه ( د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ ورکړل شوې مالیې مجموعه ) له ۴۰ کرښې ( د انتفاعي معاملو ٪ ۱۰ محاسبه شوې او د ورکړې وړ مالیه ) څخه منفي کیږي. ترلاسه شو رقم د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په ۱۰۰ او ۱۲۰ کرښه کې لیکل کیږي.

دا رقم د ورکړې وړ ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو ماليې رقم دي.

## دويمه بېلګه

د ٪۱۰ انتفاعي معاملو ماليې تابع مجموعي عوايد (۳۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ
۳۰ کرښه په ٪ ۱۰ (۴۰ کرښه) کې ضربيږي ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
د مالياتي اظهارليک د ۴ برخې په ۴۰ او ۲۵۰ کرښه کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو رقم ليکل کيږي.
د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو ماليې تابع مجموعي عوايد (۳۰ کرښه) ۰ (صفر) افغانۍ
د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې په ۱۰۰ او ۱۲۰ کرښې کې د صفر رقم ليکل کيږي.

دريمه بېلګه

د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو ماليې تابع مجموعي عوايد (۳۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ
۳۰ کرښه په ٪ ۱۰ (۴۰ کرښه) کې ضربيږي ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ
د ٪۱۰ انتفاعي معاملو ماليې مجموعه چې د مخه ورکړل شوې ده (۹۰ کرښه) ۹۰۰۰۰۰ افغانۍ
د ٪ ۱۰ انتفاعي معاملو ماليې تابع مجموعي عوايد (۳۰ کرښه) ۰ (صفر) افغانۍ
د ورکړې وړ ٪ ۱۰ د انتفاعي معاملو د ورکړې وړ ماليه (۱۰۰ کرښه) ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې په ۱۰۰ کرښه او ۱۲۰ کرښه کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو رقم ليکل کيږي.

## پنځمه ضمیمه، ۵ جدول - د اړوندو اشخاصو عواید یا ورکړې (انتقالي بیه ایښودنه)

### ۵.۱. الف سریزه

له دې جدول څخه د اړوندو اشخاص د عوایدو یا ورکړو د ثبت په موخه کار اخیستل کیږي.
انتقالي بیه ایښودنه هغه وخت صورت مومي چې یو نهاد په افغانستان کې فعالیت ولري او له اړوند شخص سره په معاملاتو کې د اجناسو او خدمتونو د خرید بیه لوړه وښیي او د خپلو اجناسو او خدمتونو بیه ټیټه وښيي. دا کار په مالیې وړ عوایدو او په افغانستان کې د ورکړې وړ عوایدو باندې اغیزه لري.

که چیرې د اړوندو اشخاصو د ورکړې وړ او یا ورکړل شوي رقم د نا اړوندو اشخاصو له ورکړو سره توپیر ولري، د مالیې وزارت په اند دغه ډول ورکړې له هغه رقم څخه عبارت دي چې د نااړوندو اشخاص ترمنځ د معاملو په صورت کې د ورکړې وړ دي.

هغه رقم چې د نا اړوندو اشخاصو ترمنځ په یوه معامله کې تبادله کیږي ، د بازار دنرخ په توګه پیژندل کیږي.

که چیرې د اړوندو اشخاصو ترمنځ ورکړې د ورځني نرخ پربنسټ صورت مندلې وي، په دغه صورت کې عواید او کسرات د هغو معا ملو مطابق محاسبه کیږي چې د نااړوندو اشخاصو ترمنځ د تطبیق وړ دي.

مالیه ورکوونکې باید ثابته کړي چې داړوندو اشخاص ترمنځ ورکړې د ورځني نرخ سره سم صورت مندلې دي.

که چیرې ورکړې د ورځني نرخ پربنسټ صورت مندلې وي، هغه رقم چې په دې جدول کې لیکل کیږي باید په ۳ برخه ( دمالیې تابع عوایدو محاسبه) او یا ۴ برخه ( د مجاز کسراتو محاسبه) کې هم ولیکل شي.

مالیه ورکوونکې مکلف نه دي چې ددې جدول ټول مرستندویه اسناد له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه کړي، اما د اړتیا په صورت کې باید د عوایدو لوي ریاست ته سم او دقیق اسناد برابر کړي.

## ۵.۲ الف د پنځم جدول بشپړول- د اړوندو اشخاصو عواید او ورکړې ( انتقالي بيه ټاکنه)

### ۵.۲.۱ الف د ماليه ورکوونکي په اړه معلومات

د مالياتي اظهارليک په دې برخه کې د ماليه ورکوونکي د پيژندني هغه نمبر او نوم په تکرار ډول ليکل کيږي چې د مالياتي اظهارليک په لومړۍ برخه کې ليکل شوي دي.

### ۵.۲.۲ الف ورکړې (تاديات) او عوايد

د پنځم جدول د بشپړولو پرمهال بايد د عوايدو رقم په دوه قوسونو- ( )کې وليکل شي نه د ورکړې رقم . که چيرې عوايد او ورکړې تر يوه چتر لاندې وجو د ولري، دا رقمونه بايد له يوبل سره وليکل شي.

له دې جدول څخه بايد يواځې د اړوندو اشخاص ترمنځ د عوايدو او ورکړو سره يو ځاي وليکل شي.
له دې جدول څخه بايد يواځې د افغانانو لخوا او نورو څخه کارا خستلاي شي

### ۱۰ کرښه - خبرتياوې او سرګرمي

د کال په اوږدو کې له سرګرميو او خبرتياوو څخه د لاسته راغلو عوايدو يا ورکړو بشپړ ر ارقام په دغه کرښه کې ليکل کيږي.

### ۲۰ کرښه - ناوړه پورونه (هغه پورونه چې په ګرانه لاسته راځي)

د لاسته راوړلو هغه بشپړ مبلغ (چې ماليه ورکوونکي ته د عوايدو او يا پلور له درکه ورکول کيږي) چې د ناوړه پورونو په توګه حذف شوي دی ، په دغه کرښه کې درج کيږي.

### ۳۰ کرښه - د نقليه وسايطو لګښت

د نقليه وسايطو د لګښت په موخه د ورکړې هغه بشپړ مبلغ چې د عوايدو له توليد ، لاسته راوړلو (تحصيل) او ساتنې سره تړاو لري او د مالي کال په جريان کې ترلاسه کيږي، په دې کرښه کې درج کيږي.

## ۴۰ کرښه - کمیشن او فیس

د خدمتونو په بدل کې د هغه ورکړل شوي یا لاسته راغلي فیس او کمیشن رقم چې د عادي او ضروري لګښتونو له جملې څخه شمیرل کیږي، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۵۰ کرښه - بیمه

د هغې شتمنۍ د بیمې په بدل کې د حق البیمې ورکړل شوي یا لاسته راغلی رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د عوایدو د تولید، لاسته راوړلو او ساتنې لپاره ورڅخه ګټه اخستل کیږي.

## ۶۰ کرښه - تخفیف، ټکتانه

د سوداګریزو پورونو له درکه د ټکتانې او تخفیف ورکړل شوي یا لاسته راغلي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۷۰ کرښه - پورونه (له ټکتانې سره)

د ورکړل شوو او لاسته راغلو پورونو رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي. داسې پورونه هم شته چې پور اخستونکي مکلف دي پور ورکوونکي ته ټکتانه ورکړي.

## ۸۰ کرښه - پورونه (پرته له ټکتانې)

د ورکړل شوو او لاسته راغلو پورونو رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي. له دغو پورونو سره ټکتانه نشته، یعنې پور اخستوونکي پور ورکوونکي ته د ټکتانې په ورکولو مکلف نه دي.

## ۹۰ کرښه - حقوقي او مسلکي خدمتونه

د مالیه ورکوونکي د عواید و د تولید، لاسته راوړنې (تحصیل) او ساتنې په موخه د حقوقي او مسلکي خدمتونو (لکه محاسبوي، تفتیشي او حقوقي خدمتونه) ورکړل شوي او یا لاسته راغلي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۱۰۰ کرښه - د دفتر لګښت

د د فتر د لګښت (لکه قرطاسیه، د کمپیوټر او پرنټر استهلاکي وسایل او د دفتر د پاکولو وسایل) رقم چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو د تولید، لاسته راوړنې (تحصیل) او ساتنې په موخه ورکړل شوي یا لاسته راغلي دی په دې کرښه کې لیکل کیږي

## ۱۱۰ کرښه - دمدیریت، اداري، مالي، بازار موندنې او روزنیزو پروګرامونو لګښت

د مدیریت، اداري، مالي، بازارموندنې او روزنیزو پروګرامونو د لګښت رقم چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو د تولید، لاسته راوړنې (تحصیل) او ساتنې په موخه ورکړل شوي یا لاسته راغلي دي په دې کرښه کې لیکل کیږي.
د مدیریت، اداري، رهبري، او د اقتصادي فعالیت د نظارت لګښت د اداري لګښت په توګه ګڼل کیږي.

د مالیي رپوټونو برابرول، د بانکداری او پانګې اچونې لګښتونه په مالي لګښت کې شاملیږي.

د اعلانونو، خپرونو او د نورو اړوندو فعالیتونو لګښت د بازارموندنې په لګښت کې شاملیږي.

د کار کوونکو د کاري وړتیا د لوړولو په موخه د روزنیز پروګرامونو لګښت له روزنیزو لګښتونو څخه عبارت دي.

## ۱۲۰ کرښه - ترمیم او ساتنه (حفظ او مراقبت)

د ترمیم او ساتنې د لګښت هغه ورکړل شوي او لاسته راغلي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو له تولید، لاسته راوړنې (تحصیل) او ساتنې سره تړاو لري.

## ۱۳۰ کرښه - د کرائې یا اجارې ورکړې

د کرائې یا اجارې د ورکړو هغه ورکړل شوي یا لاسته راغلي رقم چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو له تولید، لاسته راوړنې (تحصیل) او ساتنې سره تړاو لري، په دې کرښه کې لیکل کیږي. د هغې کارخانې د کرائې ورکړې چې د هغو جنسونو د تولید لپاره ورڅخه ګټه اخستل کیږي چې د مالیه ورکوونکي لخوا پلورل کیږي، په دې کتګوري کې شاملیږي.

## ۱۴۰ کرښه - خیرنه او پراختیا

د خیړنو او پرمختګ د لګښت رقم چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو له تولید ، لاسته راوړني (تحصیل) او ساتنې په موخه ورکړل شوي یا لاسته راغلي دی، په دې کرښه کې لیکل کیږي. د نوي محصول د تولید په خوخه د څیړنې لګښت هم په دې کټګورۍ کې شاملیږي.

## ۱۵۰ کرښه - حق الامتیاز

د حق الامتیاز هغه ورکړل شوي یا لاسته راغلي رقم چې د اقتصادي فعالیت د پرمخ وړلو، د عوایدو په موخه د شتمنۍ د ساتلو او یا د عوایدو د تولید لپاره د یوې اړین قلم په توګه پیژندل شوي دی، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۱۶۰ کرښه - سوداګریز او خام مواد

د سوداګریزو او خامو موادو له درکه لاسته راغلي یا ورکړل شوي عواید په دې کرښه کې لیکل کیږي. شرکت دا مالونه د خپلو اقتصادي فعالیتونو د یوې برخې په توګه پلوري او یا دا چې له خامو موادو څخه د محصولاتو په تولید موخه بازار ته وړاندې کوي.

## ۱۷۰ کرښه - تدارکات

د هغو وسایلو د تدارک لپاره ورکړل شوي یا لاسته راغلي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د عوایدو د تولید او یا د اقتصادي فعالیت په پرمخ وړلو کې د عادي او ضروري لګښت په توګه ور څخه ګټه اخستل کیږي .

## ۱۸۰ کرښه - تخنیکي او ساختماني (لګښت / عواید)

د تخنیکي او ساختماني کارونو د ترسره کولو لپاره ورکړل شوي یا لاسته راغلي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي. د ودانیو (تعمیرونو) یا د بنسټیزو کارونو او ورته تخنکي چارو (لکه د بریښنا د کیبل نصبول او داسې نور) په دې لګښت کې شاملیږي.

## ۱۹۰ کرښه - د اوبو ، بریښنا ، ټیلیفون او نور ورته لګښتونه

د اوبو ، بریښنا ، ټیلفون او نور ورته لګښتونه چې ورکړل شوي او یا لاسته راغلي دي په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۰۰ کرښه- نور هغه عوايد له دې نه مخکې نه په بل ځاي کې نه دي ليکل شوي

په دې کرښه کې هغه متفرقه عوايدليکل کيږي چې د جدول په نورو برخو کې نه دي ليکل شوي. ماليه ورکوونکي بايد په دې وتوانيږي چې په دې کرښه ليکل شوې د متفرقه عوايدو مجموعه بيان کړاي شي.

## ۲۱۰ کرښه - هغه ورکړې او لګښتونه چې د جدول په بل ځاي کې نه دي ليکل شوي

په دې کرښه کې هغه ورکړې ليکل کيږي چې د جدول په بله برخه کې نه دي ليکل شوي. ماليه ورکوونکي بايد په دې وتوانيږي چې په دې کرښه ليکل شوې د متفرقه عوايدو مجموعه بيان کړاي شي.

## ۲۵۰ کرښه - مجموعي عوايد

دهغو ارقامو مجموعه چې د جدول دننه په قوسونوکې ليکل شوې ده په دې کرښه کې ليکل کيږي.

## ۳۰۰ کرښه - مجموعي ورکړې

دهغو ارقامو مجموعه چې د جدول دننه په قوسونوکې ليکل شوې ده په دې کرښه کې ليکل کيږي.

# شپږمه ضمیمه : هغه ورکړې یا ارقام چې بهرنۍ نماینده ګۍ یا بهرني مرکزي دفتر ته د ونډې د فرضي ګټې په توګه ورکول کیږي

## ۲. ۱ الف سریزه

له دې جدول څخه د هغو ورکړو یا رقمونو د ثبت په موخه کار اخستل کیږي چې د یوۀ بهرني نهاد د یوې بهرنۍ نماینده ګۍ لخوا د نوموړي بهرني نهاد بلې برخې ( نماینده ګي یا مرکزي دفتر) ته ورکول کیږي.

بهرني شرکتونه کولای شي د یوې نماینده ګۍ (چې په افغانستان کې ثبت او راجستر نه ده ) او یا یوې نماینده ګۍ ( چې په افغانستان کې ثبت او راجستر ده) له لیارې په افغانستان کې اقتصادي فعالیتونه ترسره کړي.

هغه ګټه چې د خپلواکې (مستقلې) نماینده ګۍ لخوا ویشل کیږي د مالیې تابع ګرځي. د ۱۳۸۵ لمریز کال له پیل نه د نماینده ګیو پر ګټو باندې د مالیې فیصدي ٪۲۰ ده . دا فیصدي هغې فیصدي ته ورته ده چې د ونډې پرګټې تطبیقیږي.

د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون پرنسټ د یوې نماینده ګۍ د مالیې وړ عواید د یو مستقل شخص په ډول محاسبه کیږي او د نماینده ګۍ او بهرني شخص ( د پورته یادې شوې د ونډې له فرضي ګټې نه پرته ) ترمنځ د وکړو لپاره د کسراتو مجرایي نه ورکول کیږي. هغه لګښت چې د نماینده ګۍ یا بهرني شخص لخوا د عوایدو د تولید په موخه په مصرف رسیږي ، د شرکت لپاره د مجاز لګښت په توګه ګڼل کیږي.

د شپږم جدول بشپړ رقم د ۷۱۰ کرښې ( ونډې ورکړل شوې ګټه) د برخې په توګه په څلورمه برخه ( د مجاز کسراتو محاسبه) کې شامل دي.

د ونډې ګټې د نورو ډولونو په څیر د ونډې پر فرضي ګټې باندې ٪۲۰ موضوعي مالیه پلي کیږي. د موضوعي مالیې په اړه پوښتنې د څلورمې برخې ( د مجاز کسراتو محاسبه ) په ۷۱۰ الف کرښه کې مطرح شوي دي.

بهرنۍ نماینده ګۍ یا بهرني مرکزي د فتر ته د ورکړو یا د ارقامو د ورکړې  په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره  پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون تعلیماتنامې ته مراجعه وکړۍ.

## ۲.۲ الف  د شپږم جدول بشپړول - هغه ورکړې او رقمونه چې بهرنۍ نماینده ګۍ یا بهرني مرکزي د فتر ته  د ونډ فرضي ګټې په توګه ورکول کیږي.

## ۲.۲.۱. الف  د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

د مالیاتي اظهارلیک په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د پیژندني هغه نمبر او نوم په تکرار ډول لیکل کیږي  چې د مالیاتي اظهارلیک په لومړۍ برخه کې لیکل شوي دي.

## ۲.۲.۲ الف  په شپږم جدول کې ورکړې یا  پورونه

دا جدول یوازې د هغو ورکړو یا  پورونو  د ورکړې لپاره کارول کیږي چې د یوۀ بهرني نهاد د یوې نماینده ګۍ لخوا د همدغه بهرني نهاد نورو برخو /ځانکو ته ورکول کیږي.

## ۱۰ کرښه - خبرتیاوې (اعلانونه) او سرګرمي

د مالي کال په  اوږدو کې د سرګرمیو او خبرتیاوو  د  ورکړو( تادیاتو) بشپړ رقم ( له هغو سرګرمیو او خبرتیاوو نه پرته چې له سوداګریزو  او اقتصادي فعالیتونو سره تړاو نه لري)  په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۰ کرښه - ناوړه پورونه ( هغه پورونه چې په  اسانه لاسته نه راځي )

د لاسته راوړلو وړ  هغه مجموعي رقم ( چې مالیه ورکوونکي ته د عوایدو  یا پلور له درکه ورکول کیږي) چې د ناوړه پورونو په توګه حذف شوي دي ، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۳۰ کرښه - د نقلیه وسایطو لګښت

د نقلیه وسایطو هغه مجموعي لګښت په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د مالي کال په اوږدو کې د عوایدو د تولید، لاسته راوړنې او ساتنې لپاره ورکول شوي وي.

## ۴۰ کرښه - کمیشن او اجورې

د فعالیت د ترسره کولو لپاره د عادي او اړینو خدمتونوڅخه د کار اخستنې په بدل کې ورکول کیږي ، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۵۰ کرښه - بیمه

د هغې شتمنۍ د بیمې په بدل کې د حق البیمې ورکړل شوي رقم چې د عوایدو په تولید، لاسته راوړلو او ساتنه کې کارول شوي دي، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۶۰ کرښه - ټکټانه، تخفیف

د شرکت د پورونو له درکه د ورکړل شوې ټکټانې مجموعي رقم او د ورکړل شوي تخفیف رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۷۰ کرښه - پورونه (له ټکټانې سره)

د ورکړل شوو پورونو مجموعي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي. داسې پورونه شته چې د پور ترلاسه کوونکي مکلف دي چې پور ورکوونکي ته ټکټانه ورکړي.

## ۸۰ کرښه - پورونه (پرته له ټکټانې)

د ورکړل شوو پورونو مجموعي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي. . داسې پورونه شته چې د پور ترلاسه کوونکي مکلف نه دي چې پور ورکوونکي ته ټکټانه ورکړي.

## ۹۰ کرښه - حقوقي او مسلکي خدمتونه

د مالیه ورکوونکي د عوایدو د تولید ، لاسته راوړنې(**تحصیل**) او ساتنې په موخه د حقوقي او مسلکي خدمتونو ( لکه محاسبوي، تفتیشي او حقوقي خدمتونه ) ورکړل شوي رقم په دې کرښه کې درج کیږي .

## ۱۰۰ کرښه - د دفتر لګښت

د د فتر مجموعي لګښت چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو د تولید ، لاسته راوړنې (**تحصیل**) او ساتنې په موخه ورکړل شوي دي ، په دې کر ښه کې لیکل کیږي. قرطاسیه، د کمپیوټر او پرنټر استهلاکي مواد ، پاکولو مواد او داسې نور په دې کتګوری شامل دي.

## ۱۱۰ کرښه - دمدیریت، اداري، مالي، بازار موندنې او روزنیزو پروګرامونو لګښت یا عواید

د مدیریت، اداري، مالي، بازارموندنې او روزنیزو پروګرامونو د لګښت رقم چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو د تولید ، لاسته راوړنې(**تحصیل**) او ساتنې په موخه ورکړل شوي دی، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

د ورځني مدیریت او تنظیم ، کنټرول، رهبریت، او له اقتصادي فعالیتونوڅخه د نظارت (څارنې) لګښت په اداري لګښتونو کې شاملیږي.

د مالي رپوټونو د برابرولو لګښت، د بانک د کنټرول او اداري د پانګې اچونې لګښتونه په مالي لګښتونوکې شاملیږي.

د محصولاتو د اعلانونو او خپرونو لګښت او نور ورته لګښت په بازموندنې لګښت کې شاملیږي.

د کارکوونکو د کار ړتیا او پوهې د لوړولو په موخه د روزنیز و پروګرامونو او کورسونو د جوړولو لګښت په روزنیزو لګښتونو کې شاملیږي.

## ۱۲۰ کرښه - د ترمیم او ساتنې (**حفظ او مراقبت**) لګښت

د ترمیم او ساتنې د لګښت هغه ورکړل شوي رقم چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو له

تولید ، لاسته راوړنې(تحصیل) او ساتنې سره تړاو لري، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۱۳۰ کرښه - د کرائې یا اجارې ورکړې

د کرائې یا اجارې د ورکړو هغه ورکړل شوي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو له تولید ، لاسته راوړنې(تحصیل) او ساتنې سره تړاو لري. د هغې کارخانې /فابریکې د کرائې ورکړې په دې کتګورۍ کې شاملیږي چې د بازار لپاره محصولات تولیدوي.

## ۱۴۰ کرښه - څیړنه (تحقیق) او پراختیا

د څیړنو او پراختیا د لګښت رقم چې د مالیه ورکوونکي د عوایدو د تولید ، لاسته راوړنې(تحصیل) او ساتنې په موخه ورکړل شوي دی ، په دې کرښه کې لیکل کیږي. د نوي محصول د تولید په اړه د څیړنې لګښت په دې کتګورۍ کې شاملیږي.

## ۱۵۰ کرښه - حق الامتیاز

د حق الامتیاز هغه رقم چې د اقتصادي فعالیت د پرمخ وړلو ، د عوایدو په موخه د شتمنۍ ساتلو او یا د عوایدو د تولید په موخه ورکړل شوي دي، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۱۶۰ کرښه - سوداګریز او خامو مواد

د سوداګریزو او خامو موادو د لاسته راوړنې په موخه ورکړل شوي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

شرکت دا مالونه د خپلو اقتصادي فعالیتونو د یوې برخې په توګه پلوري او یا دا چې له خامو موادو څخه د محصولاتو په تولید موخه بازار ته وړاندې کوي.

## ۱۷۰ کرښه - تدارکات

د هغو وسایلو د تدارک لپاره ورکړل شوي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د عوایدو د تولید او یا د اقتصادي فعالیت په پرمخ وړلو کې د عادي او ضروري لګښت په توګه ور څخه ګټه اخستل کیږي .

## ۱۸۰ کرښه - تخنیکي او ساختماني (لګښت / عواید)

د تخنیکي او ساختماني کارونو د ترسره کولو لپاره ورکړل شوي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي. د ودانیو (تعمیرونو) یا د بنسټیزو کارونو او ورته تخنکي چارو (لکه د بریښنا د کیبل نصبول اوداسې نور) په دې لګښت کې شاملیږي.

## ۱۹۰ کرښه - د اوبو، بریښنا، ټیلیفون او نور ورته لګښتونه

د اوبو، بریښنا، ټیلفون او نور ورته لګښتونه چې ورکړل شوي او یا لاسته راغلي دي په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۰۰ کرښه - نورې ورکړې یا ارقام

په دې کرښه کې هغه متفرقه عوایدلیکل کیږي چې د جدول په نورو برخو کې نه دي لیکل شوي. مالیه ورکوونکي باید په دې وتوانیږي چې په دې کرښه لیکل شوې د متفرقه عوایدو مجموعه بیان کړاي شي.

## ۲۵۰ کرښه - مجموعي ورکړې او پورونه

۱۰ - ۲۰۰ کرښې سره جمع کیږي او لاسته راغلي رقم ( د جمع حاصل) د ۴ برخې ( مجاز کسرات) په ۲۵۰ او ۷۱۰ کرښو کې لیکل کیږي.

## ۳۰۰ کرښه-د څلورمه برخې (د مجاز کسراتو محاسبه) په ۷۱۰ کرښه ( ونډې ورکړل شوې ګټه ) کې د ورکړو د شمولیت په اړه پوښتنې .

که چیرې هغه ورکړې چې په ۲ جدول کې یې یادونه شوې ده د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې ( مجاز کسرات) په ۷۱۰ کرښه (د ونډې ورکړل شوې ګټه ) کې لیکل شوې وي ، په ۳۰۰ کرښه کې د « هو" کلمه لیکل کیږي.

که چیرې هغه ورکړې چې په ۲ جدول کې یې یادونه شوې ده د مالیاتي اظهارلیک د ۴ برخې ( مجاز کسرات) په ۷۱۰ کرښه (د ونډې ورکړل شوې ګټه ) کې نه وي لیکل شوې ، په ۳۰۰ کرښه کې د " نه" کلمه لیکل کیږي.
دا چې د قانون له مخې دا ډول ورکړې د فرضي ونډې ګټې په توګه ګڼل کیږي، که

چیرې مالیه ورکوونکي و نه وغواړي چې دا ورکړې د فرضي ونډې ګټې په توګه وښیي ، نوموړي باید په دې اړه قانع کوونکي او د منلو وړ اسنادو لري.

## ۳۵۰ کرښه - د ثلورمې برخې (د مجاز کسراتو محاسبه) په نورو کرښو کې د ورکړو د شمولیت په اړه پوښتنه

که چیرې هغه ورکړې چې په شپږم جدول کې یې یادونه شوې ده، د ثلورمې برخې له ۷۱۰ کرښې نه پرته ددې برخې په نورو کرښو کې لیکل شوې وي، په ۳۵۰ کرښه کې د» هو" کلمه لیکل کیږي.

که چیرې مالیه ورکوونکي غواړي چې دا ورکړې د فرضي ونډې ګټې (د ۴ برخې ۷۱۰ کرښه) په توګه نه بلکه د کسراتو په توګه محاسبه کړي ، نوموړي باید په دې اړه دلایل او قانع کوونکي اسناد ولري ځکه
چې د قانون له مخې دا ډول ورکړې د فرضي ونډې ګټې په توګه ګڼل کیږي.

که چیرې په ۲ جدول کې شاملې ورکړې د ۴ برخې ( مجاز کسرات) په نورو کرښو کې نه وي لیکل شوې ، په ۳۵۰ کرښه کې د « نه" کلمه لیکل کیږي.

## اوومه ضمیمه : اووم جدول - په بهر کې د ورکړل شوو مالیاتو د کسراتو محاسبه

### ۷. ۱ الف سریزه

اووم جدول ( په بهرکې د ورکړل شوو مالیاتو د کسراتو محاسبه) باید په لاندې شرایطوکې بشپړ او وړاندې کړل شي:

- د بهرنیو عوایدو شتون
- په بهر کې تاوان /ضرر سره مخ کیدل
- په بهر کې ورکړل شوي مالیات

د اووم جدول یو نقل باید له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه کړل شي. اووم جدول په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.

یو افغان میشت وګړی کولای شي د هغو مالیاتو په بدل کې د مجرائي غوښتنه وکړي چې په بهر کې ئې ور کړي دي او یايې داسې عواید ترلاسه کړي وي چې پرعایداتو باندې د مالیاتوقانون د محدودیتونو تابع دي. د هر بهرني هیواد لپاره یو محدودیت شته دي.

که چیرې په افغانستان کې شته کمپنۍ ګاني چې د بهرنیو تشبثونو فعالیتونه ترسره کوي له تاوان سره مخ شي، دوي کولای شي د تاوان لپاره د مجرایي غوښتنه وکړي. د بهرنیو فعالیتونو تاوانونه د کورنیو فعالیتونو (هغه فعالیتونه چې د افغانستان دننه ترسره کیږي) له عوایدو څخه د مجرایي وړ نه دي.

د بهرني تاوان مجرائي یوائې د بهرنیو فعالیتونو له راتلوونکو ګټو څخه د مجرایي وړ ده نه د کورنیو فعالیتونو له موجوده ګټې څخه.

ولې پر عایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې له بدلونونو نه وړاندې په افغانستان کې میشت شرکت چې په بهر کې ئې اقتصادي فعالیتونه درلودل، کولې شول چې د بهرنۍ خسارې لپاره د هغو عوایدو په بدل کې مجرائي ترلاسه کړي چې په افغانستان کې یې د اقتصادي فعالیتونو له درکه ئې لاسته راوړي دي. د دې موضوع بر عکس یعنې په افغانستان کې د منځ ته راغلې خسارې لپاره له بهرنیو عوایدو څخه مجرائي ترلاسه

کړي. دغه بدلون د ۱۳۸۵ کال د نومبر د میاشتې له ۱۱ نېټې څخه نافذ دي.
د خسارې هغه رقم چې د راتلوونکې ګټې په بدل کې ئې مجرائي ترلاسه کیدای شي د هغه هیواد د مالیاتي قوانینو له مخې ټاکل کیږي چې عواید او تاوان/ضرر په کې لاسته راغلي دي. که چیرې د یوۀ بهرني هیواد مالیاتي قانون (د بیلګې په ډول) داسې څرګند ۀ کړي چې د راتلوونکې ګټې په بدل کې د تاوان یواځې له دریو څخه یوه برخه (دریمه برخه) د راتلوونکو کلونو په یوه کال کې د مجرائي وړ ده، د همغه خسارې رقم چې په بهرکې د ورکړل شوو مالیاتود مجاز کسراتو د محاسبې پرمهال کارول شوي وه ، دلته هم کارول کیږي.

## لومړۍ بیلګه

د (الف) شرکت یو افغان سهامي شرکت دي چې د غالیو یو پلورنځي د افغانستان په جلال آباد ښار کې او یو پلورنځي د پاکستان په لاړهور ښارکې لري. نوموړي شرکت افغانۍ غالۍ رانیسي او بیا یې د خپلو پلورنځیو له لیارې په افغانستان او پاکستان کې پلوري. . په ۱۳۸۸ کال کې ، د الف شرکت له هغه پلورنځي څخه چې په جلال آباد کې موقعیت لري ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړه ، ولې د لاهور په پلورنځي کې ۹۰۰۰۰ افغانۍ تاون وکړ. د الف شرکت د لاهور پلورنځي د تاوان (۹۰۰۰۰ افغانۍ) لپاره نشي کولاي د خپلو عوایدو څخه مجرایي ترلاسه کړي په افغانستان کې یې لاسته راوړي دي. پس نوموړي شرکت مکلف دي چې په افغانستان کې د لاسته راغلې له درکه ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ
(۲۰۰۰۰۰ = ۱۰۰۰۰۰۰ x ٪ ۲۰) مالیات پرعایدات وضع کړي.

## دویمه بیلګه

په ۱۳۸۹ کال کې، د (الف) شرکت دجلال آباد د غالیو په پلورنځي کې ۷۰۰۰۰۰ افغانۍ تاوان کوي د لاړهور له پلورنځي څخه ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړي. په دې حالت کې د لاړهور د غالیو له پلورنځي څخه لاسته راغلې ګټه په پاکستان کې د ۳۲۰۰۰۰ افغانیو تابع ګرځي . په پاکستان کې د ۱۳۸۸ کال تاوان په پاکستان کې د ۱۳۸۹ کال له ګټې څخه د مجرایي وړ ده.

د پاکستان د مالیاتو قانون له مخې د (الف) شرکت کولای شي چې په هر کال کې د یوه کال لپاره د تاوان له دریو برخو څخه د یوې برخې لپاره مجرائي تر لاسه کړي.. راتلوونکې ته د تاوان له لیږد نه وروسته ، د الف شرکت خالصه ګټه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ ده (په ۱۳۸۹ کال کې ۸۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه منفي په ۱۳۸۸ کال کې

۳۰۰۰۰۰ افغانۍ تاوان).

پر عايداتو باندې د مالياتو قانون د ۵ مادې پر بنسټ د (الف) شرکت کولای شي چې د هغې مالیې لپاره چې په پاکستان کې يې ورکړل شوې ده، د مجرائي غوښتنه وکړي، اما دامجرايي يو ځانګړي محدوديت لري. دا محدوديت له هغې مالیې سره مساوي دي چې که چیرې ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ په افغانستان کې ترلاسه شي، ماليه ورڅخه اخستل کیږي يعنې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ (۵۰۰۰۰۰ x ٪۲۰). د ۱۰۰۰۰۰ افغانيو په بدل کې له ۳۲۰۰۰۰ څخه د زيات رقم لپاره مجرائي ورکول کیږي ولې راتلوونکو کلونو ته نشي لیږدول کیدای.

د هربهرني هیواد (چې عوايد په کې لاسته راغلي او دمجرايي غوښتنه په کې شوې ده) لپاره مجرايي په جلا توګه محاسبه کیږي. که چیرې يو ماليه ورکوونکي له ۳ په ډیرو هیوادونوکې عوايدو ولري، د ۷ جدول ډیرو کاپیانو ته اړتیا لري. د ۷ جدول يوه کاپي په ۱۴ ضميمه کې شتون لري.

## ۷.۲ الف په بهرکې د ورکړل شوو ماليو د مجرائي لپاره د محاسبې جدول بشپړول

### ۷.۲.۱ الف د ماليه ورکوونکي په اړه معلومات

دمالياتي اظهارليک په دې برخه کې د ماليه ورکوونکي د پيژندني هغه نمبر او نوم په تکرار ډول ليکل کیږي چې د مالياتي اظهارليک په لومړۍ برخه کې ليکل شوي دي.

### ۷.۲.۲ الف د اووم جدول بشپړول – په بهر کې د ورکړل شوې مالیې د مجرائي محاسبه

#### ۱ کرښه - پرعايداتو باندې دمالياتو مجموعه

د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې له ۸۰ کرښې څخه پرعايداتو باندې د مالياتو (د هرډول کسراتو له وضع کولونه دمخه) په دې کرښه کې ليکل کیږي.

#### ۲ کرښه - له بهرني هیواد څخه لاسته راغلي د مالیې وړ عوايد

د ماليه ورکوونکي د مالیې وړ هغو عوايدو بشپړ رقم (يعنې عوايد منفي کسرات

لګښت) د کسراتو له وضع کولو نه وړاندې په دې کرښه کې لیکل کیږي . دا هغه رقم دي چې په بهرني هیواد کې پرې مالیه وضع شوې ده. دا رقم د ضرر له وضع کولو نه وړاندې هغه عواید دي چې مالیه ورکوونکي ورپه بهرني هیواد کې ترلاسه کړي دي.

## ۳ کرښه- هغه بهرني تاوانونه چې له تیرو څخه لیږدول شوي دي.

که چیرې د تیرو کلونو بهرني تاوانونه لیږدول شوي وي، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

دهغو مجازو بهرنیو تاوانونو اندازه/رقم چې له راتلوونکو عوایدو څخه د مجرايي وړ دي دهغه هیواد د مالیاتي قوانینو پربنسټ ټاکل کیږي چې عواید او تاوان په کې لاسته راغلي دي.

که چیرې د بهرني هیواد مالیاتي قانون داسې څرګند ۀ کړي چې د راتلوونکې ګټې په بدل کې د تاوان یواځې له دریو څخه یوه برخه (دریمه برخه) د راتلوونکو کلونو په یوه کال کې د مجرائي وړ ده، د همغې خسارې رقم چې په بهرکې د ورکړل شوو مالیاتود مجاز کسراتو د محاسبې پرمهال استفاده شوې وه ، په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۴ کرښه- له بهرنیو سرچنیو څخه لاسته راغلي دمالیې وړ خالص عواید

له بهرنیو سرچنیو څخه دمالیې وړ خالص عواید له ۲ کرښې (د مالیې وړ عواید) د ۳ کرښې له منفي کولو څخه لاسته راځي.

ددې محاسبې پایله باید په ۴ کرښه کې ولیکل شي.

## ۵ کرښه- محاسبه

لومړۍ کرښه ( پرعایداتو باندې مالیات) په څلورمه کرښه ( له بهرني هیواد څخه لاسته راغلي د مالیې وړ عواید) کې ضربیږي او لاسته راغلي رقم ( د ضرب حاصل ) په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۶ کرښه- له ټولو هیوادونو څخه لاسته راغلي د مالیې وړ مجموعي عواید

د افغانستان په ګډون له ټولو هیوادونو څخه لاسته راغلي د مالیې وړ مجموعي

عوايد په دې کرښه کې ليکل کيږي. دا عدد د مالياتي اظهارليک د دويمې برخې له ۷۰ کرښې څخه لاسته راځي.

## ۷ کرښه - د يوۀ بهرني هيواد لپاره د مجرائي محاسبه

پنځمه کرښه (محاسبه) پر شپږمې کرښې ( له ټولو هيوادنو څخه لاسته راغلي د ماليې وړ مجموعي عوايد) باندې ويشل (تقيسيم) کيږي او په پايله کې يې دبهرنيو مالياتو دمجرايي هغه رقم ترلاسه کيږي چې ددې بهرني هيواد لپاره د ادعا وړ دي. لاسته راغلي مبلغ ( د تقسيم حاصل ) په ۷ کرښه او « مالياتي مجرايي - هيواد « ( ) کرښه کې ليکل کيږي.

په اوومه کرښه کې محاسبه شوي رقم د بهرنيو مالياتو د مجرايي هغه اعظمي حد دي چې د يو ځانګړي هيواد لپاره ادعا کيداي شي. هر ډول بهرني اضافي ماليات چې دغه بهرني هيواد ته ورکړل شوي دي، د مجرائي لپاره يې دعوا نشي کيداي . د نوموړو اضافي مالياتو ورکړې په افغانستان کې د راتلونکو او يا پخوانيو کلنو پرعايداتو باندې دمالياتو د لږوالي او له ترسره کولو په موخه نشي ليږدول کيداي.

### لومړۍ بيلګه :

د (ب) شرکت په افغانستان کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ او په بهرني هيواد (ج) کې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ( په افغانيو باندې د اسعارو له تبادلې نه وروسته ) د ماليې وړ عوايد لري. د (ب) شرکت عوايد چې له ټولو سرچينو څخه يې لاسته راوړي دي ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ دي او له دې رقم څخه د ورکړې وړ رقم د ورکړې ماليې رقم ۶۰۰۰۰ افغانۍ دي. په (ج) هيواد کې د نوموړي شرکت مالياتي مکلفيت ۷۲۰۰۰ افغانۍ دي چې په نوموړي هيواد کې ورکول شوي دي.

| | | |
|---|---|---|
| لومړۍ کرښه- پرعايداتو باندې د مالياتو مجموعه | ۶۰۰۰۰ | افغانۍ |
| دويمه کرښه- له ( ج ) هيواد څخه د ماليې وړ عوايد | ۲۰۰۰۰۰ | افغانۍ |
| دريمه کرښه- ليږدول شوي (انتقال شوي ) تاوانونه /خسارې | صفر | افغانۍ |
| څلورمه کرښه- د ماليې وړ خالص عوايد | ۲۰۰۰۰۰ | افغانۍ |
| پنځمه کرښه- محاسبه(لومړۍ کرښه ضرب په څلورمه کرښه کې) | ۱۲۰۰۰۰۰۰۰۰ | افغانۍ |
| شپږمه کرښه-له ټولو هيوادونو څخه د ماليې وړ مجموعي عوايد | ۳۰۰۰۰۰ | افغانۍ |
| اوومه کرښه- مجرائي ۱ ( پنځمه کرښه تقسيم پر شپږمې کرښې) | ۴۰۰۰۰ | افغانۍ |

نوموړي شرکت نشي کولاي د (ج) شرکت لپاره د بهرنيو مالياتو په توګه له ۱۲۰۰۰ افغانيو څخه د زيات رقم دعوا وکړي ځکه چې ماليات له خپل ټاکلي اندازې څخه زيات شوي دي . د (ب) شرکت مکلف دي چې ۲۰۰۰۰ افغانۍ ماليات ورکړي ( ۶۰۰۰۰ افغانۍ مالياتي مکلفيت منفي ۴۰۰۰۰ افغانۍ مجرايي) . د ۱۲۰۰۰ افغانيو اضافي رقم چې د (ب) شرکت د بهرنيو مالياتو له درکه ورکړي دي، د ليږد و ړ نه دي او د افغانستان د عوايدو له مالياتو څخه د کسر وړ دي.

## دويمه بيلګه:

ددې بيلګې جزئيات د لومړۍ بيلګې جزئياتو ته ورته دي اما په دې توپير چې د (ب) شرکت له (ج) هيواد څخه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ عوايد لاسته راوړي او د تيرکال تاوان (چې ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ ده) يې ليږدولي دي.

| | |
|---|---|
| لومړۍ کرښه- پر عايداتو باندې د مالياتو مجموعه | ۶۰۰۰۰ افغانۍ |
| دويمه کرښه- له ( ج ) هيواد څخه د ماليې وړ عوايد | ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| دريمه کرښه- له (ج) هيواد څخه ليږل شوي تاوان | ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| څلورمه کرښه- له (ج) هيواد څخه د ماليې وړ خالص عوايد | ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| پنځمه کرښه- محاسبه(لومړۍ کرښه ضرب په څلورمه کرښه کې) | ۱۲۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| شپږمه کرښه-له ټولو هيوادونو څخه د ماليې وړ مجموعي عوايد | ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| اوومه کرښه- مجرائي ۱ ( پنځمه کرښه تقسيم پر شپږمې کرښې) | ۴۰۰۰۰ افغانۍ |

نوموړي شرکت نشي کولاي د (ج) هيواد د بهرنيو مالياتو لپاره له ۱۲۰۰۰ افغانيو څخه د زيات رقم مجرايي وغواړي ځکه چې د ماليات له ټاکلي اندازې څخه زيات دي. د (ب) شرکت مکلف دي چې ۲۰۰۰۰ (۶۰۰۰۰ افغانۍ مالياتي مکلفيت منفي ۴۰۰۰۰ افغانۍ مجرايي) افغانۍ ماليه ورکړي. د (ب) شرکت چې د بهرنيو مالياتو له درکه ۱۲۰۰۰ افغانۍ اضافي ماليه ورکړې ده، دا اضافي ماليه په افغانستان کې د لاسته راغلو تيروکلونو او راتلوونکو کلونو له عوايدو څخه د کسر او ليږد وړ نه ده.
د بهرنيو مالياتو لپاره مجرايي يوازې په لاندې حالاتو کې جواز لري:

۱. که چيرې دهغه هيواد (چې ماليات په کې وضع شوي دي) پرعايداتو باندې د مالياتو اظهارليک او دماليې رسيد له افغاني مالياتي اظهارليک سره ضميمه او وړاندې کړل شي.
۲. که چيرې په افغاني مالياتي اظهارليک کې له ټولو سرچينو څخه لاسته راغلي عوايد شامل شوي وي.

۳. که چیرې دهغو بهرنیو مالیاتو لپاره چې د مجرایي غوښتنه یې شوې ده مجرایي نه وي وضع شوې.
۴. د ټولو هیوادونو مالیه له داسې مالیه وي چې پرټولو خالصو عوایدو باندې تطبیق شي.

د ورکړل شوو بهرنیو مالیاتو مجرایي یوازې پرعایداتو باندې د مالیاتو په اړه کارول کیږي. د هغو بهرنیو مالیاتو لپاره مجرایي جواز نه لري چې د مالیه ورکوونکي له عوایدو څخه نه وي وضع شوې.
دا چې مالیه پرعوایدو باندې تطبیق شوې ده او کنه ، د حالاتو او حقایقو له ارزولو څخه وروسته معلومیږي. ددې د معلومولو لپاره د عوایدو لوی ریاست باید و مومي چې آیا بهرني هیواد مالیه ورکوونکو ته اجازه ورکوي او کنه چې دهغوي له عوایدو څخه د منلو وړ یو رقم وضع شي .

## دریمه بیلګه

د (ب) شرکت یو افغاني سهامي تشبث دي چې په بهر کې فعالیت لري او دهغو اجناسو د واردولو له درکه ګمرکي محصول ورکوي چې نوموړي شرکت کې یې پلوري. دا ډول محصول د پلورل شوو اجناسو د بیې د یوې برخې په توګه ګڼل کیږي، اما د یاد شوي سهامي شرکت د افغاني مالیاتو په بدل کې ګمرکي محصولات د مجرایي وړ نه دي.

## څلورمه بیلګه

د ( ج ) شرکتs یو افغانیي سهامي تشبث دي چې له هیواد نه بهر فعالیت لري او په بهرني هیواد کې د پانګې د دوران ۴ فیصده مالیه ورکوي چې په یوه مالي کال ۲۲۰۰۰ افغانۍ کیږي. په نوموړي هیواد او په هماغه کال کې د نوموړي شرکت لخوا ورکړل شوي پرعایداتو باندې خالص مالیات ۱۲۰۰ افغانیو ته رسیږي. د پانګې د دوران ۲۲۰۰۰ افغانۍ مالیه د لګښت په توګه نشي وضع کیداي او په افغانستان کې پرعایداتو باندې د مالیاتو په بدل کې د پانګې د دوران مالیې لپاره د مجرایي غوښتنه نشي کیداي. یوازې پرعایداتو باندې د خالصو مالیاتو لپاره چې ۱۲۰۰ افغانۍ دي او په بهرني هیواد کې ورکول شوې ده، مجرایي ورکول کیږي او په افغانستان کې ددې شرکت په مالیاتو کې تریوې اندازې پورې کموالي رامنځته کوي.

## پنځمه بیلګه

د (د) شرکت یو افغاني سهامي شرکت دي چې په افغانستان او پاکستان کې د فرنیچر د تولید او وړاندې کولو فعالیتونه لري. نوموړي شرکت په پاکستان کې پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع دي. فرض کوو چې پاکستان د نوموړي شرکت پرعوایدو باندې ۲ فیصده مالیه (منفي د پلورل شوو اجناسو بیه) وضع کوي. سره له دې چې د پاکستان مالیاتي سیستم د (د) شرکت ته اجازه ورکوي چې د پلور شوو اجناسو د بیې لپاره د مجرایي غوښتنه وکړي، د پاکستان لخوا وضع شوې مالیه په دې دلیل د نوموړي شرکت پرعایداتو باندې مالیات نه ګڼل کیږي چې د (د) شرکت د عملیاتي لګښتونو (لکه د معاش او استهلاک لګښتونه) د وضع کولو اجازه نه ورکوي.

**تبصره:**

هغه مالیات چې پر عایداتو باندې وضع نشي د کاري لګښت په توګه د مجرایي وړ دي ، اما د بهرنیو مالیاتو د مجرایي اجازه نه لري.

## له بهرنیو سرچنیو څخه مجموعي عواید- له ټولو هیوادونو څخه لاسته راغلي عواید

د څلورمې کرښې رقم (له بهرنیو سرچینو څخه خالص عواید ) او ۷ جدول د هر هغه هیواد لپاره جمع کیږي چې د بهرنیو مالیاتو د مجرایي غوښتنه ورڅخه شوې ده.
د پورتنۍ محاسبې پایله (لاسته راغلي رقم ) د مالیاتي اظهارلیک د دریمې برخې (د محاسبې وړ عواید) په ۴۲۰ کرښه (له بهرنیو سرچینو څخه لاسته راغلي عواید) کې لیکل کیږي.

په بهرکې د ورکړل شوو مالیاتو په بدل کې مجموعي مجرایي- د ټولو هیوادونو لپاره

د مالیاتو د مجرایي په کرښه کې مجموعي رقم (چې د ۷ کرښې له رقم یا له هغه حقیقي رقم څخه لږ دي چې په بهرني هیواد کې ورکړل شوي دي) د هرهغه هیواد لپاره جمع کیږي چې په ۷ کرښه کې ورڅخه د بهرنیو مالیاتو مجرایي غوښتل شوې ده .

د پورتنۍ محاسبې پایله د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې (د ورکړې وړ مالیاتو محاسبه ) په ۹۰کرښه (په بهر کې د ورکړلو شوو مالیاتو لپاره مجرایي) او د ټولو هیوادونو لپاره دورکړل شوو مالیاتو د مجرایي په کرښه کې لیکل کیږي.

## ۸. ۱ الف سریزه

له اتم جدول څخه د روان او تیر کال د بیلانس په اړه د معلوماتو د ساتلو لپاره کار اخستل کیږي. د بیلانس په اړه معلومات باید له مالیاتي اظهارلیک سره وړاندې کړل شي. د ۸ جدول یو نقل د مالیاتي لارښوود په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.

که چیرې له وړاندې نه داسې یو بیلانس برابر کړل شوي وي چې د اتم جدول ټول او اړین معلومات پکې شتون ولري، د یاد شوي بیلانس یو نقل باید د اتم جدول د بشپړولو پرځای ضمیمه کړل شي. کلیدي اړتیاوې په اتم جدول کې د شته کتګوریانو، د روان او راتلوونکي کال له معلوماتو څخه عبارت دي چې د بیلانس له لیارې وړاندې کیږي.

پرعایداتو باندې د مالیاتي اظهارلیك د برابرولو په موخه بیلانس باید د محاسبې د وروستۍ طریقې پربنسټ ترتیب کړل شي.

د اتم جدول په بیلانس کې شامل معلومات د عامه منل شوو محاسبوي اساساتو پربنسټ برابریږي. \

بیلانس ، معمولاً (د وړاندې کولو پرمهال) د شرکت د معلوماتو او مالي وضعیت په اړه معلومات لري. بیلانس هغه سند دی چې د کال په پای ا و په ټاکلي نیټه کې د شرکت ټولې شتمنۍ او ثبت شوي مکلفیتونه په کې لیکل شوي دي. بیلانس له هغۀ سند څخه چې په یوه ټاکلې موده کې په کې عواید ، ګټه او یا ضرر لیکل ،توپیرلري.

په ۸ جدول کې موجوده بیلانس دوه برخې لري : د شتمنۍ برخه او د مکلفیتونو برخه. دا دوه برخې باید تعادل (موازنه) ولري.

## ۸ . ۲ الف د اتم جدول بشپړول - بیلانس

### ۸. ۲. ۱ الف د مالیه ورکوونکي په اړه معلومات

د مالیاتي اظهارلیك په دې برخه کې د مالیه ورکوونکي د پیژندنې هغه نمبر او نوم چې دمالیاتي اظهارلیك په لومړۍ برخه کې لیکل شوي دي په تکرار ډول لیکل کیږي.

## ۸. ۲. ۲. الف پانګه

### ۸. ۲. ۲. ۱. الف موجوده پانګه

له دې برخې څخه دهغو ثابتو پانګو د یادداښت کولو په اړه کار اخیستل کیږي چې له یوه کال نه د لږ وخت په موده کې د تبدیلي وړ دي. د بیلګې په توګه هغه مالي پانګه اچونه چې په ۱۲میاشتو کې د ثابتې شتمنۍ پرځاي د فعلي شتمنۍ په توګه ګڼل کیږي.

### ۱۰ کرښه - په بانك کې نغدې پیسې او یا د هغو معادل

په بانک کې د نغدو پیسو رقم او یا د نغدو پیسو معادل په دې کرښه کې لیکل کیږي. د بیلګې په توګه، د کال (په اوږدو کې) په یوه ځانګړې موده کې په بانک معیادي اماناتونه (که په سوداګریزو حسابونو کې وي او که د اماناتوپه حساب کې).

### ۲۰ کرښه - نغدې پیسې او د موجوده نغدو پیسومعادل

د موجوده نغدو پیسو مجموعي ارزښت او یا دهغو معادل په دې کرښه کې لیکل کیږي. د بیلګې په توګه ورځني لګښت.

### ۳۰ کرښه - مالي پانګه اچونه

د مالي پانګې اچوني مجموعي ارزښت (د بیلګې په توګه، د یوه کال په موده کې د مالیه ورکوونکي لخوا ترلاسه شوي پورونه) په دې کرښه کې لیکل کیږي.

### ۴۰ کرښه - اجناس/د پلور وړ اجناس

د اجناسو مجموعي رقم او د پلور وړ اجناس (د تولیدشوو اجناسو په ګډون) په دې کرښه کې لیکل کیږي. د روان کال لپاره دغه موجودي باید هغه رقم ته ورته وي چې د مالیاتي اظهارلیك په ۳۵۰ کرښه کې لیکل شوي دي.

## ۵۰ کرښه - نورې ناملموسې شتمنۍ

د شهرت په شان د نورو ناملموسو شتمنیو مجموعي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۶۰ کرښه – اومه مواد

د هغو اومه موادو مجموعي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي چې د اجناسو په جوړولو کې کارول کیږي .

## ۷۰ کرښه - سوداګري او نور لاسته راتلوونکي حسابونه

د سوداګري او نورو لاسته راتلوونکو حسابونو مجموعي پانګه په دې کرښه کې لیکل کیږي. دا هغه ارقام دي چې په اړوند یې د مالیه ورکوونکي لخوا صورت حساب وړاندې کړل شوي او کیداي شي چې ترلاسه یې کړي.

## ۸۰کرښه -د کار جریان یعنې د اجناسو د تولید کار نه دی بشپړشوی

د ټولو روانو کارونو اندازه او نا بشپړ اجناس (اجناسو د جوړونې د یوې برخې په توګه) په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۹۰ کرښه - نورې جارۍ (ناثابتې) شتمنۍ

که چیرې تاسې داسې متفرقه شتمنۍ ولرۍ چې د بیلانس د موجوده شتمنیو د یوې برخې په یوه کرښه کې هم نه شاملیږي، دا ډول شتمنۍ په ۹۰ کرښه کې ولیکۍ.

## ۱۰۰ کرښه – د نا ثابتو شتمنیو مجموعه

جاري شتمنۍ د ۱۰- ۹۰ کرښو د جمع له لیارې محاسبه کیږي او لاسته راغلی مجموعي رقم یې په ۱۰۰ کرښه کې لیکل کیږي.

## ۸. ۲. ۲. ۲. ثابته شتمنۍ

له دې برخې څخه له یوۀ کال نه د زیات وخت لپاره د شتمنۍ د ثبت او شاملولو لپاره کاراخستل کیږي. د بیلګې په توګه هغه مالي پانګه اچونه چې په ۱۲میاشتو کې د ثابتې شتمنۍ پرځای د جاري شتمنۍ په توګه ګڼل کیږي .

### ۱۱۰ کرښه - مالي پانګه اچونه

د مالي پانګې اچونې مجموعي ارزښت په دې کرښه کې لیکل کیږي. د بیلګې په توګه د مالیه ورکوونکي لخوا ترلاسه شوي پورونه او له یو کال نه وروسته په یوه ټاکلې موده کې د پور اسناد.

### ۱۲۰ کرښه – معنوي شتمنۍ (ښه شهرت)

د معنوي شتمنۍ ارزښت (ښه شهرت) په دې کرښه کې لیکل کیږي.

### ۱۳۰ کرښه - ځمکه او ودانۍ (تعمیرات)

د ځمکو او ودانیو (تعمیرونو) مجموعي ارزښت په دې کرښه کې لیکل کیږي. د بیې دا ټاکنه (قیمت ګذاري) له استهلاک او نوې بیه ټاکنې نه وړاندې صورت مومي .

### ۱۴۰ کرښه – نورې ناملموسې شتمنۍ

د حق الامتیاز په شان د نورو ناملموسو شتمنیو مجموعي ارزښت په دې کرښه کې لیکل کیږي.

### ۱۵۰ کرښه - نور لاسته راتلوونکي اجناس

د نورو لاسته راتلوونکو حسابونو مجموعي ارزښت په دې کرښه کې لیکل کیږي. دا هغه ارقام دي چې تاسو یې صورت حساب وړاندې کړي دي او کیداې شي په راتلوونکي کال کې ترلاسه نه کړی.

### ۱۲۰ کرښه - جایداد ، وسایل او تجهیزات

له استهلاك او نوې بیې له معلومولو نه دمخه ، د جایداد ، وسایلو او تجهیزاتو اصلي

مجموعي ارزښت په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۱۷۰ کرښه - نورې ثابتې شتمنۍ

که چیرې تاسې داسې متفرقه شتمنۍ ولري چې د بیلانس د ثابتې شتمنۍ په یوه کرښه کې هم نه شي شاملیداى ، داشتمنۍ په دې کرښه کې ولیکۍ.

## ۱۸۰ کرښه – د ثابتې شتمنۍ مجموعه

د ثابتې شتمنۍ مجموعه د ۱۱۰ – ۱۷۰ کرښو دجمع کولو له لیارې محاسبه کیږي او پایله (لاسته راغلی رقم)یې په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۱۹۰ کرښه - مجموعي پانګه

مجموعي شتمنۍ د ۱۰۰ – ۱۸۰ کرښو د جمع کولو له لیارې پیدا (محاسبه)کیږي او پایله یې په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۸. ۲. ۳. الف مکلفیتونه او پانګه

## ۸. ۲. ۳. ۱. الف موجوده مکلفیتونه

دا برخه له یوه کال نه د لږ وخت مالیاتي مکلفیتونو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په ډول هغه پور چې باید په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې ورکول شي ، د غیرجاري مکلفیتونو برخای د جاري مکلفیتونو په توګه ګڼل کیږي.

## ۲۰۰ کرښه – بانکي اضافي ورکړې

د بانکي اضافي ورکړو رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۱۰ کرښه - پور ونه (موجوده رقمونه)

هغه مجموعي پورونه په دې کرښه کې لیکل کیږي چې له یوه کال څخه لږ ټاکلي وخت لري.

## ۲۲۰ کرښه - موجوده مالیاتي مکلفیتونه

د موجوده مالیاتي مکفیتونو مجموعه په دې کرښه کې لیکل کیږي. دا هغه مالیات دي چې محاسبه شوي دي او په راتلوونکي کال د ورکړې وړ دي ، اما تر اوسه نه دي ورکړل شوي.

## ۲۳۰ کرښه - احتمالي لګښت ( لنډ مهالي )

له یوه کال څخه د کم وخت احتمالي لګښت (لکه د کلنۍ رخصتیو احتمال لګښت) په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۴۰ کرښه - سوداګرۍ اود ورکړې نور موارد

د سوداګري او نورو ورکړې وړ مواردو مجموعي پانګه په دې کرښه کې لیکل کیږي. دا هغه ارقام دي چې صورت حساب یې لا دمخه ترتیب شوي دي اما تراوسه نه دي ورکړل شوي.

## ۲۵۰ کرښه - نور موجوده مالیاتي مکلفیتونه

که چیرې تاسې داسې متفرقه شتمنۍ ولري چې د بیلانس د ثابتې شتمنۍ په یوه کرښه کې هم نه شي شاملیداي ، نو داشتمنۍ په دې کرښه کې ولیکۍ.

## ۲۶۰ کرښه - د موجوده مالیاتي مکلفیتونو مجموعه

موجوده مالیاتي مکلفیتونه د ۲۰۰ - ۲۵۰ کرښو د جمع کولو له لیارې محاسبه کیږي او پایله (نتیجه) یې په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۸. ۲. ۳. ۲. الف ثابت مکلفیتونه

د مالیاتي مکلفیتونو د ثبت په موخه له دې برخې څخه له یوه کال نه د زیات وخت لپاره کار اخیستل کیږي. د بیلګې په توګه هغه پورونه چې له دولسو میاشتو څخه زیات ټاکلي وخت ولري، د ثابت مالیاتي مکلفیت په توګه ګڼل کیږي.

## ۸. ۲. ۳. ۳ الف د شرکت پانګه

له دې برخې څخه د پانګې په ثبتولو کې کار اخیستل کیږي. د شرکت شتمنۍ یا مالکیت ته پانګه ویل کیږي.

### ۴۰۰ کرښه - عمومي شتمنۍ

په دې کرښه کې هغه شتمنۍ لیکل کیږي چې د مالک لخوا د پانګې په توګه کارول کیږي. له دې کتګورۍ څخه هغه وخت کا راخیستل کیږي چې شرکت د مشهورو کمپنیو په لست کې نه وي.

### ۴۱۰ کرښه - احتیاطي پیسې

د احتیاطي پیسو رقم په دې کرښه کې ولیکۍ. یادې شوې پیسې د ونډې له هغې ګټې څخه عبارت دي چې غوښتنه (دعوا) یې شویده ، ولې تراوسه نه ده ورکړل شوې.

### ۴۲۰ کرښه - متراکم عایدات

د متراکمو عایداتو مجموعي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

### ۴۳۰ - سهامي پانګه

په دې کرښه هغه سهامي پانګه لیکل کیږي چې د شرکت د مالکینو لخوا په شرکت پانګه شوې ده. له دې کتګورۍ څخه هغه وخت کا راخیستل کیږي چې شرکت د مشهورو کمپنیو په لست کې نه وي.

### ۴۴۰ کرښه - نورې پانګې

که چیرې تاسې داسې متفرقه پانګه ولرې چې د بیلانس د ثابتې شتمنۍ په یوه کرښه کې هم نه شي شاملیداي ، نو په دې کرښه کې یې ولیکۍ.

## ۴۵۰کرښه - عوايد/ خالص ضرر

له خپل صورت حساب څخه د عوايدو/ضررونو مجموعي رقم په دې کرښه کې وليکئ.

## ۴۲۰ کرښه - مجموعي پانګه

مجموعي پانګه د ۴۰۰ - ۴۵۰ کرښو د جمع کولو له لیارې محاسبه کیږي او نتیجه یې په ۴۲۰ کرښه کې لیکل کیږي.

## ۴۷۰ کرښه - دمالیاتي مکلفیتونو او پانګې مجموعه

د مالیاتي مکلفیتونو او پانګې مقدار د ۳۲۰ - ۴۲۰ کرښو د جمع کولو له لیارې محاسبه کیږي او پایله یې په دې کرښه کې لیکل کیږي .

## ۲۷۰ کرښه - مجموعي استهلاك

د ملموسو او ناملموسو شتمنیو مجموعي استهلاك په دې کرښه کې لیکل کیږي. د ملموسو شتمنیو نمونه له ماشین الاتو او تجهیزاتو څخه عبارت ده او د ناملموسو شتمنیو نمونه د شتمني له معنوي ارزښت یا ښه شهرت څخه عبارت دي.

## ۲۸۰ کرښه - پورونه

له یو کال نه د زیات وخت پورونه په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۲۹۰ کرښه - احتمالي لګښت

له یو کال نه د زیات احتمالي لګښتونو لپاره زیرمه شوي رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۳۰۰ کرښه – نور ثابت مالیاتي مکلفیتونه

که چیرې تاسې داسې متفرقه شتمنۍ ولري چې د بیلانس د ثابتې شتمنۍ په یوه کرښه کې هم نه شي شاملیدای ، نو دا شتمنۍ په دې کرښه کې ولیکۍ.

## ۳۱۰ کرښه – دثابتو مکلفیتونو مجموعه

د ثابتومکلفیتونو مجموعه د ۲۷۰-۳۰۰ کرښو د جمع کولو له لیارې محاسبه کیږي او پایله یې په دې کرښه کې ولیکۍ.

## ۳۲۰ کرښه- مجموعي مالیاتي مکلفیتونه

د مالیاتي مکلفیتونو مجموعه د ۳۱۰-۲۲۰ کرښو د جمع کولو له لیارې محاسبه کیږي او پایله یې په دې کرښه کې ولیکۍ.

## نهمه ضمیمه : ۹ جدول- پانګه ایزې خسارې او ګټې

### ۹.۱ الف سریزه

د پانګې ایزې ګټې او ضرر د محاسبې لپاره له نهم جدول څخه کار اخیستل کیږي. که چیرې مو په مالیاتي دوره کې شتمنۍ پلورلې ، تبادله او یا لیږدولې وي، ۹ جدول باید بشپړ کړئ او له خپل مالیاتي اظهارلیک سره یې ضمیمه کړئ. د ۹ جدول یو نقل ددې لارښوود په ۱۴ ضمیمه کې شتون لري.

د ثابتې شتمنۍ له پلور، لیږد او یا تبادلې څخه لاسته راغلې ګټه، او په یوه تشبث (سوداګریز فعالیت) کې پانګه اچونه د عوایدو په توګه ګڼل کیږي او مالیه ورکوونکې ته د فعلي تمام شوې بیې د رقم ترمنځ توپیر ( له استهلاک نه وروسته بیه او د پلور اړوند نور لګښتونه) د عوایدو په توګه ګڼل کیږي چې په اړه یې باید رپوټ ورکړل شي. که چیرې دا توپیر په ګټه نه بلکه په ضرر کې هم شتون ولري، نو باید رپوټ کړل شي.

د شتمنۍ له پلور څخه لاسته راغلي عواید باید ۴۲۰ کرښه کې ولیکل شي. که چیرې مالیه ورکوونکې د شتمنۍ په پلور کې تاوان وکړي، موضوع باید د مالیاتي اظهارلیک ددویمې برخې په ۵۰ کرښه کې ولیکل شي.

مالیه ورکوونکې مکلف دي چې پوره اسناد وساتي ترڅو د ۴۲۰ او ۵۰ کرښې اړوند معاملې په کې وښودل شي. معاملې باید د استهلاک له جدولونو، کاري جدولونو او شتمنۍ له ثبت سره تطبیق کړل شي. د استهلاک او کاري جدولونو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولولپاره ددې لارښوود ۱۱ ضمیمې ته مراجعه وکړئ.

لاندې موارد په پانګه کې شامل دي:

- د معنوي یا ښه شهرت پانګې په ګډون سوداګرۍ یا تشبث
- د تجهیزاتو، ماشین الاتو، ساختمانونو او ځمکو په ګډون کارخانه یا ددې پانګې هره برخه
- هغه تجهیزات چې په تشبث کې د پرسونل او شتمنۍ د لیږد په موخه کارول کیږي ،

– په سهامي يا محدود المسوليت شرکتونو کې ونډه

هغه ځانګړي کسرات چې د ماليې وړ عوايدو د محاسبې پرمهال مجاز دي په لاندې ډول دي:

– د شتمنۍ او پانګې اچونې پلورل شوي لګښت ، علاوه شوي لګښت يا دهغې ښه والي منفي له هغه وخته راهسې د شتمنۍ د مجاز استهلاک مجموعه چې شتمنۍ په ملکيت کې قرار لري.
– د کميشن ، د اعلانونو او حقوقي، د معاملو مالياتو او اسنادو ، د شتمنۍ د پلور او ليږد د هرډول لګښت په ګډون، د پلور لګښت.

د " ثابتې پانګې" اصطلاح له هغې شتمنۍ څخه عبارت ده چې له ماليه ورکوونکي سره شتون لري (پرته له دې چې له سوداګرۍ يا تشبث سره تړاو لري او کنه). په دې اصطلاح کې د ماليه ورکوونکي سوداګريز فعاليت يا نورې ورته شتمنۍ چې کيداي شي د اجناسو په موجودي کې شاملې شي ، نه شامليږي. همدارنګه په دې اصطلاح کې هغه شتمنۍ نه شامليږي چې د معمولي پلور په موخه د ماليه ورکوونکي په سوداګريز فعاليت يا تشبث کې شتون لري.

## ۹ .۲ الف ۹ جدول - پانګه ايزه ګټه يا ضرر

## ۹ .۲ .۱. الف د ماليه ورکوونکي په اړه معلومات

د مالياتي اظهارليك په دې برخه کې د ماليه ورکوونکي د پيژندنې هغه نمبر او نوم چې دمالياتي اظهارليك په لومړۍ برخه کې ليکل شوي دي په تکرار ډول ليکل کيږي.

## ۹ .۲ .۲. د نهمې ضميمې بشپړول

## ۱ کرښه - دلاسته راغلو يا دلاسته راوړلو وړ پيسو عمومي ارزښت

د شتمنۍ په بدل کې لاسته راغلي يا د لاسته راوړلو وړ عمومي ارزښت په دې کرښه کې ليکل کيږي. د پيسو ارزښت معمولاً له هغه څه نه عبارت دي چې ماليطه ورکوونکي

يې د شتمنۍ د پلور، تبادلې یا لیږد په بدل کې لاسته راوړي. دا پیسې همدارنګه له هغو پیسو او د بازار د نرخ پربنسټ له هغو رقمونو څخه عبارت دي چې د اجناسو او خدمتونو څخه لاسته راځي. کیداي شي دا پیسې د مالیه ورکوونکي د تاوان او د استهلاک وړ شتمنۍ د تخریب په بدل کې د ورکړل شوې بیمې په توګه حساب شي. که چیرې یو مالیه ورکوونکي دیوې شتمنۍ ملکیت په داسې بڼه له لاسه ورکړي چې په بدل کې یې هیڅ ارزښت لاسته نه راوړي او نه به یې راوړي، پرځاي صفر لاسته راوړل کیږي.

## ۲ کرښه - د شتمنۍ د لاسته راوړلو لګښت

د شتمنۍ د پیر اصلي بیه (قیمت) په دې ځاي کې لیکل کیږي. که چیرې شتمنۍ مالیه ورکوونکي ته د ډالۍ یا میراث په توګه ورکړل شي، دهغې د لاسته راوړلو بیه / لګښت صفر دي.

## ۳ کرښه- د لیږد ترنیټې پورې مجاز استهلاک

پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پربنسټ د لیږد ترنیټې پورې د استهلاک مجموعه په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۴ کرښه – د شتمنۍ د لاسته راوړلو خالصه بیه

دریمه کرښه له دویمې کرښې څخه منفي کړۍ او حاصل ( د شتمنۍ د لاسته راړلو خالصه بیه )یې په څلورمه کرښه کې ولیکۍ.

## ۵ کرښه – د اصلاحاتو او ترمیماتو لګښت

د پلورل شوې شتمنۍ د ترمیم او اصلاح لګښت په دې کرښه کې ولیکۍ. په ترمیماتو کې یوائې عمده او مهم موارد شامل دي، د ترمیم او ساتنې (حفظ او مراقبت) کوچني لګښتونه په دې ترمیماتو او اصلاحاتو کې شامل نه دي.

۶ کرښه - د لیږد لګښت

د شتمنۍ د پلور لګښت په دې ځای کې لیکل کیږي. په دې لګښتونوکې د شتمنۍ د پلور په اړه د اعلانونو لګښت، د شتمنۍ د لیږد لګښت او نور ورته لګښتونه شامل دي.

## ۷ کرښه - ګټه یا تاوان (ضرر)

۴، ۵ او ۶ کرښه له ۱ کرښې څخه منفي کړي او حاصل یې په دې کرښه کې ولیکۍ. که چیرې دا حاصل یو منفي رقم (ضرر) وي ، په قوسونوکې ولیکۍ.

که چیرې د ۷ کرښې رقم مثبت وي، د پانګې ګټه ښیي او که چیرې ددې کرښې رقم منفي وي ، د ضرر (تاوان) ښکارندوي دي.
که چیرې عمومي ګټه موجوده وي، ددې جدول د ۷ کرښې رقم د مالیاتي اظهارلیک د ۳ برخې په ۴۲۰ کرښه کې ولیکۍ. د عمومي ضرر (تاوان) په صورت کې ددې جدول د ۷ کرښې رقم د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په ۵۰ کرښه کې ولیکۍ.

یادداښت: که چیرې مو په مالیاتي دوره کې له یوې شتمنې څخه زیاتې شتمنۍ لیږدولې وي، تاسو کولای شي ددې معاملې ټول ارزښت په دې جدول کې ولیکۍ او یا داچې د هر انتقال لپاره یو جلا جدول وکاروی. مجموعي خالصه ګټه او ضرر ( په ترتیب سره ) د مالیاتي اظهارلیک ددریمې برخې په ۴۲۰ کرښه او د دویمې برخې په ۵۰ کرښه کې ولیکۍ.

## لومړۍ بیلګه:

د یو شرکت له ونډو څخه لس ونډې چې د شرکت مالک ته په ۱۰۰۰۰ افغانۍ تمام شوې دي ۵ کاله وروسته په ۱۰۰۰۰ افغانۍ پلورل کیږي. ښکاري چې له دې معاملې څخه هیڅ ډول د مالیې تابع ګټه او عواید لاسته نه دي راغلي.

## دویمه بیلګه:

د یو افغان سهامي شرکت لس ونډې د الف شرکت د ډالۍ په توګه ورکول کیږي چې دا ونډې د الف شرکت ته د صفر په بیه تمامیږي. که چیرې د الف شرکت دا ونډې په

۵۰۰۰۰ افغانۍ وپلوري ، نو مکلف دي چې ۵۰۰۰ افغانۍ د پلور د فیس په توګه ورکړي او پاتې ۴۵۰۰۰ افغانۍ به شرکت د ګټې په توګه پاتې شي چې باید د مالیاتي اظهارلیک ددریمې برخې په ۴۲۰ کرښه کې ولیکل شي.

## دریمه بیلګه:

د ۱۳۸۹ کال د کب میاشتې په ۲۹ نیټه د (ب) شرکت د دفتر خپله ودانۍ په ۱۳۰۰۰۰۰۰ افغانۍ پلوري. یاده شوې ودانۍ د ۱۳۸۵ کال د وري (حمل) په لومړۍ نیټه په ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ پیرودل شوې وه. د نومړې ودانۍ کلني استهلاک ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ ده او د ۵ کلونو مجموعي وضع شوي رقم ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي او د پلور لګښت ۵۰۰۰۰ افغانۍ دي. لاسته راغلې ګټه په لاندې ډول محاسبه کیږي.

| | | |
|---|---|---|
| د پلور بیه ( ۱ کرښه ) | | ۱۳۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| اصلي بیه (۲ کرښه) | | ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي: استهلاک ( ۳ کرښه) | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰۰۰ |
| د لګښت له وضع نه وروسته پاتې رقم ( ۴ کرښه) | | ۴۰۰۰۰۰۰ |
| منفي: د پلور لګښت ( ۶ کرښه ) | | ۵۰۰۰۰ |
| د پلور له درکه پانګه ایزه ګټه ( ۷کرښه) | | ۳۹۵۰۰۰۰ افغانۍ |

د شتمنۍ د پلور د ګټې له درکه د (ب) شرکت ۳۹۵۰۰۰۰ افغانۍ د پانګې د ګټې په توګه په ۴۲۰ کرښه کې لیکي. که چیرې نوموړي شرکت په ۱۳۸۹ کال کې له یوې شتمنۍ څخه زیاتې شتمنۍ وپلوري، په ۴۲۰ کرښه کې لیکل شوې ګټه د ټولو شتمنیو د پلور له درکه لاسته راغلې ګټه ګڼل کیږي . د (ب) شرکت بایدد ټولو هغو اړوندو معاملو اسناد وساتي چې له مخې یې په ۴۲۰ کرښه کې لاسته راغلي رقم ترلاسه شوي دي.

## څلورمه بیلګه

ددې بیلګې جزئیات د دریمې بیلګې جزئیاتو ته ورته دي اما په دې توپیر چې د (ب) شرکت د دفتر خپله ودانۍ د ۸۰۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې پلوري. پانګه ایز ضرر په لاندې ډول محاسبه کیږي:

| | | |
|---|---|---|
| د پلور بیه (۱ کرښه) | | ۸۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| اصلي بیه (۲ کرښه) | | ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي: استهلاک (۳ کرښه) | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰۰۰ |
| د لګښت له وضع نه وروسته پاتې رقم (۴ کرښه) | | (۱۰۰۰۰۰۰) |
| منفي: د پلور لګښت (۶ کرښه) | | ۵۰۰۰۰ |
| د پلور له درکه پانګه ایز ضرر (۷ کرښه) | | (۱۰۵۰۰۰۰) افغانۍ |

د پلور له درکه د پانګه ایز ضرر په توګه(ب) شرکت په **۵۰** کرښه کې **۱۰۵۰۰۰۰** افغانۍ لیکي. که چیرې نوموړې شرکت د **۱۳۸۹** کال په اوږدو کې یوه شتمنۍ و پلورې، په **۴۶۰** کرښه کې لیکل شوي رقم دپلورل شوې شتمنۍ (چې له درکه یې پانګه ایز ضرر لاسته راغلي دي) مجموعي ضرر دي. د (ب) شرکت باید دهغو معاملو ټول اړوند اسناد وساتي چې له درکه یې په **۵۰** کرښه کې لیکل شوي رقم لاسته راغلي دي.

د یو سهامي یا محدود المسؤلیت شرکت د هرې شتمنۍ د ګټې له لیږد څخه لاسته راغلې ګټه (د لیږد د بڼې په پام کې نه نیولو سره) د لاندې مواردو په ګډون، د مالیاتو تابع ده:

- د پیسو په بدل کې د پلور په بڼه لیږدونه
- د نورو مالونوپه بدل کې لیږدونه
- د نورو مالونو او پیسوو په بدل کې لیږدونه
- د دوستې او اړیکو ساتلو په موخه د ډالۍ لیږدونه
- دهغه کس د پخوانیو او راتلوونکو خدمتونو په بدل کې لیږدونه چې ډالۍ ورته ترتیب شوې ده.

هغه عواید چې د منقولې یا نامنقولې شتمنۍ د پلور یا لیږد له درکه د میراث په توګه لاسته راځي، په دې بره کې د مالیاتو تابع نه ګرځي. میراث لاسته راوړونکي ته دا میراث د صفر افغانۍ بیې په بدل کې تمامیږي.

هغه ګټه چې د شتمنۍ د پلور، تبادلې یا لیږد پرمهال تثبیتیږي، عواید یې د معاملې په کال کې د مالیې تابع دي (ولو که عواید یې په څوکلونو کې لاسته راغلي وي).

پنځمه بېلګه :

د (ب)شرکت چې يو محدود المسؤليت شرکت دي د ۱۰ کلونو لپاره يو اپارتمان په ملکيت کې لري او په دې موده کې د ا پارتمان ارزښت زيات شوي دي. په ۱۳۸۹ کال کې د (ب) شرکت دا اپارتمان په ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه پلوري. دا ګټه په د ۱۰ کلونو په موده کې د ګټې ښکارندوي دي. ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ رقم په ۱۳۸۹ مالي کال ( د ملکيت د پلور کال) کې د ماليې تابع دي.

د يوې شتمنۍ د ليږد او تبادلې په وخت کې د يو جنس د ازاد بازار ارزښت د ګټې د محاسبې لپاره يو اساس دي. هغه تبادله چې د ارزښت لرونکو اجناسو معاوضه وي او يا ددې برخې د معاملې د پيسو يوه برخه جوړوي، کيداي شي له مخې يې د ماليې وړ عوايد معلوم کړل شي. د تبادله شوي ملکيت د استهلاک لګښت، او د تبادلې له لياري د بازار ارښت د ليږد لاسته راغلي لګښت د منفي کولو له لياري مشخص کيږي.

## شپږمه بېلګه

د (ج) شرکت خپل ۱۰۰۰ ونډې د يو بل سهامي شرکت له استوګنځي سره چې مالک يې يو انفرادي شخص دي، تبادله کوي. سره له دې چې د ونډې ګټه پرمنظمه توګه ورکول کيږي، دا ونډې په هيڅ سوداګريز فعاليت کې نه دي کارول شوي او د بازار ارزښت يې هم نه دي معلوم. ددغو ونډو يوه ونډه لس کاله وړاندې په ۲۰۰ افغانۍ پيريدل شوې وه. که چيرې د نوموړي استوګنځي بيه /ارزښت له ۲۰۰۰۰۰ افغانيو څخه زيات وي، څرګندده ده چې د تبادلې پرمهال د هرې ونډې ارزښت له دې ملکيت سره له ۲۰۰ افغانيو څخه زيات دي. که چيرې د ماليې وزارت لخوا د بيې ټاکنې په پايله کې ددې ملکيت ارزښت ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ وښود ل شي، دا د بازار ارزښت دي چې د ګټې د محاسبې لپاره کارول کيږي. که چيرې د ونډو د ليږد لګښت ۲۰۰۰۰ افغانۍ وي، د (ج) شرکت (چې مخکې ددې ونډو مالک وه ) ګټه په لاندې ډول معلوميږي:

| | |
|---|---|
| الف. په بازار کې د جنس (کور) ارزښت | ۱۰۰۰۰۰۰ |
| ب. منفي د ونډو د ليږد لګښت ( ۱۰۰۰ ضرب ۲۰۰) | ۲۰۰۰۰۰ |
| ج. د ونډو له ليږد څخه لاسته راغلې ګټه | ۸۰۰۰۰۰ |

| | |
|---|---|
| د. منفي د لیږد لګښت | ۲۰۰۰ |
| هـ. د ونډو د تبادلې له درکه لاسته راغلې خالصه ګټه | ۷۹۸۰۰۰ |

۷۹۸۰۰۰ افغانۍ د ونډو د تبادلې له درکه د (ج) شرکت د خالصې ګټې په توګه ګڼل کیږي او دمالیې تابع دي. د ۷۹۸۰۰۰ افغانیو رقم باید په ۴۲۰ کرښه کې ولیکل شي.

هغه ګټه چې د هغو منقولو او نا منقولو شتمنیو له درکه لاسته راځي چې په افغانستان کې فزیکي شتون لري، داسې ګڼل کیږي چې ګویا له افغاي سرچینې څخه لاسته راغلي او عواید یې د مالي تابع دي.

د شتمني له پلور څخه په لاسته راغلو عوایدو کې لاندې موارد شامل دي:

- د تشبث له استهلاک وړ شتمنۍ د پلور له درکه عواید
- په افغانستان کې د هرډول منقولې شتمنۍ، معدني زیرمو او طبیعي سرچینو کې د ونډې یا ملکیت د پلور له درکه لاسته راغلي عواید
- په افغانستان کې د تشبث د پرمخ وړلو لپاره په هرډول امتیاز کې د ونډې یا د امتیاز د ملکیت له پلور څخه لاسته راغلي عواید
- د کورنیو یابهرنیو تضامني شرکتو د ونډو د پلور له درکه لاسته راغلي عواید، که چیرې تضامني شرکت په افغانستان کې پانګه ولري.

## اوومه بیلګه

د (د) شرکت یو بهرني پانګه اچوونکي شرکت دي په یو تضامني محدود المسؤلیت انګلیسي شرکت په پانګه کې ۱۰ ونډې لري. دا تضامني شرکت په افغانستان کې د کانونو د را ایستلو ملکیت هم لري. که چیرې د (د) شرکت په انګلیسي شرکت کې خپله ونډه وپلوري، ګټه یې (که چیرې وي) له افغاني سرچنیو څخه لاسته راغلې ګټه بلل کیږي او باید د مالیې وړ عوایدو په توګه په ۴۲۰ کرښه (د مالونو پلور) کې ولیکل شي.
په یو افغاني سهامي یا محدود المسؤلیت شرکت کې د پلور ګټه عواید ګڼل کیږي البته په دې شرط چې د شرکت د مالونو ارزښت "عمدتاً" له مالکیت یا په مستقمیه یا غیرمستقیمه توګه د نورو اشخاصو لیارې لاسته راغلي وي. نور اشخاص هغه

کسان دي چې په افغانستان کې د نامنقولو ملکیتونو مالکان دي او یا هغه کسان دي چې په دې ملکیتونو کې ونډه لري. په دې ملکیت د هیدروکاربن (د طبعي گاز په څیر) قراردادونه، د د کانونو د راایستلو او د کانونو د راایستلو د صلاحیت د جواز قراردادونه شامل دي (لکه څنگه چې پرعایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې تشریح شوي دي).

## د "عمدتاً" اصطلاح له ٪ ۵۰ څخه د زیات ارزښت په معني دي.

یو سهامي یا محدود المسؤلیت شرکت داسې گڼل کیږي چې په نامستقیمه توگه د نهاد د ونډې د ارزښت له مخې د ټیټې کچې د نهاد د شتمنۍ مالک دي یا دا چې د لوړې کچې نهاد د ټیټې کچې د نهاد په ردیف کې قرار لري. د لوړ ردیف نهاد هغه نهاد دي چې دیو ټیټ ردیف نهاد مالک دي. د بیلگې په توگه که چیرې د الف شرکت د ب شرکت د یو ې ونډې مالک وي، د الف شرکت د لوړ ردیف شرکت او د ب شرکت د ټیټ ردیف شرکت گڼل کیږي.

### اتمه بیلگه

د (هـ) شرکت چې یو بهرني پانگه اچوونکي دي چې په (و) افغان سهامي شرکت کې ونډه لري. د ( و ) شرکت د دویم افغاني شرکت ( د" ز" شرکت) د ټولو پلورل شوو ونډو مالک دي. د (و) شرکت یوا ځنې شتمنۍ د (ز) شرکت ونډې دي او د (ز) شرکت یوا ځني شتمنۍ هغه ثابته شتمنۍ ده چې د بامیانو په ولایت کې موقعیت لري. که چیرې ( هـ) شرکت د (و) شرکت ونډې وپلوري، لاسته راغلې گټه یې داسې گڼل کیږي چې گویا له افغاني سرچینې څخه لاسته راغلې ده څکه چې د (و) شرکت شتمنۍ ( چې په مستقیمه توگه د "و" شرکت په ملکیت کې قرار لري) عمدتاً په افغانستان کې د ثابتو شتمنیوله جملې څخه ده.

د تشبث په سوداگریزو فعالیتونو کې د پانگې له پلور یا تبادلې څخه لاسته راغلي ضرر په هغه کال کې د مالیه ورکوونکي له مالیې تابع عوایدو څخه د مجرایي وړ دي چې د پانگې پلور یا تبادلې په کې صورت موندلاي دي. ددې موضوع د پلي کیدو په موخه ، مالیه ورکوونکي باید په هماغه کې د مالیې تابع عواید ولري. د مالیې

تابع عوایدو د لرلو په صورت کې، مالیه ورکوونکي کولای شي له نورو معافیتونو او مجاز کسراتو سره، د مالیې وړ عوایدو د محاسبې پرمهال د ضرر اندازه (مقدار) کسر کړي. که چېرې مالیه ورکوونکي پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۴ مادې پربنسټ د مالیې وړ عواید ونه لري، نوموړي نشي کولای خپل ضرر کسر کړي. د شتمنۍ د پلور، تبادلې او لیږد له درکه لاسته راغلي ضرر باید د مالیاتي اظهارلیک ددویمې برخې په ۵۰ کرښه کې ولیکل شي.

## لسمه ضمیمه :د تلفاتو او أفاتونوله درکه د منځته راغلو تاوانونو د محاسبې سند

### ۱۰. ۱ الف سریزه

د اور، باد ، زلزلې او نورو مصیبتونو له امله د هغو شتمنیو له لاسه ورکول (چې د عوایدو په تولید ، لاسته راوړنه او ساتنه کې کارول کیدې ) د خسارې په توګه د مجرایې وړ دي البته په دې شرط چې د بیمې لخوا یې ضرر (تاوان) نه وي جبران شوي.

ددغې مجرایې د غوښتنې په موخه مالیه ورکوونکي (د جایداد مالک ) باید داسې اسناد ولري چې د له منځه تللې شتمنۍ ار زښت په څرګند ډول وښیې.

د تیرکال د ضرر دریمې برخې لپاره په روان کال او په راتلوونکو دوه کلونو کې مجرایې ورکول کیږي.

د شتمنۍ د مجرایې وړ ضرر د محاسبې لپاره باید د شتمنۍ د ضرر د محاسبې له سند څخه کار واخیستل شي. د مالي کال لپاره د مجرایې وړ رقم د مالیاتي اظهارلیک د څلورمې په ۲۷۰ کرښه کې لیکل کیږي.

مالیه ورکوونکي باید ددې سند یو نقل او د نورو اسنادو نقلونه له ځان سره وساتي. له کلني مالیاتي اظهارلیک سره ددې سند ضمیمه کولو ته اړتیا نشته.

دتلفاتو او أفاتونوله درکه د منځته راغلو تاوانونو د محاسبې سند په ۱۴ ضمیمه (د محاسبې جدولونه او پاڼې) کې شتون لري.

### ۱۰. ۲. د تلفاتو او أفاتونوله درکه د منځته راغلو تاوانونو د محاسبې سند تشریح

هرې منقولې او نا منقولې شتمنۍ ته د ورپیداشوي ضرر د هر مثال لپاره باید یوه کرښه بشپړه شي چې پر عایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې د تعریف شوي ضرر سره سمون ولري. د هر کالم معلومات باید بشپړ وي. که چیرې زیاتو معلوماتو ته اړتیا وي ، نو د خسارې د محاسبې بل سند باید (فوټو کاپي یا بل نقل) وکارول شي.

## لومړي ستون - د ضرر (خسارې) پرمهال د شتمنۍ کم شوي ارزښت

د خسارې په وخت کې د شتمنۍ کم شوي ارزښت باید په دې ستون کې ولیکل شي . دا معلومات د شمتمنۍ د ثبت له کتاب او د استهلاک دمحاسبې له سند څخه تر لاسه کیداي شي ( البته د خسارې د رقم پربنسټ وخت تاکل کیږي).

د بیلګې په توګه ، که چیرې خساره د کال په نیمایي کې رامنځ ته شي، نو د خسارې د رامنځ ته کیدو په وخت کې د شتمنۍ کم شوي ارزښت له هغه ارزښت څخه عبارت دې چې د تیرکال په وروستو کې یې درلود منفي د شپږو میاشتو لپاره د شتمنۍ د ارزښت د کموالي چې شتمنۍ په کې د ضرر له رامنځته کیدو نه مخکې کارول شوې ده .

## لومړۍ بیلګه

په هغه ځاي کې چې د (الف ) شرکت د سرک ساختماني کار ترسره کوي د اور لګیدو یوه پیښه رامنځ ته شوه چې له کبله یې د ( الف ) شرکت یو عراده لنګر ته زیان ورسید .
د اور لګیدو دغه پیښه د ۱۳۸۹ مالي کال په نیمائي کې را منځ ته شوه . د شتمنۍ د استهلاک د محاسبې سند په لاندې ډول دي :

| | |
|---|---|
| د ۱۳۸۹ کال په وروستیو کې د تعدیل وړ ارزښت | ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د نیمائي کال استهلاک (٪ ۲۰ نورم ) | ۱۰۰۰۰ افغانۍ |
| د ضرر په وخت کې د شتمنۍ کم شوي ارزښت (لومړي ستون) | ۹۰۰۰۰ افغانۍ |

د (الف ) شرکت باید د یو عراده لنګر دخسارې له درکه ۹۰۰۰۰ افغانۍ په لومړي ستون کې ولیکۍ

## دویم ستون - د بیمې ورکړه

د هغې شتمنۍ لپاره د بیمې د ورکړې رقم په دې کرښه کې لیکل کیږي چې په پیښنه کې له منځه تللې ده. د بیمې د نه ورکړې په صورت کې ، د نوموړې شتمنۍ لپاره په دویم ( ۲ )ستون کې صفر لیکل کیږي .

## دریم ستون - د شتمنۍ خالص ضرر

خالص ضرر د ضرر په وخت کې د هغه کم شوي ارزښت (د بیمې د ورکړې نه پرته) څخه عبارت دې چې د هرې زیان یمنې شوې شتمنۍ لپاره محاسبه کیږي.

دویم ستون له لومړي ستون څخه منفي کیږي او محاسبه شوي رقم په دریم ستون کې لیکل کیږي. دغه کار باید د هر ې شتمنۍ لپاره چې په پیښه کې تخریب شوې ده، ترسره شي.

## دویمه بیلګه

په هغه ځای کې چې د (ب) شرکت د سرک ساختماني کار ترسره کوي د اور لګید و یوه پیښه رامنځ ته شوه چې له کبله یې د (ب) شرکت یو عراده لنګر له منځه ولاړ. د اور لګیدو دغه پیښه د ۱۳۸۹ مالي کال په نیمائي کې را منځ ته شوه. د شتمنۍ د استهلاک د محاسبې سند لاندې معلومات لري.

| | |
|---|---|
| د ۱۳۸۸ کال په وروستیو کې د تعدیل وړ ارزښت | ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د نیمائي کال استهلاک (٪ ۲۰ نورم) | ۱۰۰۰۰ افغانۍ |
| د ضرر په وخت کې د شتمنۍ کم شوي ارزښت (لومړي ستون) | ۹۰۰۰۰ افغانۍ |
| د بیمې ورکړې (دویم ستون) | ۵۰۰۰۰ افغانۍ |
| د خسارې له درکه خالص ضرر (دریم ستون) | ۴۰۰۰۰ افغانۍ |

د (ب) شرکت باید د یو عراده لنګر دخسارې له درکه ۴۰۰۰۰ افغانۍ په دریم ستون کې ولیکي.

## څلورم ستون - د شتمنۍ ډول

په پیښه کې د زیان منې شوې شتمۍ ډول په دې ستون کې لیکل کیږي. دا د استهلاک د محاسبې سند ته ورته دي. د شتنۍ د روښانه کولو لپاره باید په اړه پوره توضیحات شتون ولري.

## پنځم ستون - د ضرر ډولونه

د هرې زیان منې شوې شتمنۍ د هرې برخې د ضررډول په دې ستون کې لیکل کیږي. د حادثو ډولونه په لاندې ډول دي: د اورلګیدنه، باد، زلزله او نورې پیښې

## ۳۰۰ کرښه - د تلفاتو او آفاتو له امله د منځته راغلي خسارې مجموعه

د دریم کالم ټول رقمونه سره جمع کیږي او لاسته راغلي رقم د دې سند په ۳۰۰ کرښه کې لیکل کیږي. په دریم ستون کې مجموعي رقم د شتتمنۍ د خالص ضرر له درکه په دې کرښه کې لیکل کیږي.

## ۳۱۰ کرښه - د تلفاتو او آفتونو له دره ستله داګ خسارې د دریمې برخې محاسبه

په یو مالي کال کې د شتمنۍ د خسارې په بدل کې د مجوزې مجرا ئي د ترلاسه کولو لپاره ۳۰۰ کرښه ( دضرر مجموع ) پر ۳ باندې وویشل کیږي. پرعایداتو باندې د مالیاتوقانون پر بنسټ په یوه مالي کال کې یوائې د خسارې دریمه برخه د مجرائي وړ ده. بناء، د یوې پیښې په وجه را منځته شوي ضرر د درې کالو په موده کې دمجرائي وړ دي.

## دریمه بیلګه

په هغه ځاي کې چې د (ج) شرکت د سرک ساختماني کار ترسره کوي د اور لګیدو یوه پیښه رامنځ ته شوه چې له کبله یې د (ج) شرکت دوه عرادې لنګر له منځه ولاړل.

| | |
|---|---|
| د سرک جوړولو لومړۍ لنګر - خالص ضرر | ۳۰۰۰۰ افغانۍ |
| د سرک جوړولو دویم لنګر - خالص ضرر | ۲۴۰۰۰ افغانۍ |
| د شتمنۍ مجموعي ضرر (۳۰۰ کرښه) | ۵۴۰۰۰ افغانۍ |
| د ضرر د دریمې برخې محاسبه (۳۰۰ کرښه تقسیم پر ۳) | ۱۸۰۰۰ افغانۍ |

د (ج) شرکت کولاي شي په ۳۱۰ کرښه کې ۱۸۰۰۰ افغانۍ ولیکي. دا د مجرائي هغه رقم دې چې د (ج) شرکت یې د هغه ضرر په بدل کې غوښتنه کوي چې په تیر مالي کال کې ورسره مخ شوي دي.

## ۳۲۰ کرښه- له تیرو کلونو څخه د شتمنۍ د خسارې لیږد (انتقال)

را منځته شوې خسارې د ۳ کالو په موده کې د مجرائي وړ دي .یعنې په هریوه کال کې د ضرر دریمه برخه د مجرائي وړده چې د ټولې خسارې لپاره په ۳ کالو کې مجرائي ورکول کیږي. کیداي شي چې په یوه ځانګړي مالي کال کې هغه خسارې موجودې وي چې د یوه یا دوه تیرو کلونو څخه لیږدول شوي او په روان کال کې د مجرائي وړ وي. د تیرو کلونو د کسراتو د تصدیق په موخه ما لیه ورکوونکي باید د شتمنۍ د خسارې په اړه د محاسبې سند له ځان سره ولري.

له تیر یوه یا دوه کالو څخه را انتقال شوې خساره باید په ۳۲۰ کرښه کې ولیکل شي.

### څلورمه بیلګه

په هغه ځاي کې چې د (د ) شرکت د سرک ساختماني کار ترسره کوي په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د اورلګیدو یوه پیښه را منځ ته شوه.

په ۱۳۸۹ کال کې د شتمنۍ مجموعي ضرر (۳۰۰ کرښه) ۵۴۰۰۰ افغانۍ
د دریمې برخې ضرر محاسبه (۳۱۰ کرښه ) ۱۸۰۰۰ افغانۍ
په ۱۳۸۸ لمریز کال کې د (د) شرکت تجهیزات د زلزلې له کبله تخریب شول چې مجموعي ضرر ئې ۳۰۰۰۰ افغانیو ته رسیږي. نوموړي شرکت ددغه ضرر دریمه برخه په ۱۳۸۸ لمریز کال کې وضع کړه چې دریمه برخه ئې په ۱۳۸۹ لمریز کال او پاتې بله برخه ئې په ۱۳۹۰ لمریز کال کې دمجرایي وړده . د (د ) شرکت حساب په دې بیلګه کې په لاندې ډول دي :
د خسارې له درکه د ضرر انتقال ۱۰۰۰۰ افغانۍ

د (د) شرکت باید ۱۰۰۰۰ افغانۍ په ۳۲۰ کرښه کې ولیکي.

### ۳۳۰ کرښه – د ضرر په بدل کې مجموعي مجرائي

په روان کال کې د را منځ ته شوي ضرر د محاسبې لپاره ۳۱۰ او ۳۲۰ کرښې سره جمع کیږي او لاسته راغلي رقم د مالیاتي اظهارلیک د څلورمې برخې په ۳۳۰ او ۲۷۰ کرښو کې لیکل کیږي.

## ۱۱ .۱. الف د جايداد د استهلاک سند

د استهلاک د عمومي محاسبې سند په ۱۴ ضميمه (جدولونه او د محاسبې پاڼې) کې شتون لري. که چيرې ماليه ورکوونکي و غواړي چې د استهلاک له اسنادو څخه د شتمنۍ د محاسبې او معلومات ساتنط په موخه کار واخلي ، په هر مالي کال کې د استهلاک د هر نورم لپاره بايد له يوه ځانګړي سند څخه کار واخيستل شي.

د استهلاک په سند کې د موجودو معلوماتو څخه د استهلاک جدولونو (لومړي يا دويم جدول) په بشپړولو کې ګټه اخستل کيږي. ماليه ورکوونکي بايد د استهلاک اسناد له ځان سره وساتي او کله چې د عوايدو رياست د دغو اسنادو غوښتنه وکړي ، نو ماليه ورکوونکي بايد دغه اسناد ورته برابر کړي. دا اسناد له مالياتي اظهارليک سره نه ضميمه کيږي. د شتمنۍ د استهلاک په اړه د معلوماتو د ورکولو په موخه بايد يوازې لومړی يا دويم جدول له مالياتي اظهارليک سره ضميمه کړل شي.

په لاندې بيلګه کې هغه شتمنۍ کارول شوې ده چې عمر يې ۵۰ کاله او د استهلاک نورم ۲٪ دی.

### لومړی ستون - د شتمنۍ استهلاک

د هرې شتمنۍ لپاره بايد يوه ځانګړې کرښه بشپړ کړل شي. په نوموړې کرښه کې د شتمنۍ په اړه توضيحات بايد په داسې شکل سره ورکړل شي چې له مخې ئې شتمنۍ په اسانۍ سره و پيژندل شي . دا توضيحات بايد د شتمنۍ په ټول عمر کې يو شان وي.

### دويم ستون - د پيريدلو نيټه

په دې ستون کې هغه نيټه ليکل کيږي چې شتمنۍ په کې پيرودل شوې او يا ماليه ورکوونکي ته په کې ليږدول شوې ده. دا نيټه له يو کال نه تر بل کال پورې ثابت وي يعنې د کومې ځانګړې شتمنۍ لپاره بدلون نه مومي .

## دریم ستون - بیه/ قیمت

دشتمنۍ د لاسته راوړلو یا پیریدلو په وخت کې د شتمنۍ بیه، د شتمنۍ د لیږد بیه او یا د شتمنۍ د بادلې بیه په دې ستون کې لیکل کیږي. دغه بیه له یو کال نه تر بل کاله پورې ثابته ده او د کومې ځانګړې دارائي لپاره تغیر نه مومي.

## څلورم ستون- د شتمنۍ دفتري ارزښت

د یوې شتمنۍ دفتري ارزښت له هغه ارزښت څخه عبارت دي چې د مالي کال په پاي کې یې لري. که چیرې دا لومړي کال وي چې د شتمنۍ استهلاک په کې صورت مومي ، د شتمنۍ بیه د نوموړي ارزښت په توګه ګڼل کیږي. د شتمنۍ ارزښت له هرډول استلاک نه وړاندې د هغې له بیې څخه عبارت دي.

## د پاتې رقمونو تصحیح

که چیرې یومالیه ورکوونکي نه غواړي چې استهلاکیدونکې شتمنۍ ولري او یا ورڅخه کار واخلي، په دې حالت کې دپاتې رقمونو د تصحیح موضوع منځ ته راځي .

د پاتې ارقامو تصحیح یا تغیر یوه محاسبوي او مالیاتي اصطلاح ده چې د شتمنۍ د استهلاک لپاره کارول کیږي.

د شتمنۍ د استهلاک لپاره د پاتې ارقامو تصحیح یا تغیر وخت صورت مومي:

- که چیرې له شتمنۍ څخه کار اخیستنه پاي ته ورسیږي ، یعنې که چیرې شتمنۍ و پلورل شي ، له منځه ولاړه شي او یا تخریب شي.
- که چیرې شتمنۍ ونه کارول شي او بیا ورڅخه هیڅکه استفاده ونه شي.
- که چیرې له شتمنۍ څخه د نه کارولو په موخه د شتمنۍ له نصبولو څخه ډډه وشي او د بیا کارونې لپاره بیا نصب نه کړل شي ،
- که چیرې له شتمنۍ هیڅ ونه کارول شي او پریکړه وشي چې په هیڅ صورت ورڅخه استفاده ونه شي.

که چیرې د پاتې ارقامو د تصحیح موضوع صورت ومومي، نو پاتې ارقام باید د کسراتو له وضع نه وروسته محاسبه شي. دا رقم باید له هغه وخت نه چې پانګه په کار

اچول شوې ده او یا له هغه وخت نه چې د شتمنۍ د پلور له کبله تاوان منځ ته را غلي په پام کې ونیول شي. ( د پانګه ایزې ګټې او ضرر د محاسبې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د ۹ جدول ۹ ضمیمې ته مراجعه وکړئ).

دا عملیه د شتمنۍ د نهایي ارزښت او دفتري ارزښت د پرتلې له مخې او په هغه وخت کې اجرا کیږي چې د شتمنۍ د ارزښت په پام کې نیولو سره د پاتې ارقامو تصحیح صورت ومومي.

## پنځم ستون - نیټه

د پاتې ارقامو د تغیر یا تصحیح نیټه په دې ستون کې لیکل کیږي. د بیلګې په توګه هغه نیټه لیکل کیږي چې شتمنۍ په کې پلورل شوې، له منځه تللې، تخریب شوې، یا له شتمنۍ څخه د نه کار اخیستنې نیټه.

## شپږم ستون - نهائي ارزښت

د شتمنس نهائي ارزښت باید په دې ستون کې ولیکل شي. نهائي ارزښت په عمومي ډول له هغه ارزښت څخه عبارت دي چې د پاتې رقم د تغیر او تصحیح په وخت کې له شتمنۍ څخه لاس ته راځي. نهائي ارزښت له هغو رقمونو او غیر نغدي منفعتونو ( اجناسو او خدماتو )څخه عبارت دي چې د شتمنۍ له درکه د بازار د نرخ پربنسټ لاس ته راځي. د استهلاک وړ شتمنۍ د تخریب او خسارې لپاره د بیمې ورکړه هم نهائي ارزښت بلل کیداي شي. که چیرې یوه شتمنۍ حذف شوې وي په بدل کې هیڅ ډول ارزښت لاسته نه وي راغلي او په راتلونکي کې هم نه ترلاسه کیږي ، په دغه صورت کې د نوموړې شتمنۍ نهائي ارزښت صفر دي.

د کسراتو له وضع کولو نه وروسته پاتې رقمونه (ارقام)

د کسراتو له وضع کولو نه وروسته پاتې ارقام له لاندې محاسبې څخه لاسته راځي:

نهائي ارزښت/بیه
منفي: د شتمنۍ د اصلي بیې مجاز کسرات

منفي : هغه مجاز استهلاک چې په روان او تیرکال یې غوښتنه شوې ده
مساوي: د کسراتو له وضع کولو نه وروسته پاتې رقم
که چیرې له یوې شتمنۍ څخه د مالي ور کار اخیستنه فیصدي له ١٠٠٪ څخه کمه وي، د کسراتو له وضع کولونه وروسته د پاتې رقم پر تصحیح باندې باید عین فیصدي تطبیق شي. یعنې له شتمنۍ د مالیې ور کار اخیستنه باید د محاسبې پر ټولو برخو تطبیق شي.

## اووم ستون - د محاسبې ور

که چیرې د کسراتو له وضع کولو نه وروسته پاتې رقم د ګټې په توګه وګڼل شي، نوموړي رقم د شتمنۍ د پلور د محاسبې په وخت کې د پانګې دګټې د یوې برخې په توګه ګڼل کیږي. د پانګې ګټې په محاسبه کې ددې رقم د شاملولو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ، د مالیاتي اظهارلیک ٩ ضمیمې ته مراجعه وکړۍ.

د محاسبې ور رقم په اړه د جزئیاتو لپاره لاندې دویمې بیلګې ته مراجعه وکړۍ.

## اتم ستون - د کسر ور

که چیرې د کسراتو له وضع کولونه وروسته پاتې رقم ضرر وګڼل شي، دې ته کسر ویل کیږي. د شتمنس د پلور د محاسبې پرمهال دا ډول کسر د ضرر د یوې برخې په توګه ګڼل کیږي او د مجرایي ور ده.

د کسراتو له وضع کولو نه وروسته د پانګې د ضرر په محاسبه کې د پاتې رقم د شاملولو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کول لپاره د مالیاتي لارښوود ٩ ضمیمې ته مراجعه وکړۍ.

د محاسبې ور رقم په اړه د جزئیاتو لپاره لاندې دویمې بیلګې ته مراجعه وکړۍ.

## په ارزښت کې کموالي

د یوې شتمنۍ د ارزښت کموالي له شتمنۍ څخه د استفادې او یا له هغه کموالي څخه عبارت دي عبارت دې چې په هر مالي کال کې د نوموړې شتمنۍ لپاره ټاکل کیږي.

## نهم ستون - ګټور عمر

د شتمنۍ ګټور عمر په دې ستون کې لیکل کیږي. د شتمنۍ د یوې کټګورۍ ګټور عمر د مالیاتو قانون په تعلیماتنامه کې توضیح شوي دي . د شتمنۍ ګټور عمر له له یو کوچني معیاد څخه پیل کیږي چې ترلسو ممکنه معیادونو پورې دوام کوي چې له ۲ کلونو څخه پیل کیږي او تر ۵۰ کلونو پورې دوام کوي.
البته دا امر د شتمنۍ ترډول او تردې چې معمولي او یا چټک استهلاک د تطبیق وړ دي، پورې اړه لري. د عوایدو ریاست له تائید نه وروسته مختلفې دورې کارول کیدای شي.

## لسم ستون- د نورم فیصدي

په دې ستون کې د فیصدي هغه نورم لیکل کیږي چې په نهم ستون کې شامل شوي او د شتمنۍ له ګټور عمر پورې تړاو لري. نورمونه د مالیاتو قانون په تعلیماتنامه کې توضیح شوي دي. د فیصدي نورمونه له ۲٪ نه تر ۵۰٪ پورې د دي. د بیلګې په توګه، د ۵۰ کالو ګټور عمر لپاره ٪ ۲ نورم ټاکل شوي دي. دا هغه نورم دي چې په یوه مالي کال کې د یوې شتمنۍ د ارزښت د کموالي په محاسبه ورڅخه کار اخیستل کیږي.

## یوولسم ستون - د مالیې وړ کارونې فیصدي

د مالیې وړ کارونې فیصدي له هغې فیصدۍ څخه عبارت دې چې له شتمنۍ څخه د مالیاتي موخو لپاره کار اخیستل کیږي. یعنې دا له هغې فیصدي څخه عبارت دي چې د عوایدو په تولید کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. که چیرې د شتمنۍ له یوې برخې څخه په سوداګریزو فعالیتونو او له یوې برخې څخه یې په شخصي فعالیتونو کې کار واخیستل شي ، نو په دې صورت کې یوائې د هغې شتمنس د استهلاک لپاره د مجرائي غوښتنه کیدای شي چې په سوداګریزو فعالیتونوکې کارول کیږي.

## لومړۍ بیلګه

د الف شرکت له تیرو څخه جوړه شوې یوه ودانۍ (تعمیر) لري چې له درې برخو (۷۵٪) څخه یې د یوې فابریکې لپاره کار اخلي او عواید ورڅخه لاس ته راوړي. د ودانې له څلورمې برخې (۲۵٪) څخه د الف شرکت ونډه لروونکي د خپلې کورنۍ د استوګنځي په

توګه کار اخلي. په دې ډول حالت کې یو اځې د ودانۍ **۷۵٪** ( دري برخې ) د مالیې وړ دي او پاتې **۲۵٪** ( یوه برخه ) ئې یې د شخصي ګټو لپاره استفاده کیږي . د هغې برخې لپاره چې د شخصي ګټې اخیستنې لپاره کارول کیږي ، د استهلاک مجرایي نه ورکول کیږي.

## دولسم ستون - د شتمنۍ د ارزښت د کموالي له درکه و کسراتو وضع کول

د شتمنۍ د ارزښت د کموالي له درکه و کسراتو وضع کول په دې کرښه کې لیکل کیږي. دا رقم باید د هرې شتمنۍ لپاره په جلا توګه محاسبه کړل شي.
۱. هغه شتمنۍ چې په ټول کال کې ساتل شوې او ٪ ۱۰۰ ورڅخه استفاده شوې ده، په لاندې ډول محاسبه کیږي:

ابتدایي ارزښت ( دریم ستون) د نورم په فیصدي کې ضرب ( ۱۰ ستون)

۲. که چیرې له شتمنې څخه دمالیې وړ ګټه اخیسنه له ٪۱۰۰ څخه کمه وي، محاسبه یې په لاندې ډول ترسره کیږي:

ارزښت (دریم ستون) د فیصدي په نورم کې ضرب ( ۱۰ ستون ) د مالیې وړ ګټې اخیستنې په فیصدي کې ضرب ( ۱۱ ستون)

که چیرې هغه معیاد چې شتمنۍ په کې دمالیې وړ ګټې اخیستنې لپاره کارول شوې ده له یو بشپړ مالي کال څخه لږ وي، د یادوو شوو شمیرو ( ۱ او ۲ ) اړوند محاسبه باید په داسې بڼه ترسره شي چې دا موده په کې د « قستمتي روش " ( چې په ۱. ۳ الف برخه کې تشریح شوې ده) پربنسټ شامله شي.

په ۱۲ کرښه ( د شتمنۍ د ارزښت د کموالي له درکه و کسراتو وضع کول )کې د شاملو محاسبو مجموعه ددې ستون په پای کې لیکل کیږي. دا رقم د استهلاک لومړي جدول په اړونده کرښه کې هم لیکل کیږي.

## دويمه بيلګه

د الف شرکت په ۱/۱/ ۱۳۸۳ نیټه د ۱۲۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت فرنیچر و پیریدل او په ۳۱/ ۳/ ۱۳۸۹ نیټه یې بیرته په ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ و پلورل. د مالیې وړ استفادې فیصدي ۱۰۰ فیصده رقم ښيي. فرض کوو چې پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د تعلیماتنامې پربنسټ د الف شرکت د استهلاک د ٪ ۱۰
نورم له مخې د فرنیچر لپاره مجرایي ترلاسه کړې ده.

د ۱۳۸۹ کال جدول باید په لاندې ډول بشپړ کړل شي:

| | |
|---|---|
| لومړي ستون | د شتمنۍ تشریح<br>فرنیچر (میزونه) دلته لیکل کیږي |
| دویم ستون | د پیریدولو نیټه<br>په دې ځای کې ۱/ ۱/ ۱۳۸۳ لیکل کیږي |
| دریم ستون | بیه<br>په دې ځای کې ۱۲۰۰۰۰۰<br>افغانۍ لیکل کیږي |
| څلورم ستون | د تغیر وړ لومړي ارزښت |

دا د تغیر وړ نهایي ارزښت په ۱۳۸۸ کال کې اخیستل کیږي.

| | |
|---|---|
| د شتمنۍ لومړني بیه | ۱۲۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| منفي: د ۱۰ فیصده نورم پربنسټ د **۵** کلونو استهلاک | |
| (د ۱۲۰۰۰۰۰ افغانیو ۱۰ فیصده ضرب په **۵** کلونو کې) | ۶۰۰۰۰۰ افغانۍ |
| د ۱۳۸۸ کال په پای کې نهایي ارزښت | ۶۰۰۰۰۰ افغانۍ |

د تغیر وړ لومړني ارزښت د تیرکال د انتقال شوي نهاي ارزښت رقم دي، نو ځکه ۴ ستون د ۶۰۰۰۰۰ افغانیو رقم ښيي.

## د بیلانس تنظیم:

دا چې پلورنه په یوه ځانګړي وخت کې ترسره شوې ده، په جدول کې باید لاندې برخه بشپړه شي:

پنځم ستون: د لیږد (انتقال) نیټه
په دې ځای کې ۳۱ / ۱/ ۱۳۸۹ لیکل کیږي

شپږم ستون د استفادې د پاي ارزښت
لاسته راوړل شوې نغدې پیسې په ځای کې لیکل کیږي چې ۸۰۰۰۰ افغانۍ دي.

اووم - اتم ستون د محاسبې وړ رقم / د کسر رقم
د محاسبې وړ رقم محاسبه په لاندې ډول وي:

د پلور بیه (نهایي ارزښت) ۸۰۰۰۰ افغانۍ
منفي لومړني ارزښت ( په ۱ / ۱ / ۱۳۸۹ نیټه ) ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ
منفي درې میاشتني استهلاک (ځکه چې شتمني په ۱۳۸۹/۳/۳۱ نیټه پلورل شوې ده)
۳۰۰۰۰ افغانۍ
د محاسبې وړ ارزښت ۱۷۰۰۰۰ افغانۍ
په دې حالت کې باید د ۱۷۰۰۰۰ افغانیو رقم په ۷ ستون کې ولیکل شي. که چیرې د محاسبې وړ رقم یو منفي رقم وي، ضرر ښيي چې باید په ۸ ستون ( د کسروړ) کې ولیکل شي.

نهم ستون - ګټور عمر
پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د لارښوونو پربنسټ په دې کرښه کې ۱۰ کاله لیکل کیږي.
لسم ستون- د فیصدي نورم

دا چې د میز لپاره د تطبیق وړ نورم ۱۰ فیصده دي، په دې ستون کې هم باید ۱۰ فیصده ولیکل شي.

یولسم ستون- د مالیې وړ استفاده

دا چې شتمني په تشبث کې په بشپړه توګه کارول شوې ده، په دې ستون کې ۱۰۰ فیصده لیکل کیږي.

دولسم ستون- د ارزښت د کموالي کسر

دا حالت باید په لاندې ډول محاسبه شي:

د شتمنۍ بیه د استهلاک په نورم کې ضرب په ۳/۱۲ کې ضرب (ځکه چې په ۱۳۸۹ کال کې د ۳ میاشتو لپاره کارول شوې ده) د استفادې په فیصدي کې ضرب. پایله یې ۳۰۰۰۰ افغانۍ کیږي (۱۲۰۰۰۰۰ ضرب په ۱۰ فیصده کې ضرب په ۳/۱۲ ضرب په ۱۰۰ فیصده کې)

په دولسم ستون کې د ۳۰۰۰۰ افغانیو رقم لیکل کیږي.

دیارلسم ستون - د کال په پای کې تغیر یا تصحیح وړ ارزښت

د هرې شتمنۍ د هرې برخې تغیر وړ ارزښت د کال په پای کې محاسبه کیږي.

د تغیریا تصحیح وړ ارزښت له تغیر وړ ابتدایي ارزښت (۴ ستون) (منفي د شتمنۍ د ارزښت د کموالي له درکه کسرات - ۱۲ کرښه) څخه عبارت دي. د کال په پای کې دتغیر وړ ارزښت د راتلوونکي کال په پیل کې د تغیر وړ ابتدایي ارزښت ګڼل کیږي.

## دریمه بیلګه

که چیرې په څلورم ستون کې د یوې شتمنۍ ابتدایي ارزښت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ او په ۱۲ کرښه کې د هغې د ارزښت د کموالي له درکه کسر ۴۰۰۰۰ افغانۍ وي، د کال په پای کې به د نوموړې شتمنۍ تغیر وړ ارزښت ۶۰۰۰۰ افغانۍ وي (۴ ستون منفي ۱۲ ستون).

# دوولسمه ضمیمه : د لیږد وړ ضرر د محاسبې سند

۱۲. ۱ الف د محاسبې د سند او د لیږد وړ خالص عملیاتي ضرر پیژندنه

خالص عملیاتي ضرر هغه وخت منځ ته راځي چې د فعالیتونو لګښت له عوایدو څخه زیات وي.

خالص عملیاتي ضرر هغه وخت د مجرایي وړ دي که چیرې تشبث په هماغه کال کې عملیاتي ګټه ترلاسه کړې وي.

د خالص عملیاتي ضرر د لیږد لپاره ( له دې سره چې آیا مالیه ورکوونکي ثبت دي او که نه ) دوه لارې شتون لري. ددې سند له مخې ثبت شوي تشبث هغه تشبث دي چې د خصوصي پانګه اچونې د قانون ( چې د ۱۳۸۴ کال د قوس په ۱۵ نیټه تعدیل شوي دي) پربنسټ د أیسا په اداره کې ثبت او راجستر وي. دا حکم د ۱۳۸۳ لمریز کال د سرطان له لومړۍ نیټې یا له هغې نیټې څخه د تطبیق وړ دي چې تشبث په کې ثبت او راجسترشوي ( هریو یې چې وروسته شوي وي).

له آیسا سره ټول ثبت او راجستر شوي نهادونه ( له لاندې محدودو سکتورونو نه پرته ) د ثبت شوو نهادونوپه نوم یادیږي او د ۱۳۸۷ لمریز کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانو ن پربنسټ تر نا محدوده وخت پورې د ضرر له لیږد او چټک استهلاک څخه تر نا محدوده وخت پورې له شتمنۍ څخه کا د راخیستل کیدا شي.

محدود تشبثونه په لاندې ډول دي:

- د وسلو او چاود دیدونکو موادو تولید او پلور
- د پیسو فعالیتونه ( له بانکي لارې څخه نه)
- د بیمې فعالیتونه
- هغه تشبثونه چې په طبیعي سرچینو ( د ځنګل ساتلو په ګډون) او بنسټیزو فعالیتونو( لکه مخابرات، ساختمان ، پایپ لین) کې یې پانګه اچولې ده مګر دا چې د ځانګړو قوانینو له مخې ورته یاد شوي امتیازات ورکړل شوي وي او یاد شوي تشبثونه د ددغو قوانینو له مخې فعالیت وکړي.

د ثبت شوو نهادونو په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د افغانستان خصوصي پانګه اچونې قانون ته (چې د ۱۳۸۴ کال د قوس په ۱۵ نیټه تعدیل شوي دي) مراجعه وکړۍ. ددې قانون ۵ ماده د ځانګړو سکتورونو په اړه صراحت لري.
د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون ۷ فصل په ځانګړې توګه د بیمه شرکتونو د مالیاتو په اړه صراحت لري. ددې قانون ۱۲ فصل د کانونو د را ایستلو صنعت د مالیه ورکوونکو په اړه مالیاتي مقررات وړاندې کوي.

د عملیاتي ضرر د لیږد په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولولپاره د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون او لارښوود ته مراجعه وکړۍ.

## د نامحدودې مودې لپاره د لیږد وړ ضرر

په یادو شوو طرزالعملونو کې د مالیاتي امتیازونو پربنسټ خالص عملیاتي ضرر( د ضرر تر بشپړ جبران پورې) تریو نا محدوده وخت پورې د لیږد وړ دي.

تر نامحدوده راتلوونکې پورې د هغو منظور شوو تشبثونو( چې مالیاتي معافیت یې د ۱۳۸۳ کال د سرطان له لومړۍ نیټې څخه پاي ته رسیږي) لپاره د ضرر د لیږد امتیاز له همغې نیټې څخه او یا د ثبت او رجسټر له لومړې نیټې ( هره نیټه چې وروستۍ وي) څخه پیل کیږي.

هغه عملیاتي ضرر چې د ۱۳۸۳ کال د سرطان د لومړۍ نیټې او د ثبت او راجسټر د نیټې ترمنځ منځته راځي ، د نامحدود وخت لپاره د لیږد وړ دي. دا ډول ضرر یوازې د ضرر د عادي لیږد میتود( په یو کال کې دریمه برخه) پربنسټ انتقالیداي شي.

هغه عملیاتي ضررونه چې دمالیاتي معافیت په موده منځته راځي د لیږد او مجرایي وړ نه دي.

هغه نهادونه چې د منظور شوو تشبثونو په توګه ثبت او راجسټر شوي دي ، ددوي د شتمنۍ د استهلاک د محاسبې پرمهال چټک استهلاک ترلاسه کولاي شي. په دې اړه د زیاتو معلوماتو د ترسره کولو لپاره ددې مالیاتي لارښوود ۱ او ۲ ضمیمې ته مراجعه وکړۍ.

## د لیږد وړ محدود یا معیاري ضرر

د لیږد وړ محدود یا معیاري ضرر د احکامو پربنسټ شرکتونه کولای شي چې د لیږد وړ عملیاتي ضرر ( دهغې له منځته راتلو څخه وروسته) د درې کلونو په موده کې جبران کړي. یعني په یوه کال کې د ضرر دریمه برخه او په درې راتلوونکو کلونو کې ټول ضرر د مجرایي وړ دي. که چیرې د مالیې وړ عواید شتون ونه لري، کوم ضرر چې باید په یوځانګړي کال کې کسر شي، راتلوونکي کال ته نشي لیږدول کیدای. دا ضرر حذفیږي. هغه عملیاتي ضررونه چې د مالیاتي معافیت په موده کې منځ ته راځي د لیږد او مجرایي وړ نه دي.

د بهرنیو فعالیتونو عملیاتي ضرر له کورنیو مالیې وړ عوایدو څخه د مجرایي وړ نه دي او همدارنګه د کورنیو فعالیتونو ضرر ته د بهرنیو مالیې وړ عوایدو څخه مجرایي نه ورکول کیږي.

### لومړۍ بیلګه

د (ب) افغاني شرکت په افغانستان او پاکستان کې د غالیو د پلور مرکزونه لري چې یو یې د افغانستان د جلال آباد په ښارکې او بل یې د پاکستان د لاهور په ښارکې موقعیت لري. نوموړي شرکت په افغانستان کې غالۍ پیري او د نوموړ مرکزونو له لیارې یې پر پیرودونکو پلوري. په ۱۳۸۸ کال کې د نوموړي شرکت د جلال آباد د مرکز له لیارې ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو معادل عواید ترلاسه کړل ولې د لاهور ښار په مرکز کې رامنځته شوي عملیاتي ضرر یې د ۹۰۰۰۰۰ افغانیو معادل دي. دمالیې له درکه نوموړي شرکت باید ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ (٪ ۲۰ X ۱۰۰۰۰۰۰ ) ورکړي. د نوموړي شرکت د ۹۰۰۰۰۰ افغانیو عملیاتي ضرر لپاره د جلال آباد مرکز له عوایدو څخه مجرایي نه ورکول کیږي.

### دویمه بیلګه

ددې بیلګې حقایق او معلومات لومړۍ بیلګې ته ورته دي. په ۱۳۸۹ کال کې نوموړي شرکت د جلاال آباد په مرکز کې د ۷۰۰۰۰۰ افغانیو معادل تاوان وکړ، ولې د لارهور ښار له مرکز څخه یې ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړه. د لارهور ښار له مرکز څخه

لاسته راغلي ګټه په پاکستان کې د ۳۲۰۰۰۰ افغانیو معادل مالې تابع ده. د لارهور مرکز له لیارې د ۱۳۸۹ کال له ګټې څخه د ۱۳۸۸ کال ضرر مجرایي د انتقال وړ ده. د ضرر له وضع کولو نه وروسته د لیږد وړ خالصه ګټه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ ده. پر عایداتو باندې دمالیاتو قانون د ۵ مادې د حکم پربنسټ افغاني شرکت کولای شي چې په بهرکې د ورکړل شوو مالیاتو لپاره مجرایي ترلاسه کړي، البته یو محدودیت سره. دا محدودیت د مالیې له هغه رقم سره مساوي دي که چیرې ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ ګټه له افغاني سرچینو څخه لاسته راغې وي ، دا مالیه په افغانستان کې ورکړې وړه وه ( ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ). د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو له وضع نه وروسته پاتې رقم له ۳۲۰۰۰۰ افغانۍ ( په پاکستان کې ورکړل شوې مالیه) دورکړل شوې مالیې په توګه د مجرایي وړ نه دي او راتلوونکي ته هم د ضرر په توګه نشي لیږدول کیدای.

د یو مالي کال په اوږدو کې د ضرر ( هغه رقم چې د مالیاتي اظهارلیک د دویمې برخې په ۲۰ کرښه کې لیکل شوي دي) د ثابتولو په موخه مالیه ورکوونکي باید موثق اسناد وړاندې کړل شي. د لیږد وړ ضرر د محاسبې لپاره یو جلا پاڼه /سند شتون لري چې دوه برخې لري: لومړې برخه یې د نامحدود وخت لپاره د ضرر د لیږد او دویمه برخه یې د لیږد وړ محدود یا معیاري ضرر لپاره کارول کیږي. د نوموړې پاڼې /سند د مختلفو برخو بشپړول د یو نهاد له ثبت او جسټر، د لومړۍ ثبت او راجسټر نیټې او له مالیاتي معافیت پورې تړلي دي.

مالیه ورکوونکي باید له ټولو نورو اسنادو سره سره د لیږد وړ ضرر د محاسبې اسناد له ځان سره وساتي او د اړتیا په صورت کې یې د عوایدو لوي ریاست ته وړاندې کړي. مالیه ورکوونکي مکلف نه دي چې دا اسناد/ورقې له مالیاتي اظهارلیک سره ضمیمه کړي.

د لیږد وړ ضرر د محاسبې سند/پاڼه په ۱۴ ضمیمه ( جدولونه او پاڼې) کې شتون لري.

## ۱۲. ۲. د لیږد وړ ضرر د محاسبې د سند/پاڼې په اړه توضیحات

## ۱ کرښه - د ثبت او راجسټرشوي نهاد په اړه پوښتنه

آیا تاسو د آیسا په اداره کې (د کورنیو او بهرنیو خصوصي پانګه اچونې د قانون له مخې) د منظور شوي او راجسټرشوي نهاد په توګه پیژندل کیږی؟ که چیرې مو ځواب مثبت وي ، نو په خړ رنګه تش ځاي کې د « هو " کلمه ولیکۍ. که چیرې تاسو یو ثبت شوي نهاد نه یاست، نو په خړ رنګه تش ځاي کې د " نه " کلمه ولیکۍ.

## ۲ کرښه - د آیسا په اداره کې د ثبت او راجسټریشن لومړۍ نیټه

که چیرې د لومړۍ کرښې پوښتنې ته ځواب مثبت وي، ددې کرښې په خړرنګه تش ځاي کې د لومړي ثبت او راجسټریشن نیټه لیکل کیږي. د یوه ځانګړي کال له ضرر سره د چلند په اړوند د لومړي ځل ثبت او راجسټریشن نیټه ډیر ه مهمه ده. هغه ضرر چې له لومړني ثبت او راجسټریشن څخه وړاندې منځته راغلي دي، د لیږد وړ محدود یا معیاري ضرر د مقرراتو پربنسټ محاسبه کیږي (له هغو حالاتو نه پرته چې مالیه ورکوونکي مالیاتي معافیت لري). یوازې هغه ضرر ته د نامحدود وخت لپاره د ضرر د لیږد د مقرراتو پربنسټ محاسبه او مجرایي ورکول کیږي چې د لومړني ثبت او راجسټریشن له نیټې څخه وروسته منځته راځي.

## ومړۍ برخه : دمعیاري لیږد وړ ضرر

## لومړي ستون - د ضرر کال

## هغه کال په دې ځاي کې ولیکۍ چې ضرر په کې رامنځته شوي دي.

دویم ستون - مجموعي ضرر

ټول هغه ضرر چې د کال په اوږدوکې ورسره مخ شوي یاست په دې ستون کې ولیکۍ. که چیرې ګټه ترلاسه شوې وي، په دې ستون کې څه نه لیکل کیږي (تش پریښودل کیږي).

دریم ستون - د ضرر د لیږد کلونه

په دویمه کرښه کې د لیکل شوي رقم دریمه برخه په هر سپین رنګه ستون کې لیکل کیږي.
دهغه ضرر حد اکثر مقدار چې له ګټې څخه د مجرایي وړ دي

دا رقم (د ۳- ۷ کرښو مجموعه) د هرکال لپاره دي چې د ستون په صدر کې لیکل شوي دي.

د لومړۍ برخې (د ضرر لیږد) د بشپړولو ساده طریقه په لاندې ډول ده

## لومړۍ بیلګه

## د (الف) شرکت عملیاتي پایلې په لاندې ډول بیان شوې دي:

| د ضرر کال | د ضرر مجموعه | هغه کلونه چې ضرر ورته لیږدول کږي | | |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ |
| ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | | | |
| ۱۳۸۲ | ۱۲۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ |
| ۱۳۸۳ | ۱۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| په هرکال کې حد اکثر مجرایي | ۴۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |

په دې بیلګه کې د (الف) شرکت کولای شي چې د ۱۳۸۴ کال له عوایدو څخه د مجرایي وړ ضرر د رقم د معلومولو لپاره د ۱۳۸۲ ا و ۱۳۸۳ کلونو د لیږد وړ ضررونه سره جمع کړي. که چیرې نوموړي شرکت په ۱۳۸۴ کال کې ضرر لاسته راوړي ، د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو ضررونو لپاره په ۱۳۸۴ کال کې غوښتنه نشي کیدای.

د بیلګې په توګه که چیرې د (الف) شرکت په ۱۳۸۴ کال کې ۲۰۰۰۰ افغانیو معادل ګټه لاسته راوړي، د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو د لیږد وړ ۲۰۰۰۰ افغانیو ضرر د

مجرايي وړ دي. د ليږد وړ ضرر (۷۰۰۰۰ افغانۍ) په راتلوونکو کلونو کې د مجرايي وړ نه دي.

دويمه برخه: د نامحدود وخت لپاره د ليږد وړ ضرر
لومړي ستون - کال

په دې ستون کې هغه کال ليکل کيږي چې عملياتي ضرر په کې را منځته شوي دي

دويم ستون: ګټه/ د کال ضرر

په لومړي ستون کې د ليکل شوې ګټې يا ضرر رقم په دې ستون کې ليکل کيږي.

دريم ستون: د کال په پيل کې ضرر

دا د تير کال (د کال د پاي) د ضرر بيلانس دي. که چيرې د **۱۳۸۹** کال په پيل کې د ضرر رقم وليکل شي، دا رقم د **۱۳۸۸** کال د پاي رقم دي. که چيرې له **۱۳۸۴** کال څخه پيل شي (ځکه چې په دې کال شرکت د آيسا په اداره کې ثتب شوي دي)، د **۱۳۸۴** کال د پيل ضرر به صفر وي.

څلورم ستون: تعديلات

دا هماغه رقم دي چې د ګټې او ضرر په توګه په دويم ستون کې ليکل شوي دي. ضرر بايد په دوه قوسونو کې وليکل شي.

پنځم ستون: د ضرر نهايي بيلانس

**۳** او **۴** ستونونه سره جمع کړی، او د حاصل يې په **۵** ستون کې وليکی. که چيرې **۵** ستون مثتب رقم ولري، په دې معامله کې د **۵** ستون ارزښت صفر دي.

په هر کال کې د نهايي ضرر بيلانس هغه ضرر دي چې وروستي کال ته ليږدول کيږي.
څلورمه بيلګه

که چیرې د یو شرکت نهایي بیلانس د ۱۳۸۸ کال لپاره ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د ضرر په توګه وښیي، دا حد اکثر رقم دي چې د ۱۳۸۹ کال له ګټې څخه د مجرایي وړ دي. که چیرې په ۱۳۸۹ کال ۱۱۰۰۰۰ افغانۍ ګټه ولري، په دې صورت کې د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو رقم له ۱۱۰۰۰۰ افغانیو څخه کسر کیږي او پاتې رقم (۱۰۰۰۰) افغانۍ د مالیې وړ عوایدو په توګه پاتې کیږي. بناً، د ۱۳۸۹ کال په پای کې د ضرر نهای بیلانس د رقم د مثبت والي په وجه صفر دي- ۳ ستون جمع ۴ ستون یعنې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ + ۱۱۰۰۰۰ افغانۍ یا ۱۰۰۰۰ فغانۍ. په دې حالت کې به ۱۳۹۰ کال ته لیږدول شوي ضرر صفر وي.

## پنځمه بیلګه

د (ج) شرکت په ۱۳۸۳ کال کې له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو عملیاتي ضرر سره مخ کیږي. په ۱۳۸۴ کال کې د نوموړي شرکت ګټه ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ وي. د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو په وخت ، د (ج) شرکت د ۱۳۸۳ کال عملیاتي ضرر (۱۰۰۰۰۰ افغانۍ) د ۱۳۸۴ کال له عملیاتي ګټې څخه کسر کوي او ۵۰۰۰۰ افغانۍ د مالیې وړ عوایدو په توګه پاې کیږي.

که چیرې د (ج) شرکت په ۱۳۸۴ کال له ضرر سره مخ شي، په ۱۳۸۴ کال کې د ۱۳۸۳ کال د ضرر جبران کول شونې نه ده ځکه چې عملیاتي ګټه شتنه چې ضرر ته ورڅخه مجرایي ورکول شي. په داسې حالاتو کې د ۱۳۸۳ کال عملیاتي ضرر هغو راتلوونکو کلونو ته لیږدول کیداې شي چې د جیران لپاره یې عملیاتي ګټه ولري . د ۱۳۸۴ کال ضرر هم د لیږد وړ دي.

## شپږمه بیلګه

په ۱۳۸۳ کال کې ، (د) شرکت له ۱۰۰۰۰۰ افغانیو عملیاتي ضرر سره مخ شو. په ۱۳۸۴ کال کې د نوموړي شرکت عملیاتي ګټه ۵۰۰۰۰ افغانیو ته رسیږي. د (د) شرکت کولاي شي چې د ۱۳۸۳ کال د ضرر (۵۰۰۰۰ افغانۍ) لپاره مجرایي ترلاسه کړي. په همدې ترتیب د ۱۳۸۳ کال ضرر (۵۰۰۰۰ افغانۍ) ورستیو کلونو ته د لیږد او مجرایي په موخه باقي پاتې کیږي.

په ۱۳۸۵ کال کې د (د)شرکت ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ عملیاتي ګټه ترلاسه کړه. په دې حالت کې نوموړي شرکت کولاي شي چې د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کول پرمهال

د ۱۳۸۳ مالیاتي کال عملیاتي ضرر (۵۰۰۰۰ افغانۍ) د ۱۳۸۵ کال له عملیاتي ګټې سره جبران کړي.
که چیرې د (د) شرکت په ۱۳۸۵ کال کې له عمالیاتي ضرر سره مخ شوي وي، د ۱۳۸۳ کال ضر په ۱۳۸۵ کال کې نشي جبران کیداي. د ۱۳۸۳ کال ضرر د راتلوونکو کلونو له ګټو څخه د مجرايي او جبران په موخه لیږدول کیږي. د ۱۳۸۵ کال عملیاتي ضرر هم راتلوونکو کلونو ته لیږدول کیداي شي.

## دیارلسمه ضمیمه: دجریمې د محاسبې جدول

### ۱.۱۳ سریزه

د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پربنسټ ، دلاندې حالاتو په ګډون، جریمه په ګڼ شمیر مواردو کې پلې کیږي:

۱. په ټاکلي وخت د ذمت مالیې نه ورکول (۱۰۰ ماده)
۲. د سوداګریزو معلوماتو په اړه د اسنادو نه ساتل او دغو اسنادو ته د نه لاس رسي په اړه اجراات نه کول (۱۰۱ ماده)
۳. د مالیاتي اظهارلیک نه وړاندې کول (۱۰۲ ماده)
۴. د مالیاتو نه وضع کول (۱۰۳)
۵. د مالیاتو نه ورکول (۱۰۴ ماده)
۶. د مالیه ورکوونکي د پیژندې د نمبر نه ترلاسه کول (۱۰۵ ماده)

د مالیه ورکوونکي لخوا د خپل ځاني سنجونې په اړه په مالیاتي اظهارلیک کې دوه جریمې شاملې دي. دا جریمې د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۱۰۰ او ۱۰۲ مادې پربنسټ پلې کیږي.

د خپل ځاني سنجونې جریمې په دویمه برخه (د ورکړې وړ مالیاتو محاسبه) او دهغو مجموعي ورکړو په مجموعه کې شاملیږي چې په بانک کې تحولیږي.

د مالیاتي اظهارلیک دا برخه د لاندې جریمو د سنجونې لپاره کارول کیږي:

- په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک نه وړاندې کول (۱۰۲ ماده)

- په ټاکلي وخت د مالیاتو نه ورکول ( ۱۰۰ ماده)

نورې جریمې د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون پربنسټ د عوایدو لوی ریاست لخوا ټاکل او سنجول کیږي ولو که جریمې د ۱۰۰ او ۱۰۲ مادې پربنسټ هم سنجول شوې وي.

## ۱۳. ۲ د جریمې د محاسبې جدول تشریح

### ۱۳. ۲. ۱. د جریمې محاسبه - د مالیاتي اظهارلیک نه وړاندې کول ( ۱۰۲ ماده)

که چیرې مو د مالیاتي کال په پای کې مالیاتي اظهارلیک د جوزا له ۳۱ نیټې نه وروسته وړاندې کړې وي، د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۱۰۲ مادې پربنسټ تاسو مکلف یې چې په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولو له امله جریمه وسنجوې او تادیه یې کړې. که چیرې په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولو لپاره مناسب او د منلو وړ دلیل ونه لرئ، تاسو مکلف یاست چې جریمه ورکړئ.

که چیرې مو د مالیاتي کال په پای کې مالیاتي اظهارلیک د جوزا په ۳۱ نیټه وړاندې کړې وي، تاسو د جریمې تابع نه ګرځئ.

د جریمې رقم د هغو ورځو ( منفي د رخصتۍ ورځې ) له شمیر پورې تړلې دي چې اظهارلیک په کې نه دي وړاندې شوي. د ۱۳۸۲ کال لپاره او یا هم تردې دمخه د هرې ورځې پر سر پر سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو جریمه ۱۰۰۰ افغانۍ ده. اما له ۱۳۸۷ کال نه را پدیخوا د یوې ورځې وروستو والي جریمه ۵۰۰ افغانۍ ده.

مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولو له امله په ځانګړو حالاتو کې لوړې/زیاتې جریمې جریمې وضع کیږي.

**۱۰ کرښه - د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو ټاکلې نیټه**
د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو وروستۍ نیټه له مالیاتي کال نه وروسته د راتلوونکي کال د جوزا میاشتې ۳۱ ورځ ده. په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولو جریمه له همدې نیټې نه وروسته د پلې کیدو وړ ده.

۲۰ کرښه - د مالیاتي اظهار لیک د وړاندې کولو نېټه

هغه نېټه په دې کرښه کې لیکل کیږي چې مالیاتي اظهارلیک پکې وړاندې کړل شوي دي. که چیرې دا نیټې د جوزا له ۳۱ نیټې نه وروسته وي ، تاسو د جریمې تابع یاست مګر دا چې د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولولپاره قانع کوونکي دلایل ولرئ.

## لومړۍ بیلګه

د «الف » شرکت مکلف دي چې د ۱۳۸۸ کال لپاره خپل کلني مالیاتي اظهارلیک د ۱۳۸۹ کال د جوزا تر ۳۱ نیټې پورې وړاندې کړي. نوموړي شرکت د ۱۳۸۸ کال مالیاتي اظهارلیک د ۱۳۸۹ کال د سرطان تر ۱۰ نیټې پورې نه وړاندې کوي ( یعنې له ټاکلي نیټې څخه ۱۰ ورځې وروسته). کله چې د عوایدو لوی ریاست ورڅخه د معلوماتو غوښتنه کوي، شرکت ورته ځواب ورکوي دصورت حساب په بشپړولو کې يې ستونزه درلوده. دا چې دا یو مناسب او قانع کوونکي دلیل نشي کیدای، د «الف» شرکت مکلف دي چې په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو له درکه ۵۰۰۰ افغانۍ ( ۵۰۰۰ ضرب په ۱۰ کې) جریمه ورکړي.

## دویمه بیلګه

د «ب» افغان سهامي شرکت مکلف دي چې د ۱۳۸۸ کال مالیاتي اظهارلیک د ۱۳۸۹ کال د جوزا تر ۳۱ نیټې پورې وړاندې کړي، ولې دا شرکت د ۱۳۹۰ کال د حمل تر لومړۍ نیټې پورې نه وړاندې کوي. د شرکت په دفتر کې د اورلګیدو او د اسنادو دسوزیدو له امله يې ونشو کړاي چې مالیاتي اظهارلیک په ټاکلي وخت وړاندې کړي. د دفتر له بیا رغاونې څخه سملاسي وروسته نوموړي شرکت خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې کوي. دا چې یاد شوي شرکت په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک د نه وړاندې کولو لپاره قانع کوونکي دلایل لري، نوموړي د جریمې تابع نه ګرځي.

۳۰ کرښه - د اظهارلیک د وړاندې کولو له وروستې نیټې څخه د ۱۳۸۷ کال د حوت تر ۳۰ ورځې پورې د ورځو شمیر.

که چیرې د ۱۳۸۲ کال او یا تردې دمخه د نورو کلونو مالیاتي اظهارلیک وړاندې

کوی، د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو له کال نه وروسته د جوزا تر ۳۰ ورځې پورې د ورځو شمیر په دې کرښه کې ولیکی. د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو ورځ هم په دې ورځو کې شاملیږي.

د ۱۳۸۷ کال اظهارلیک د بشپړولو پرمهال دا کرښه تشه پریږدی.

دریمه بیلګه

د لومړۍ بیلګې د معلوماتو پربنسټ:

د (الف) شرکت د ۵ برخې په ۳۰ کرښه کې د ۱۰ رقم لیکي.

۴۰ کرښه - د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو د ورستۍ نیټې او د ۱۳۸۷ کال د کب (حوت) د ۳۰ ورځې ترمنځ د رخصتي ورځو شمیر

د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو د ورستۍ نیټې او د ۱۳۸۷ کال د کب (حوت) د ۳۰ ورځې ترمنځ د رسمي رخصتیو ورځې محاسبه او په دې کرښه کې یې ولیکی.

۵۰ کرښه: د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کولو د ورستۍ نیټې او د ۱۳۸۷ کال د کب (حوت) د ۳۰ ورځې ترمنځ د جریمې تابع ورځو شمیر

د جریمې د ورځو شمیر په لاندې ډول محاسبه کیږي او پایله یې په ۵۰ کرښه کې لیکل کیږي: په ۴۰ کرښه کې د لیکل شوو رخصتي ورځو شمیر منفي په ۳۰ کرښه کې د هغو ورځو شمیر چې د مالیې ورکړه په کې وروسته شوې ده.

ځلورمه بیلګه

د لومړۍ بیلګې له معلوماتو څخه په کار اخیستنې سره داسې وګڼئ /فرض کړی چې په څنډه شوو لسو ورځو کې یوه ورځ رسمي رخصتي وه. د (الف) شرکت خپل مالیاتي اظهارلیک په لاندې ډول بشپړوي:

د هغو ورځو شمیر چې د مالیې ورکړه پکې ځنډول شوې ده (۳۰کرښه) ۱۰
د رخصتي ورځو شمیر(۴۰کرښه) ۱
د جریمې تابع ورځو شمیر(۵۰ کرښه) ۹

## ۶۰ کرښه - د جریمې رقم

د جریمې رقم په لاندې ډول محاسبه کړئ: ۵۰ کرښه ( د جریمې تابع ورځې ) ضرب ۱۰۰ افغانۍ.

۷۰ کرښه - په ۱۳۸۸ کال او وروستیو کلونو کې پرعایداتو باندې د مالیاتو اظهارلیک د وړاندې کولو په اړه دهغو ورځو شمیر چې اظهارلیک په کې ځنډیدلي دي.

په ۱۳۸۸ کال او وروستیو کلونو کې د مالیاتو اظهارلیک د ځنډ ورځو شمیر په دې کرښه کې ولیکئ.

## پنځمه بیلګه

یو مالیه ورکوونکي د ۱۳۸۶ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو اظهارلیک د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي په ۳۱ نیټه وړاندې کوي. د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي د ۳۱ نیټې او ددې کال د کب د ۳۰ نیټې ترمنځ توپیر باید په ۳۰ کرښه کې ولیکل شي.

د ۱۳۸۸ کال د وري د لومړې نیټې او ددې کال د غبرګولي د ۳۱ نیټې ترمنځ توپیر باید په ۷۰ کرښه کې ولیکل شي.

۸۰ کرښه - په ۱۳۸۸ کال کې درخصتي ورځوشمیر یا هغه موده چې د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول پکې ځنډول شوي دي.

په ۱۳۸۸ کال او وروستیو کلونو کې د هغو رسمي رخصتیو ورځې چې د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول پکې ځنډول شوي دي محاسبه کیږي او حاصل یې په دې کرښه کې لیکل کیږي.

شپږمه بیلگه
د پورتنۍ بیلګې د توضیحاتو پربنسټ، د ۱۳۸۸ کال د وري د لومړۍ نیټې او د ددې کال د کب تر ۳۱ نیټې ترمنځ د رسمي رخصتیو شمیر په دې کربنه کې لیکل کیږي.

## ۹۰ کربنه - د جریمې تابع ورځې

د جریمې تابع ورځې په لاندې ډول محاسبه کیږي او حاصل یې په دې کربنه کې لیکل کیږي: په ۸۰ کربنه کې د رخصتۍ ورځو شمیر منفي د هغو ورځو شمیرچې په ۷۰ کربنه کې لیکل شوي دي.
۱۰۰ کربنه - د جریمې رقم

د جریمې رقم په لاندې ډول محاسبه کیږي : ۹۰ کربنه ( د جریمې تابع ورځې) ضرب په ۵۰۰ افغانیو کې .

## ۱۱۰ کربنه- د جریمې مجموعي رقم

۲۰ او ۱۰۰ کربنه سره جمع کیږي او مجموعي رقم یې په لاندې کربنو کې لیکل کیږي:

- په دې مخ کې ۱۱۰ کربنه
- په دویمه برخه ( د ورکړې وړ مالیې محاسبه ) کې ۸۰ کربنه ( د اظهارلیک نه وړاندې کول - په خپله د مالیه ورکوونکي لخوا سنجول شوې جریمه)

## ۱۳. ۳. ۲. د جریمې محاسبه - په ټاکلي وخت د ورکړې وړ مالیې ورکړه ( ۱۰۰ ماده)

که چیرې تاسو په مالیاتي اظهارلیک لیکل شوې محاسبه شوې مالیه د راتلوونکي مالیاتي کال د غبرګولي په ۳۱ نیټه ورنه کړې، تاسو مکلف یاست چې په ټاکلي وخت د مالیه د نه ورکړې له امله جریمه محاسبه کړې.
په ټاکلي وخت د مالیاتي اظهارلیک له وړاندې کولو سره سره دا جریمه د تطبیق وړ ده.
د جریمې رقم د هغو ورځو پربنسټ محاسبه کیږي چې مالیه پکې ځنډول شوې ده. د ناورکړل شوي مجموعي رقم ( پرعایداتو باندې د مالیاتو او د انتفاعي معاملو ود

